اووم کال دویمه ګڼه، پرلپسې ۴۰ ګڼه،شعبان المعظم –رمضان المبارک ۱۴۳۴هق، جولای ۲۰۱۳ م

شهامت

دنړیکمرغه کوچني اختردارسېدو په مناسبت دعالیقدر امیرالمؤمنین پیغام

نړیوال !دې دافغانستان دننه ځرګند او رانه واقعیتونه درک کړي ! !

اخترکې دمبارکۍ (تهنئه) شرعي حیثیت!

دمیډیاتود ډګر او اسلامي نړۍ.....

په مصر کې دمحمد مرسي دولت ولې اوځنګه رنګ شو؟

بخاطرپایان دادن به جنگ در افغانستان آمریکا فقط یک گزینه در اختیار دارد

دپکتیا ولایت له جهادي مسؤل سره مرکه

دمنځني ختیځ په اړه دامریکا اوېدمهاله ستراتیژي

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اووم کال دویمه گڼه، پرلپسې 40 گڼه، شعبان المعظم–رمضان المبارک 1434هق، جولای 2013م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد ''حقاني '' لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه 20 افغانۍ او 30
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

زرملوال او حقمل

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو
مسؤلیت په غاړه نه اخلي

لړلیک

ګڼه	عنوان	مخ
1	سرلیکنه	1
2	دعالیقدر امیرالمؤمن دمبارکی پیغام	3
3	اختر کې دمبارکی (تهنئه) شرعي حیثیت	7
4	دمنځنۍ ختیځ په اړه دامریکااوږدمهاله استراتیجي......	17
5	بخاطر پایان دادن به جنگ درافغانستان امریکا فقط......	21
6	دپکتیاولایت له جهادي مسؤل سره مرکه	23
7	دمیډیا تودډګر او اسلامي نړۍ........................	28
8	داسلام اوسیکولرزم ټکر................................	30
9	دفقې تاریخ..	32
10	په مصر کې دمحمدمرسی حکومت ولې اوځنګه ړنګ شو..	36
11	دساروان کلا جنګ....................................	41
12	ګلورینې پاڼې	44
13	دچارواکو په انتخاب کې دحضرت عمر رض معیار........	46
14	دحسن روحاني بریالیتوب اوپروراندې یې ننګونې	50
15	اسلامي هیوادو کې داسلامیت او مغربیت ترمنځ..........	55
16	دټولو دیني مدارسو لپاره یو تعلیمي نصاب..............	59
17	دمجلې ژورنالزم...	63
18	سرداره غازي..	65
19	جنګهای صلیبی..	67
20	سی آی ای هم خپله بستره ټوله	70
21	دمصر پوځي کودتا اوهلته دروان قتل عام ترشادچا.......	72
22	پارلمان یک اداره طاغوتي ممثل دیمکراسي	74
23	دکمکي اختر سره خواله..............................	78
24	آیا راستي هم زندګی کرزی درخطر قراردارد ؟..........	79
25	دښاغلي مولوی عبدالبصیر همت لنډ ژوندلیک او	81
26	لوګر	84
27	دشهامت دار الافتاء	88

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمان الرحیم !!

نړیوال ! دې دافغانستان دننه ځرګند اوراڼه واقعیتونه درک کړي !!

له شک پرته روان جنګ امریکا اوناټو بایللی !! اواوس دخپلو وحشت پالو ځواکونو دانخلاء لپاره د مصؤنیت اوډاډ په فکر کې لالهاند اوسرګردان دي !

دنړۍ خپلواک سیاسي اوپوځي کتونکي په دې اتفاق لري: که امریکا افغانستان ته له نړۍ دټولو هېوادو پوځونه اولښکرې راولي بیا به هم پرې دزوال اوشکست را الوتي سېلۍ ونه ګرځي او شکست به یې په بري بدل نکړي.

دغه وجه ده چې دامریکا دننه هم دامریکایې وګړوډېره لویه سلنه په دې پوهیدلي چې دروان جنګ نور غځول دامریکا لپاره دمال اوځان بربادولو پرته کومه بله لاسته راوړنه نلري او په عاجلانه توګه وتل یې په خیر اوګټه بولي.

هغه مهال چې امریکا دخپل مغرور ځواک په دبدبه اودنړۍ د۴۷ هېوادو دسیاسي ،اقتصادي اوپوځي ځواک په بدرګه زمونږ په غریب هېواد دیرغل تابیا نیوله ،د نړۍ په لوی شمېر هوښیارو خلکو دافغان باتور قوم تاریخ او ملي اقداروته په پام پوخ باور درلود چې دامریکا لپاره دغه ظالمانه تیری به په ډېره ګرانه بیه پریوزي اویوه نه یوه ورځ به خامخا پخپله تیروتنه اوناکامۍ داعتراف ترڅنګ ټیټ سر دخپلو عسکرو بیرته ویستلوته اړ کېږي.

دتیرو دولسو کلونو خونړي شالید ته په کتو رښتیا هم دامریکا لپاره د دغه ظالمانه تیري اقدام له دې پلوه ډېر ګران تمام شو چې ورته بې شمېره اونه جبرانیدونکې زیانونه واوښتل په لسهاوو زره عسکر یې مړه اوټپیان شول ،په لومړي ځل یې اقتصاد دتاریخ ترټولو لوېې خساري اورکود ځپو وواهه اوپه لسګونو زره نورپوځیان یې دجنګ په ډګر کې په داسي بزدلانه روحیه کلابند پاتي دي چې له وړاندې یې خپلې بستري تړلي اوپه مصؤنه توګه دتیښتي چانس په لټه کې دي.

او جوته ده چې پر افغانستان دامریکایې ښکېلاک لخوا دظالمانه یرغل موخه دافغانستان په ګډون دټولې سیمې اومنطقې د هېوادو ګوابښل اوله نیږدې نه دهغوئ دکړووړو دوامدارځاروه ، خو دافغان ولس دلازواله قربانیوپه مټ دامریکا په دغو جنوني ارادو خاورې امبارشوې اودتل لپاره دافغانستان په ګډون ټوله سیمه یې له شره وژغورله اداکومه پټه اوپناه خبره نده بلکې روښانه ده چې په افغانستان اومنطقه کې اوسنۍ ټولې ناخوالې اوناودودې دامریکا یانو دنامشروع پوځې موجودیت زیږنده دي چې خلکوته یې خپلوهېوادونه سور تنور ګرځولي.

داچې له نیکه مرغه امریکا په ټوله معنی شکست خوړلی اوروانه جګړه یې بایللې ، د هیڅ هېواد اوځواک له لورې لاس نیوی به یې د دغه وژونکې ګرداب له ځپو بیرون نکړای شي.

نو ! په دې لړ کې ټولو مغرضو اوغیر مغرضو خواو ته محتاط اوسیدل غوره دي ،باید هغوئ دهرداسې ګام له پورته کولو جدآ ډډه وکړي چې هغه دافغان مؤمن ولس تیرو دولس کلنو ارمانونو اوهیلوته دټکا ن ورکولولامل ګرځي.هر هغه لوری چې غواړي دافغاني قضیې په حلولو کې بیطرفه مثبت رول یا کردار ولوبوي ، هغوئ باید دمتقابل احترام په ذهنیت اودمنصفانه سوچ په روحیه راوړاندې شي ، دجعل ،تزویر او منافقانه چلند دې نورپای ته ورسوي اودافغانستان دننه ځرګندو واقعیتونوته په پام روش غوره کړي.

څنګه چې دافغانستان داسلامي امارت دافغان ولس دديني اوملي ارزښتونو ممثل دی، له خوښې اورضایت پرته یې هیڅوک نشي کولی بهرنیو عسکرو ته په مصؤنه توګه دوتلو فرصت په لاس ورکړي ،تاریخ په دې شاهددی چې افغان ولس ددغسې موضوعاتوپه اړه تل ډېرحساس اوبیدار دی ،هیڅکله یې چاته اجازه نده ورکړې چې وربانديې خپلې ارادې اوغوښتنې تحمیل کړي ،خپلواکو افغانانو نه وړاندې بهرنې شوم پلانونه اوجریانونه داعتناء وړګڼلې اونه په راتلونکې کې داسې شونې ده ! ښه داده چې امریکا اونورې ذي علاقه خواوې د جعل اوتزویر په ځای دستونزې دحل په واقعبینانه لارو چارو غور وکړي اوله زړو نه دې ټول دافغانستان دننه روښانه اوراڼه واقعیتونه درک کړي !

دنیکمرغه کوچني اختردرارسیدو په مناسبت

حفظه الله تعالی

دعالیقدر امیرالمؤمنین دمبارکې پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم. الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سیئات أعمالنا، من یهده الله فلا مضل له، ومن یضلل فلا هادی له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریک له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله

أمابعد فأعوذ باالله من الشیطن الرجیم (وَعَدَ اللَّهُ الَّذِینَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (۵۵) النور

د افغانستان مجاهد ولس او ټول اسلامي امت ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

داچې د رمضان المبارک دمیاشتې د روژې ستره فریضه مو پرځای کړه، او د نیکمرغه کوچني اختر په ورځو شپو کې یاست، ټولو ته د دې ستر سعادت او خوښۍ مبارکي وایم ، الله تعالی دې د ټولو مسلمانانو جهاد، صیام ، قیام او صدقات قبول کړي، او د سعادت ژوند او کامیابي مو نصیب شه .

داچې سږ کال یو ځل بیا د حق د سنګر اتلو مجاهدینو د الله تعالی په مرسته د جهاد په ډګر کې په خپلو بیسارو قربانیو، فداکاریو او هلو ځلو سترې فتحې ترلاسه کړې، او اشغالګر یې عملا په بې سابقې ډول تیښتې ته اړ کړي، د دې سترو فتوحاتو مبارکي افغان مجاهد ولس او ټول مظلوم امت ته وړاندې کوم، او له خپل افغان مجاهد او په خپلواکۍ مین ولس نه ډېره مننه کوم چې د اشغالګرو په وړاندې یې د مجاهدینو هر اړخیز ملاتړ ته دوام ور کړی، او هیله لرم چې په دې لاره کې له مجاهدینو سره اوږه په اوږه د خپلواکۍ په لاره کې خپلې مرستې نورې هم ګړندۍ کړي، لاس په دعا یم چې الله تعالی دې نور په افغانستان او ټوله نړۍ کې د مسلمانانو کړاوونه او مظلومیت پای ته ورسوي خصوصا د سوریې او مصر مظلومو او مؤمنو ولسونو ته دې الله جل جلاله نجات ور کړي، هغوی چې ټوله روژه یې تږوهلو، وږلو، نیولو او شکنجو لاندې په میدانونو، زندانونو او رو غتونونو کې تیره کړه، الله جل جلاله دې مرستندوی شي، الله تعالی دې سرلوړي او ښه تدبیر ور په برخه کړي، او الله تعالی دې ټول مسلمانان د دښمنانو له پېښو او ښکاره دسیسو نه وساتي ،الله رب العزت دې د مؤمنو زخمیانو شفا نصیب کړي او بندیانو ته دې په خپل فضل او کرم سره د خلاصون اسباب برابر کړي .

درنو هیوادوالو !

په افغانستان کې روان جهاد خورا په بریالیتوب سره پرمخ درومي، د خالدبن ولید رضی الله عنه تر نامه لاندې د سرلیو مبارکو عملیاتو په لړ کې د هیواد خورا زیاتې سیمې د اشغالګرو غاصبانو له قبضې آزادې شوې دي، د هیواد په مختلفو سیمو کې د دښمن هغه مراکز فتحه شوي، چې تر دې وړاندې نه فتحه کېدونکي بلل کېدل، د دښمن پوځي ځواک، مورال، غرور او دبدبه د الله تعالی په مرسته ښه کلکه ځپل شوې! او نور د ماتېدو په درشل کې دي، الله تبارک

وتعالى فرمايي: سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ . القمر ۴۵ (زر ده چې دغه ډله شکست وخوري ، او شاوې واړوي)

بله دخوښۍ خبره داده چې دافغانستان په ټولو ولايتونو کې مجاهدين تريوه قيادت اويوه بيرغ لاندې دوروڼو غونډې ددښمن په خلاف مبارزه کوي. جهادي خوځښت دهرې ورځې په تېرېدو نور هم غښتلی کيږي، پـه پـوځي ډګـر سربيره پـه سياسـي، فرهنګـي، دعوتي ،اداري او اقتصـادي ډګرونو کې مجاهـدين لازيـاتې نـوې کاري تجربې او برياوې ترلاسه کوي. دجهادي صف دننه داصلاح، اخلاص، همکارۍ او اطاعت روحيه نوره هم قوي کيږي .

مؤمنو هيوادوالو او مجاهدينو وروڼو !

تاسو پوهيږئ چې همدااوس زموږ هيواد له ډېر حساس پړاو څخه تيريږي، په تيرو دولسو کلونو کې خپل شوی دښمن نوې دسيسې اوپلانونه په کار اچوي، موږ يې دسيسو ته متوجه يو او په دې خبره باور لرو چې يوازې يو اسلامي، عادلانه، خپلواک او افغان شموله نظام کولای شي، زموږ دهيوادوالو دنيکمرغۍ او هوساينې سبب شي، موږ به دخپل ولس په ملاتړ هيچاتـه اجازه ورنکړو چې دهيواد دتجزيې پـه شـوم پـلان کـې کاميـاب او هيـواد مـو دسمتونو يا قومونو په نوم ووېشي، زموږ متدين ولس دخپـل ګډ کور جوړول او له لويشت لويشت نه يې دفاع خپـل مسؤليت ګڼي، خپـل منځـي يـووالی او دخپلو مجاهدو وروڼو ملاتړ خپلـه دينـي فريضـه بـولي، دخپـل وطـن آزادي او اسـتقلال خپـل مشـروع حـق بـولي، او د ۲۰۱۴ مـيلادي کـال د انتخابـاتو پـه نامـه د غولـوونکې ډرامې پـه لړ کې بـه ځانونه ستړي اوشريک نه کړي ځکه زموږ متدين او مجاهد ولس پوهيږي چې اصلي تـاکنې پـه واشنګټن کې کيږي او دغـه تـش پـه نامـه واکمـن دولـس پـه رايـو نـه، بلکې د واشنګټن په خوښه ټاکل کيږي. په دادول انتخاباتو کې ګډون دوخت له ضياع پرته بله نتيجه نلري .

زه يوځـل بيـا ټولو هغو افغانانو تـه چې ددښمن په ليکو کې دندې ترسره کوي بلنه ورکوم، چې ددې په ځای چې خپـل مسلمان افغانان شهيدان کړي بايد دخپلو ټوپکو شپېلۍ په کفري يرغلګرو او دهغوی په ملګرو وروا ړوي. موږ همېشه له دادول مبارزو زلميانو څخه داتلانو په شان هرکلی کړی او هر هغه چا تـه بـنـه راغلاست وايو چې ددښمن صف پرېږدي او خپل مجاهد ولس ته رجوع وکړي.

دغه راز هغه کسان چې ځانونه اسلام اوجهاد تـه ژمـن بولي خودمجاهـدينو پـه ضـد تبليغـات کـوي، نفاق، شکونه او بې باوري خپروي، او د کفر په ځای يې ژبې او قلمونه خپلو مسلمانو وروڼو تـه متوجه کړي، د ورور ګلوۍ لـه مخې تـرې غـواړم چې لـه دا دول بې ګټې او تخريبي اعمـالو لاس واخلي؛ ځکـه دا ډول اعمـال پرتـه لـه دې چې ددوی پـه خودخواهۍ او خامواليي دلالت وکړي، بلـه ګټـه نلري، بلکې يوازې ددوی د ګناه بار درنوي .

هغـه بااحساسـه افغانـان چې لـه اشـغال نـه کرکـه لـري او دير غلګرو له شتون سره عملي مخالفت لري، که له موږ نه هرڅومره پـه فاصله کې دي، موږ يې وروڼه ګڼو اوپر دغه افغاني احساس يې آفرين وايو. او ټولو ته ډاډ ورکوم چې د اشغال د خاتمې په صورت کې به له هيچانه هم شخصي انتقام نه اخيستل کيږي؛ ځکه چې زموږ دغه مبارزه دذاتي ګټو اوشخصي اقتدار لپاره نده.

نړيوالواو هيوادوالو!

دراتلونکي افغانستان په اړه بايد ووايم چې اسلامي نظام او بشپړ استقلال هغه ارزښتونه دي، چې موږ ور باندې له هيچا سره معاملې ته حاضر نه يو. افغان ولس چې په پخواني او معاصر تاريخ کې يې دهمدې دوو ارزښتونو لپـاره سـترې قربـانۍ ورکړې دي، دهمدې په خاطر يې وطن وران شوی، په ميليونونو شهيدان يې ورکړي، نوربايد پرېښودل شي ترڅو له خپلو هيلو سره سم خپلواک اسلامي نظام جوړ کړي.

دداخلي نظام دسمبالښت او بيـارغونې پـه اړه پـه دې نظر يو، چې لـه يوه پـاک، شـفاف، مسؤليت پيژنـدونکي اسلامي نظام پرتـه چې ټـول افغانـان خپـل ځـان پکښې وويني بلـه هيڅ نسخه دافغانـانو درد نـه شـي دوا کـولای ، ددې پـه ځـای چې پـه بهرنيـو مرستو او استعدادونو تکيـه وشي، افغانان بايد ځانونه پـه خپلـه سمبال او لـه خپلـو امکانـاتو پـه اسـتفادې خپـل هيـواد تـه خـدمت وکړي، ددې لپاره چې له احتياج او ناخوالو مو نجات موندلی وي، ځوان نسل مو بايد په ديني او مدني (عصري) دواړو علومو ځان

سمبال کړي ؛ ځکه عصري علوم په نني عصر کې د هرې ټولنې لپاره اساسي ضرورت دی.

زه يوځل بياوايم چې دواک د انحصار تصور له موږ سره نشته،او هرڅوک چې له اسلام او وطن سره رښتينې مينه او وفا ولري، هغه که دهر قوم او سمت وي دايې خپل تاټوبی دی، هيڅوک يې دخپل ټاټوبي له خدمت څخه نشي محرومولی، او داړ ورکوو چې په ګډو هلو ځلو به په ګډه سره د خپل وطن خدمت کوو، اوهر چاچې داشغال سره له مرستې ښکاره پښيماني ښکاره کړه خپل وروريې ګڼو او هر کلی يې کوو.

دبهرنۍ تګلارې په اړه زموږ ښستيز اصل دادی چې دخپلې هميشنۍ ثابتې پاليسۍ له مخې نه چاته ضرر رسوو، نه چا ته اجازه ورکوو چې زمونږ له خاورې بل چا ته ضرر ورسوي، او نه دچا ضرر زغملای شو، له هر هغه چاسره به ښې اړيکې ولرو، چې افغانستان ته ديوه مستقل اسلامي هېوادپه توګه درناوی ولري اوتعلقات اومناسبات يې حاکمانه او استعماري بڼه ونلري، که هغه نړيوال طاقتونه وي، که ګاونديان وي او که دنړۍ بل هر يو هيواد، د يادونې وړ ده چې دا خبره موږ په خپلو مخکنيو پيغامونو کې او د سياسي دفتر له لارې ټولو نړيوالو ته رسولې ده.

له اشغالګرو سره زمونږ له خبرو اوتماسونو نه چې يوازې د اسلامي امارت د سياسي دفتر له لارې تر سره کېږي هدف دادی چې د افغانستان اشغال ته د پای ټکی کېښودل شي، هيڅوک دې دافکر نه کوي چې مجاهدين به له خپلو اعلی ديني مقرراتو او ملي ګټو څخه تېر شي، زه داډ درکوم چې ددغه مقدس مقصد دلاس ته راوړلو لپاره به له هيڅ راز ناجايز مصلحت او ناروا جوړجاړی څخه کار وانخلم لله الحمد اسلامي امارت داوياړ لري چې د ډېرو امتحاني حالاتو په مقابل کې يې بې ساری استقامت کړی، په راتلونکي کې هم الله تعالی ته سوال کوو، چې په خپله لاره مو مستقيم ولري، په قطر کې د اسلامي امارت دسياسي دفتر له پرانيستلو وروسته حالاتو ټولو ته ثابته کړه چې اسلامي امارت په خپلو پرېکړو کې خپلواک، پياوړی او ثابت دريځ لري او دا هم ثابته شوه چې اسلامي امارت د اسلامي اصولو او خپلو ملي ګټو په رڼا کې دخپل مظلوم اولس د ستونزو په هواري کې پوره اخلاص کړی او کوي يې ، لکن دا يرغلګر او دهغوی ملګري دي چې دستونزو اومشکلاتو د ختمولو په وړاندې په بيلابيلو پلمو خنډونه ايجادوي.

لکه څرنګه چې مونږ مخکې هم ويلي چې اسلامي امارت د قدرت دانحصار فکر نه لري، د يوه افغان شموله حکومت لپاره چې په اسلامي اصولو ولاړ وي، له افغانانو سره په تفاهم باور لرو، البته اسلامي امارت د بهرني اشغال څخه د هېواد آزادول خپله ديني او ملي وجيبه ګڼي، کله چې اشغال پای ته ورسېږي دافغانانو تر منځ تفاهم به ستونزې ونه لري؛ ځکه چې د مشترکو اصولو او کلتور له وجې په خپلو کې ښه سره پوهېږي.

اشغالګر بايد د تير دولس کلن اشغال له ترخو تجربو څخه استفاده وکړي، او داشغال داوږدولو او دايمي ادو ترعنوان لاندې يوځل بيا د خپل بخت د آزمايلو کوشش و نه کړي،اونه دې نور د کابل دبې واکه اداري په بې بنياده او پوچو وعدو غولېږي، د دوی محلي ملګرو او اجيرانو لکه څنګه چې دير غل دپيل په مهال دوی ته افغانستان ديوې تيارې مړی په حيث ښودلی وو، اوس هم غواړي دخپل اقتدار او شخصي ګټو په خاطر بهرنی اشغال او پوځي حضور دوام ومومي.

غربي يرغلګر بايد اوس په دې پوه شوي وي، چې افغانان بهرني اشغالګران او دهغوی کښينول شوي واکمنان نه مني، که دوی دا فکر کوي چې دتبليغاتو، تزوير او مختلفو نقشو په عملي کولو يا ددوی په اصطلاح دامنيتي تړون لپاره دجعلي لويې جرګې په دائرولو اوپه نورو پلمو سره به دخپل دايمي حضور لپاره لاره هواره کړي، نو دا فکر بايد له سره وباسي، ځکه افغانان لکه څرنګه چې د زرګونو اشغالګرو شتون نه مني همدغه راز دلږ شمېر يرغلګرو پوځيانو شتون هم دخپل استقلال نقض بولي .

اشغالګر بايد دافکر هم له ذهنه وباسي چې داسلامي مقاومت سرلاري او عام مجاهدين به ددوی په وعدو ، دنيوي امتيازاتو، شخصي مصؤنيت او د اشغال په حالت کې دچوکيو او منصبونو لپاره له خپلې برحقې مبارزې لاس واخلي،زموږ په مجاهدينو کې دتوند لارو او معتدلو تقسيم ستاسو اوستاسو داجيرانو تش خيالي او دښمنانه تقسيمات دي، مجاهدين ټول د اسلام دمقدس دين پيروان

دي چې متحده، معتدله او واضحه تګلاره لري "وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا" (البقرة: ۱۴۳) ژباړه: او همدارنګه تاسو مو معتدل امت ګرځولي یاست، ترڅو (دقیامت په ورځ) په (نورو) خلکو شاهدان واوسئ او پیغمبر په تاسو شاهد واوسي.

دنړیوالو بشري ادارو د کار په اړه باید ووایم: هره هغه مرستندویه بشري اداره چې ځان له سیاسي اواستخباراتي انګیزو څخه پاک وساتي اوداشغالګرو لخوا داستخباراتي اوغیراسلامي طریقوته ددعوت لپاره نه وي جوړي شوي زموږ تر ولکي لاندې سیمو کې زموږ د شرایطو اوپالیسی په پام کې نیولو سره خپل بې غرضه فعالیت زموږ له مسئولو کمیسونونو سره د تماس له لارې جاري ساتلی شي، که هغه دصحت په برخه کې وي، که دمهاجرینو په برخه کې، که دخوراک رسولوپه برخه کې اویاهم په نورو برخو کې.

په پای کې له ټولې نړۍ خصوصا اسلامي او منصفو هیوادونو او ولسونو، نړیوالو او اسلامي ټولنو څخه هیله لرم چې د انساني خواخوږۍ او اسلامي ورورولۍ له مخې له افغان مظلوم ولس سره د خپلواکۍ په لاره کې هر ډول مرستې وکړي، او له افغان ولس سره د خپلواکۍ په لاره کې ددوی له هڅو مننه کوم.

داسلامي امارت مجاهدینو ته باید ووایم چې دخپلو لایحو عملي کولو ته نورهم متوجه شئ، دامارت دمشر تابه اوامر او هدایات نور هم په ښه ډول عملي کړئ او دمشرانو پوره پو ره اطاعت کوئ دصف قوت په وحدت کښې ده او ربښتینی وحدت په اطاعت کې وي لهذا دپوره اطاعت په کولو سره خپل صف متحد و ساتئ هغه سیمې چې ددښمن له وجود څخه پاکې شوې دي اویا پاکیږي دعلماء کرامو او ولسي مخورو په مرسته او مشوروبې چارې اداره کړئ. څوک چې دمجاهد له نوم نه په استنادي سره چاته ضرر رسوي یا دپیسو لپاره خلک تښتوي، یا دجهادپه نامه شخصي اغراض په مخ وړي داکسان نه مجاهدین دي اونه له اسلامي امارت سره تعلق لري، مجاهدینو ته امر کوم چې د امکان په صورت کې د دا ډول ظالمانو مخه ونیسي، دملکي تلفاتو د مخنیوي په برخه کې دې لازیات کوښښ وکړي اوپه دې هکله دې دامارت له نوې اداري سره چې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او ولس او نړیوالو ته د ربښتینو حقایقو د وړاندې کولو په موخه جوړه شوې پوره همکاري وکړي، د یادونې وړ ده چې دښمن د ملکي تلفاتو په اړه تل تبلیغات کړي، او ځینې جهتونه چې ځانونه بې پرې بولي متاسفانه دهمدغو تبلیغاتو پر بنسټ راپورونه خپروي، او حال دا چې په حقیقت کې ملکي تلفات خپله ددښمن په لاس رامنځ ته کیږي، احیانا که کوم مجاهد دملکي تلفاتو په مخنیوي کې احتیاط نه کوي نوموړي اداره به یې تر تشخیص وروسته مشر تابه ته معرفي کوي څو عدلي مراجعو ته وسپارل شي، او هم دې کو ښښ وکړي چې ددعوت او ارشاد او جلب وجذب کمیسیون له تګلارې سره سم په مخالف صف کې ولاړو کسانو ته دحقې لارې دعوت ور کړي اوله مخالف صف نه دې یې راجلا کړي، همدارنګه باید دبندیانو او زخمیانو خدمت دصحت او بندیانو د کمیسونونو له پرو ګرامونو سره سم خپل شرعي مسئولیت وګڼي! دهیواد دنوي نسل تعلیم اوتر بیې ته دتعلیم اوتربیې د کمیسیون له طرحه شوي پلان سره سم لازمه توجه وکړئ، تر څو زموږ راتلونکی نسل په دیني او عصري دواړو علومو سمبال شي، او دیو متدین او مسلکي افغان په توګه د خپل ولس او هیواد خدمت وکړي، مرستندویه اسلامي ټولنې اوشتمن وروڼه دې له اقتصادي کمیسون سره مرسته وکړي ترڅو په مالي جهاد سره خپله فریضه ادا او د مجاهدینو ضروریات ور پوره کړي. داختر دمبار کې ورځې په مناسبت مې له مالدارو او وس لرونکو مسلمانانو څخه هیله ده، چې په دې ورځ دشهیدانو، بندیانو، مهاجرینو او کم وسه مسلمانانو کورنۍ هیرې نه کړې، ترڅو هغوی هم د اختر په خوښیو کې شریک شي په پای کې دټولو مسلمانانو له هغو مرستونه چې له مجاهدینو سره یې کړي دي او له هغو دعاګانو نه چې مجاهدینو ته یې کړي دي دزړه له کومې مننه کوم او هیله لرم چې دوام ور کړي.

په اخر کې مویوځل بیا اخترمبارک خپلواکي اوسرلوړي مو په برخه شه.

والسلام داسلام خادم امیر المؤمنین ملامحمدعمر مجاهد

اختري د مبارکۍ (تهنئه) شرعي حیثیت!

مفتی شاهد '' حقانی ''

څه وخت مخکې مې په (اصلاح انلاین) کې دیوه چا ددې پوښتنې په ځواب کې چې په اخترونو کې دمبارکۍ ورکولو شرعي حیثیت ورته څرګند کړي، دنومـوړې ویب سایټ دفقهي مسایلو دیوه کارپوه ځواب ولوست ،ځواب که څه هم بد نه وو ،خو دحنفي فقهي دکتابونو پرځای یې دامام احمد بن حنبل پرحواله ورته ځواب ویلی و ،داچې څلور واړه ائمه داهل سنت والجماعت علمبرداران دي او مونږ ورته تر هر چاډیر درناوی لرو ،خو دامام ابوحنیفه رح جامع مذهب سره ددې چې دداسې استفتاوویا پوښتنولپاره دځواب ویلوستره کتابي ذخیره لري ،منل شوي سلف او خلف علماء او متخصصین لري او زمونږ افغاني ټولنه هم په قاطع اکثریت دحنفي مذهب پیروان دي ،خوبیا هم ددې ملحوظاتو سربیره د مستفتي دسوال دځواب لپاره نوموړي کارپوه د ځواب دیوې غښتلې مرجع په بڼه په حنفي مذهب لومړۍ کومه حواله نه وه ورکړي ،بلکې دامام احمد بن حنبل رح په حواله یې داپوښتنه ځواب کړې وه ،اونه یې دحنفي فقه له غني معدنیانوته سائل ته کومه مرغلره را ایستلې وه، ماته داسې ښکاره شوه ،چې ګوندې خدای ج مکړه زمونږ دحنفي مذهب کتابونه پدې مسئله کې کوم وضاحت نلري او یوازې حنبلي مذهب دامسئله حل کړي ،پداسې حال کې چې د(الدرالمختار ،بحرالرائق ،ردالمحتار) غوندې دحنفي مذهب معتمد کتابونه پدې باب کې ډیر استنباطات لري ،خوورته لومړۍ مراجعه او پرې اعتماد ترټولو مخکې شرط دی ،چې دلته مسکوت عنه پاتې شوی و ،مونږ چې دافغاني ټولنې نبض ونیسو، نوراته به جوته شي ،چې غوځ اکثریت افغانان احناف او دحنفي فقهي مسائل تر نورو مقدم بولي ،نو کوم علماء چې ددې ټولنې دیني او علمي خدمت کوي ،هم باید په همدې ژبې ورسره خبرې وکړي ،هسې نه چې په

لوی لاس موخپله واحده ټولنه دوحدت پر ځای په څو برخو ویشلې وي ،بل له علمي اومسلکي ارخه دافتاء داصولو په رڼا کې کوم که څوک ځان مقلد یا دمذهب پیروبولي ،نو دخپل مذهب دمسائلو پرځای پر بل مذهب باندې دفتوی ورکولولپاره هم کلک ضوابط او اصول شته، چې ددې قواعدوپه رڼا کې به دبل مذهب د مسائلو په باب فتوی ورکول کیږي ،او که دمذهب له دایرې نه بهر وي ،نو بیا خوافغاني ټولنه لا دې ته اوس نده چمتو ،چې دحنفیت پرځای دعدم تقلید پرکرلیچنولاروسر شي او خدای ج مکړه دخپلو اسلافو مذهبي عنعناتو ته نور دپای ټکی کیږدې ،هیله مو داده چې دفتوی اوقضاء دڅانګو پوهان یا کارکوونکي دا اصول په پام کې ونیسي اولومړیتوب ورته ورکړي ،پورتني یادونې مذهبي تعصب یا تنګ نظري هم ونه بلل شي ،چې څنګه نو په حنفي مذهب فتوی ضروري ده !دانور خو هم حق دي..... !څکه همدا قواعد دهمدې څلورګونو مذاهبو له منل شویو علماوولخوا لیکل شوي او دفتوی په باب کې پرې پوره باور پکار دی ،بلکې هغه اصل یې وګڼې چې له امله به یې خپل رسالت سرته رسولی وي او دخلکو سوالونو ته به یې منل شوی ځواب ویلې وي.

داخترونو دمبارکۍ دمشروعیت یا اباحت په باب دې هڅونې ار ایستم تر څو دمسئلې شرعي ارخونه وسپړم اودصحابه کرامو رض داثاروتر څنګ دحنفي مذهب غوندې به دموضوع دوضاحت لپاره دنورو درې ګونو مذاهبو اقوال هم له حوالو سره مله رانقل کړم ، څو دموضوع حقیقت ته ځان ورسوو او ددې موضوع شرعي حیثیت ته به لاس رسی وکړو !

له شک پرته چې اخترونه دمسلمانانو دخوشحالۍ اوتفریح ورځې دي اوکال کې دا دوه اختره داسلام دستر پیغمبرحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم له هغه مبارک هجرت نه وروسته دیوه نعمت په بڼه دهغو دوو ورځو په بدل کې معاوضه شول ،چې دمدینې منورې خلکو به پکې لوبې او خوشحالۍ کولې ،لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په یوه حدیث کې داسې راغلي: أخبرنا علي بن حجر , قال: حدثنا إسماعيل, قال: حدثنا حميد , عَنْ أنس, قال: كان لأهل الجاهلية يومان من كل سنة يلعبون فيهما , فلما قدم النبي - صلى الله عليه وسلم - المدينة, قال: كان لكم يومان تعلبون فيهما , وقد أبدلكم الله بهما خيرًا منهما : يوم الفطر ويوم النحر. (السنن الكبرى للامام البيهقى)

ژباړه:دانس رض نه روایت شوی چې دجاهلیت په وخت کې به دخلکو لپاره هرکال دوه ورځې داسې وي چې دوئ به پدې دواړوورځوکې لوبې کولې ،کله چې نبي کریم ص مدینې ته راغی، ویې فرمایل چې ستاسولپاره دوه داسې ورځې وي چې لوبې به مو پدې دواړوکې ورځوکې کولې اوپه تحقیق سره الله ج ستاسو لپاره دادوه ورځې ددې نه په ښوورځو بدلې کړي ،چې یوه دکوچني اختر او بله دغټ اختر ورځ ده.

داروایت بل ځای داسې راغلی: 19 أخبرنا أبو طاهر المبارک بن أبي المعالي الحريمي ببغداد أن هبة الله بن الحصين أخبرهم أبنا أبو علي الحسن بن علي بن المذهب أبنا أبو بكر أحمد بن جعفر القطيعي ثنا عبد الله بن أحمد حدثني أبي ثنا عفان ثنا حماد أبنا حميد قال سمعت أنس بن مالک قال قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة ولهم يومان يلعبون فيهما فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما هذا اليومان قالوا كنا

تلعب فيهما في الجاهلية قال إن الله قد أبدلكم بهما خيرا منهما يوم الفطر ويوم النحر وقد رواه الإمام أحمد أيضا عن محمد بن عبد الله الأنصاري عن حميد (1) وكذلك رواه عن الأنصاري أبو حاتم الرازي (2) ورواه محمد بن يحيى العدني عن مروان بن معاوية عن حميد (3)

ورواه محمد بن إسحاق السراج عن سوار بن عبد الله عن المعتمر بن سليمان عن حميد عن أنس ورواه أبو داود السجستاني في سننه عن موسى بن إسماعيل عن حماد عن حميد (1) ورواه النسائي عن علي بن حجر (2) $آخر $ * إسناده صحيح

(الاحاديث المختارة للانصارى-ج۳/ص۲۲۰

داختر دورځو دفضيلت او اهميت په هکله نورډير احاديث هم شته خو دليکنې داختصار له امله په همدې حديث بسنه کوو، دلته به يې زيات په فقهي جهت باندې دخيړنې ترکيزوکړو، ترڅوراته ددې مشروعيت او عدم مشروعيت څرګند شي.

څنګه چې کتل کيږي ټول مسلمانان داختر په مبارکيوکې دخوشحالى اظهارکوي او يوبل ته په لومړي ملاقات کې دمبارکۍ مروجه اصطلاحات کاروي لکه عربي او عجمي ټولنو کې داسې اصطلاح کارول کيږي چې ((تقبل الله منا ومنكم))همداسې ((عيد مبارک)) ((اختر دې مبارک شه))او نورداسې ....دتبريکي جملې چې ترې دمبارکۍ مفهوم معلوميږي ،په عربي کې ورته (تهنئة بالعيد)يا داختر مبارکي وايي ،دا اصطلاحات شرعا څه حرج نلري او نه کوم کراهت لري، بلکې جمهور فقهاء ټول پدې آند دي،

چې دامشروعيت لري او درسول الله ص دنوروصحابوو په څېر د(ابي امامه الباهلي رض)او(واثلة رض) نه هم ددې الفاظو استعمالول ثابت دی ،وروسته بحث کې به راشي چې د(مکحول)نه چې پدې باب کې دانکارکوم روايت راغلی ،هغه داميرالمؤمنين في الحديث امام بخاری رح غوندې محدثين ضعيف ګڼه بولي چې په سند کې(عبدالخالق) راغلی او هغه دامام بخاری په نزد منکر الحديث دی ،همداسې يې دڅلورګونومذاهبو امامان يا هم مباح يامستحب بولي او کوم ډول کراهيت بدعت پکې نه ويني لکه په لاندې عبارتونوکې به دا التډيز وڅيړل شي.

وفي استحباب التهنئة بالعيد قوله: " عن جبير بن نفير قال: كان أصحاب النبي(ص) إذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض: تقبل الله منا ومنک.

قال الحافظ: إسناده حسن ". قلت: المراد ب (الحافظ) عند الإطلاق ابن حجر العسقلاني ، ولم أقف على هذا التحسين في شئ من كتبه ، وإنما وجدته للحافظ السيوطي في رسالته: " وصول الأماني في أصول التهاني "(ص 109) ، من الجزء الأول من " الحاوي للفتاوي " ، وقد عزاه لزاهر بن طاهر في " كتاب تحفة عيد الفطر " ، وأبي أحمد الفرضي. ورواه المحاملي في "كتاب صلاة العيدين "(2 / 129 / 2) بإسناد رجاله كلهم ثقات رجال "التهذيب" ، غير شيخه المهنى بن يحيى ، وهو ثقة نبيل كما قال الدارقطني ، وهو مترجم في "تاريخ بغداد "(13 / 266 - 268) ، فالإسناد صحيح ، لكن خالفه حاجب بن الوليد في إسناده ، فلم يرفعه إلى أصحاب النبي (ص). فقال:

حدثنا مبشر بن إسماعيل الحلبي عن صفوان بن عمرو السكسكي قال: " سمعت عبد الله بن بسرو عبد الرحمن بن عائذ وجبير بن نفير وخالد بن معدان يقال لهم في أيام الأعياد: تقبل الله منا ومنكم. ويقولون ذلک لغيرهم ". أخرجه أبو القاسم الأصبهاني في كتابه " الترغيب والترهيب " (ق 41 / 2 - 42 / 1). فإن صح السند بهذا إلى الحاجب، فإن في الطريق إليه من يحتاج إلى الكشف عن حاله، فلعل مبشر بن إسماعيل حدث بهذا وهذا، وبخاصة أن عبد الله بن بسر هذا - وهو المازني - صحابي صغير، ولأبيه صحبة، فيبعد أن يقول هو والتابعون المذكورون معه شيئا دون أن يتلقوه عن الصحابة، فتكون الروايتان صحيحتين، فالصحابة فعلوا ذلک، فاتبعهم عليه التابعون المذكورون.

والله سبحانه وتعالى أعلم. ويؤيد الرواية الأولى ما ذكره ابن التركماني في " الجوهر النقي " (3 / 320) من رواية محمد بن زياد قال: كنت مع أبي أمامة الباهلي وغيره من أصحاب النبي (ص)، فكانوا إذا رجعوا يقول بعضهم لبعض: تقبل الله منا ومنک. قال أحمد بن حنبل: إسناده جيد. ولم يذكر من رواه، وقد عزاه السيوطي لزاهر أيضا بسند حسن عن محمد بن زياد الألهاني قال: رأيت أبا أمامة الباهلي يقول في العيد لأصحابه: تقبل الله منا ومنكم. ثم كتب بعض إخواننا الطلاب تعليقا على نفيي المتقدم، فقال: بل قال الحافظ في " الفتح " (تمام المنعة لمحمد الالبانى)

د پورتني رواياتو خلص مفهوم څوشيان دي: يو دا چې امام حافظ ابن حجرعسقلاني يا حافظ امام سيوطي رح څخه پداسې سند چې ديوه طريقه يې رجال ټول ثقات دي د(جبير بن نفيل په)حواله روايت رانقل کوي، چې درسول الله ص اصحابو به يوه بل ته داسې ويل (تقبل الله منا ومنكم)يعني دا كلمات به يې داختر د مبارکۍ پروخت يوه بل ته ويل، بيا يې دجبير ددې روايت دتاييد لپاره د(محمد بن زياد)هغه روايت راوړی، چې د(ابن التركماني)په حواله په (الجوهر النقى)کې رانقل شوی، چې (محمد بن زياد)پکې وايي: چې زه د(ابي امامه) رض غونډي دنورو اصحابو سره هم پاتې شوی يم، کله به چې هغوئ بيرته راتلل (البته دعيدګاه نه) نو يوه بل ته به يې ويل (تقبل الله منا ومنكم)وروسې امام سيوطي رح په حسن سند سره همدا د(محمد بن زياد الالهاني) له خولې وايي: چې ما (ابي امامه الباهلي رض)صحابي وکوت چې خپلو ملګروته يې په اختر کې ويل چې (تقبل الله منا ومنكم)......

نوددې رواياتو چې رفع يې صحابو ته شوي داختر په مبارکۍ کې دا پورتني الفاظ سندا ثابت شول او دوئ سلفو به يوه بل ته اختر کې مبارکي ويله، بيهقي دمكحول لاندينى همدا يو روايت راخستى چې پکې ددې ډول مبارکۍ نه انكار رانقل شوی، خو دامام بخاري غونډې محدث دا روايت ضعيف بللى (6091 - أخبرناه أبو الحسين بن بشران ببغداد أنبأ أبو جعفر محمد بن عمرو الرزاز ثنا محمد بن الهيثم بن حماد ثنا نعيم بن حماد ثنا عبد الخالق بن زيد بن واقد الدمشقي عن أبيه عن مكحول عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال: سألت رسول الله صلى الله عليه و سلم عن قول الناس في العيدين **تقبل الله منا ومنكم** قال ذلک فعل أهل الكتابين وكرهه عبد الخالق بن زيد منكر الحديث قاله البخاري (سنن بيهقى الكبرى)

6522- وَقَدْ رُوِىَ حَدِيثٌ مَرْفُوعٌ فِى كَرَاهِيَةِ ذَلِكَ وَلاَ يَصِحُّ أَخْبَرَنَاهُ أَبُو الْحُسَيْنِ بْنُ بِشْرَانَ بِبَغْدَادَ أَخْبَرَنَا أَبُو جَعْفَرٍ: مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّزَّازُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ

الْهَيْثَمِ بْنِ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا نُعَيْمُ بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْخَالِقِ بْنُ زَيْدِ بْنِ وَاقِدٍ الدِّمَشْقِيُّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مَكْحُولٍ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ قَوْلِ النَّاسِ فِى الْعِيدَيْنِ **تَقَبَّلَ اللَّهُ مِنَّا وَمِنْكُمْ** قَالَ: « ذَاكَ فِعْلُ أَهْلِ الْكِتَابَيْنِ ». وَكَرِهَهُ {ج} عَبْدُ الْخَالِقِ بْنُ زَيْدٍ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ قَالَهُ الْبُخَارِيُّ(سنن بيهقى).

ژباړه: مكحول دعباده بن صامت رض نه روايت كوي چې دافرمايي چې ما درسول الله صلى الله عليه وسلم نه په اخترونوكې دخلكو ددې وينا په باب وپوښتل چې وايي (تقبل الله منا ومنكم)نو رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل چې داد اهل كتابو كاردى اوبد يې وباله)خو امام بخارى رح ددې روايت په باب وايي :چې دې سند كې (عبدالخالق) راغلى اودامنكر الحديث دى ،نو پدې جرح سره دمكحول روايت ضعيف او هغه داثبات روايت صحيح پاتې شو.

دموضوع په باب دمذاهب اربعو دعلماوو اقوال:

علامه زين بن نجيم رح دحنفي فقه متبحر عالم (تهنئه)يامباركي په دعايي الفاظو سره جايز بولي ،لكه دانو موړى عالم چې په (بحرالرائق)كې ليكي: ((والتهنئة بقوله تقبل الله منا ومنكم لا تنكر. وفي المجتبى: فإن قلت عد الغسل ههنا مستحبا وفي الطهارة سنة قلت للاختلاف فيه والصحيح أنه سنة، وسماه مستحبا لاشتمال السنة على المستحب وعد سائر المستحبات المذكورة هنا في بعض الكتب سنة اه)). (البحرالرائق)ج/۴

يعني د(تقبل الله منا ومنكم) په عبارت سره مباركي باندې انكار نشته او داجايزدى ،همدارازبحرالرائق كې بل ځاى هم همدا سې دجواز عبارت راغلى لكه چې وايي: ((وَزَادَ فِي الْحَاوِي الْقُدْسِيِّ أَنَّ مِنْ الْمُسْتَحَبَّاتِ التَّزَيُّنَ وَأَنْ يُظْهِرَ فَرَحًا وَبَشَاشَةً وَيُكْثِرَ مِنْ الصَّدَقَةِ حَسَبَ طَاقَتِهِ وَقُدْرَتِهِ وَزَادَ فِي الْقُنْيَةِ اسْتِحْبَابَ التَّخَتُّمِ وَالتَّبْكِيرِ ، وَهُوَ سُرْعَةُ الِانْتِبَاهِ وَالِابْتِكَارِ ، وَهُوَ الْمُسَارَعَةُ إلَى الْمُصَلَّى وَصَلَاةُ الْغَدَاةِ فِي مَسْجِدِ حَيِّهِ وَالْخُرُوجُ إلَى الْمُصَلَّى مَاشِيًا وَالرُّجُوعُ فِي طَرِيقٍ آخَرَ وَالتَّهْنِئَةُ بِقَوْلِهِ تَقَبَّلَ اللَّهُ مِنَّا وَمِنْكُمْ لَا تُنْكَرُ ،))

البحرالرايق ج/۵يعني اختر كې دامستحب ده چې تزيين پداسې بنه وشي چې خوشحالي پكې ځرګنده شي اودخپل طاقت مناسب پكې خيراتونه وشي ،خوشبويي استعمال شي ،په تيزى سره عيدګاه ته لاړشي ،دسبا لمونځ دخپلې محلې په جوماتكې اداشي ،عيدګاه ته پلى لاړشي،اوله عيدګاه نه بيرته په بلې لار راشي اوهم د· تقبل الله منا ومنكم)په الفاظو مباركي منكره نده اونه ورته څوك بد وايي ،بلكې داهم دمستحباتو په كتار كې راځي.

همداسې دحنفي مذهب بل منل شوى كتاب (الطحطاوي على المراقي)تهنئه يا داختر مباركي ته مستحب وايي اودادصحابو ورض عمل بولي ،لكه چې داعبارت يې ددې اظهار شهادت وركوي: ((والتهنئة بقوله تقبل الله منا ومنكم لا تنكر بل مستحبة لورود الأثر بها كما رواه الحافظ ابن حجر عن تحفة عيد الأضحى لأبي القاسم المستملي بسند حسن)).

يعني په پدې ماثورې دعاسره دصحابي داثرله كبله داختر مباركي مستحب ده.

وكان أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنكم قال وأخرجه الطبراني أيضا في الدعاء بسند قوي اه قال والمتعامل به في البلاد الشامية والمصرية

قول الرجل لصاحبه عيد مبارک عليک ونحوه ويمکن أن يلحق هذا اللفظ بذلک في الجواز الحسن واستحبابه لما بينهما من التلازم اه وکذا تطلب المصافحة فهي سنة عقب الصلاة کلها وعند کل لقي (الطحطاوی علی المراقی الفلاح ج۱/ص۲۴۵

لنډه ترجمه: په تقبل الله منا ومنکم)سره داختر مبارکي دحافظ ابن حجر په صحيح سند سره دصحابي داثرله کبله مستحب ده ،اودرسول الله ص صحابه رض به چې کله يوله بل سره اختر کې مخامخ کيدل، نو يوبل ته به يې په مبارکۍ کې دا مذکوره دعا ويله ،همداسې شام اومصر کې د(عيد مبارک عليک)غوندې الفاظ به يو سرې بل ته ويل ،دا ممکن ده چې د(عيد مبارک عليک)اصطلاح په حسن جوازاواستحباب کې دخپلمنځي تلازم له امله د(تقبل الله منا ومنکم)پورې ملحق شي اوهمدارنګه مصافحه يا ستړې مشې هم ددې برخه کيداى شي، چې مصافحه له هر لمانځه نه پس اوهم دهر چا سره دليدوپروخت سنت عمل دی.

دطحطاوي له پورتني عبارت نه يوه بله مسئله هم معلومه شوه اوهغه په اسيايي هيوادونو کې د(عيد مبارک)يا افغاني ټولنه کې (اختر دې مبارک شه)الفاظ دي ،چې داهم لکه د(تقبل الله منا ومنکم)غوندې مشروعيت لري بلکې دطحطاوي رح په نزد مستحب او دصحابوو مأثورې دعا پورې پيوسته دي ،خونن سبا پکې ترخيم راغلی دا(عليک)کلمه ورسره خلک نه وايي يوازې (عيد مبارک) وايي اوبس.

په فقه العبادات حنفی کې دموضوع په باب داسې وضاحت راغلی دی: أن يظهر الفرح والبشاشة لمن لقيه لما روي عن حبيب بن عمر الأنصاري قال: حدثني أبي قال: " لقيت واثلة يوم عيد فقلت تقبل الله منا ومنک. فقال: تقبل الله منا ومنک " فقه العبادات حنفی ج۱ ص۱۱۴.

- 6 - أن يكثر من الصدقة في ذلک اليوم وأن يؤدي صدقة الفطر قبل الصلاة لمن وجبت عليه)ژباړه :دچاسره چې اختر کې مخ کيږي، دخوشحالۍ اظهار به کوي ځکه دحبيب بن عمر انصاری نه روايت شوی داوايي چې پلارمې راته حديث بيان کړی ،چې ويل يې راته زه دواثلة رض سره داختر په ورځ مخامخ شوم نوماورته وويل تقبل الله منا ومنک نوواثلة رض راته ځواب کې وويل تقبل الله منا ومنک.

همداسې علامه الحصکفي په الدر المختار کې دمبارکۍ مشروعيت په ګوته کړی ،لکه په لاندېني عبارتونوکې به په تفصيل سره راشي.

(المغني فی فقه الامام احمدبن حنبل)کتاب کې راغلي چې دجمهوروفقهاوو له اقوالو نه جوته ده چې په مجموعي يا ټوليزډول داختر دمباکۍ مشروعيت ثابت دی اوپدې کې کوم حرج نشته لکه چې ليکي:

((ذهب جمهور الفقهاء إلى مشروعيّة التّهنئة بالعيد من حيث الجملة. فقال صاحب الدّرّ المختار - من الحنفيّة - إنّ التّهنئة بالعيد بلفظ " يتقبّل الله منّا ومنكم " لا تنكر. وعقب ابن عابدين على ذلک بقوله: إنّما قال - أي صاحب الدّرّ المختار - كذلک لأنّه لم يحفظ فيها شيء عن أبي حنيفة وأصحابه ، وقال المحقّق ابن أمير حاجّ: بل الأشبه أنّها جائزة مستحبّة في الجملة ، ثمّ ساق آثارا بأسانيد صحيحة عن الصّحابة في فعل ذلک ، ثمّ قال: والمتعامل في البلاد الشّاميّة والمصريّة: عيد مبارک عليک ونحوه ، وقال: يمكن أن يلحق بذلک في المشروعيّة والاستحباب لما بينهما من التّلازم ، فإنّ من قبلت طاعته في زمان كان ذلک الزّمان عليه مباركا ، على أنّه قد ورد الدّعاء

بالبركة في أمور شتّى فيؤخذ منه استحباب الدّعاء بها هنا أيضا.

أمّا عند المالكيّة فقد سئل الإمام مالك عن قول الرّجل لأخيه يوم العيد: تقبّل الله منّا ومنك يريد الصّوم وفعل الخير الصّادر في رمضان، وغفر الله لنا ولك فقال: ما أعرفه ولا أنكره. قال ابن حبيب: معناه لا يعرفه سنّة ولا ينكره على من يقوله، لأنّه قول حسن لأنّه دعاء، حتّى قال الشّيخ الشّبيبيّ يجب الإتيان به لما يترتّب على تركه من الفتن والمقاطعة.

ويدلّ لذلك ما قالوه في القيام لمن يقدم عليه، ومثله قول النّاس لبعضهم في اليوم المذكور: عيد مبارك، وأحياكم الله لأمثاله، لا شكّ في جواز كلّ ذلك بل لو قيل بوجوبه لما بعد، لأنّ النّاس مأمورون بإظهار المودّة والمحبّة لبعضهم.

أمّا الشّافعيّة فقد نقل الرّمليّ عن القموليّ قوله: لم أر لأصحابنا كلاما في التّهنئة بالعيد والأعوام والأشهر كما يفعله النّاس، لكن نقل الحافظ المنذريّ عن الحافظ المقدسيّ أنّه أجاب عن ذلك بأنّ النّاس لم يزالوا مختلفين فيه، والّذي أراه أنّه مباح لا سنّة فيه ولا بدعة. ثمّ قال الرّمليّ: وقال ابن حجر العسقلانيّ: إنّها مشروعة، واحتجّ له بأنّ البيهقيّ عقد لذلك بابا فقال: باب ما روي في قول النّاس بعضهم لبعض في يوم العيد: تقبّل الله منّا ومنك، وساق ما ذكره من أخبار وآثار ضعيفة لكن مجموعها يحتجّ به في مثل ذلك، ثمّ قال: ويحتجّ لعموم التّهنئة لما يحدث من نعمة أو يندفع من نقمة بمشروعيّة سجود الشّكر والتّعزية، وبما في الصّحيحين عن كعب بن مالك في قصّة توبته لمّا تخلف عن غزوة تبوك أنّه لمّا بشّر بقبول توبته ومضى إلى النّبيّ صلى الله عليه وسلم قام إليه طلحة بن عبيد الله فهنّأه. وكذلك نقل القليوبيّ عن ابن حجر أنّ التّهنئة بالأعياد والشّهور والأعوام مندوبة. قال البيجوريّ: وهو المعتمد.

وجاء في المغني لابن قدامة: قال أحمد رحمه الله: ولا بأس أن يقول الرّجل للرّجل يوم العيد: تقبّل الله منّا ومنك، وقال حرب: سئل أحمد عن قول النّاس في العيدين: تقبّل الله منّا ومنكم قال: لا بأس به، يرويه أهل الشّام عن أبي أمامة، قيل: وواثلة بن الأسقع؟ قال: نعم، قيل: فلا تكره أن يقال هذا يوم العيد؟ قال: لا.

وذكر ابن عقيل في تهنئة العيد أحاديث منها أنّ محمّد بن زياد قال: كنت مع أبي أمامة الباهليّ وغيره من أصحاب النّبيّ صلى الله عليه وسلم فكانوا إذا رجعوا من العيد يقول بعضهم لبعض: تقبّل الله منّا ومنك، وقال أحمد: إسناد حديث أبي أمامة جيّد.

لنډه ژباړه او خلص مطلب:

جمهور فقهاء په اخترکې دمبارکۍ په ورکولو په تولیزډول دمشروعیت حکم کوي،

داحنافو مسلک: په احنافوکې د(الدرالمختار) مصنف اخترکې دمبارکۍ په فکرد(تقبل الله منا ومنکم) دعا جایزبولي، علامه شامي چې دالدرالمختارمحشي دی وایي: چې دامام ابوحنیفه رح اوملګرونه یې پدې هکله څه ندي نقل شوي، نوځکه علامه الحصکفي پدې پورتني عبارت سره دارانقل کړ، البته محقق ابن امیرحاج وایي چې له نصوصو سره اشبه داده چې داجایز او في الجمله مستحب ده او پدې باب کې دجواز لپاره دصحابو واثار شته، او متعامل په شامیا ومصري ښارونوکې دنوروالفاظوغوندې د(عید مبارک علیک) اصطلاح مروجه ده اوددې دعا دسلفودعې دعا سره تلازم ممکن دی، نودواړه مشروعیت لري، بلکې ډیرې داسې

دعاګانې مشروعیت لري چې دبرکت لپاره وي او پداسې مواردوکې یې بیا دجواز حکم وي.

دموالکو مسلک/دامام مالک رح نه چاوپوښتل چې یوه روژدار ته څوک ووایې چې (تقبل الله منا ومنکم) نوده ورته وویل چې نه یې پیژنم او نه ترې انکار کوم، یعني نه ورته سنت وایم او نه ترې انکار کوم ،ځکه دابه دعا ده ،حتی چې شیخ الشبیني فرمایي چې داسې خوشحالیو کې داسې مبارکي واجب ده ،ځکه چې پرېښودل یې فتنې رامنځته او صله رحمي پرې کوي ،اوپدې خوښیو کې نور الفاظ هم ویل کیدای شي ،لکه(عید مبارک)،(اختر دې مبارک شه)داسې نور....اوداسې الفاظو په ویلو کې دجواز کوم شک نشته بلکې واجب ورته ویل شوي اوداځکه چې خلک په خپلمنځي محبت او مودت سره مامورین دي اودې سره محبت کې زیاتوړالی راځي.

دشوافعو مسلک :په شوافعو کې (رملي رح) لومړی د(القمولي) په حواله وایې ،چې زمونږ داصحابو نه داختر ، کال اومیاشت کې دمبارکۍ ورکولو کوم نقل صریح نه دی راغلی، بیاوروسته دحافظ ابن حجرعسقلاني رح په حواله وایي چې ، دامشروعیت لري ،او(حافظ منذری) دحافظ مقدسي)په حواله وایي چې زما په نظر دامبارکي مباح ده نه سنت ده اونه بدعت ده ،په عام ډول دکوم نعمت دشکرداداکولو یا دکوم غم نه دخلاصیدلو لپاره دسجدې کولو باندې ورته استدلال کیدای شي ،لکه په صحیحینو کې د(کعب ابن مالک)رض دتوبې کیسه چې دتبوک له غزوې نه پاتې شوی وواوبیا یې توبه قبوله شوه، کله چې ورته دتوبې دقبلیدو به باب بشارت ورکړل شو ،نودمګرې ورته(طلحه بن عبید) ورپاڅید او ورته یې مبارکي ورکړه ،نودادې لپاره دجواز دلیل کیدای شي ،پدې توګه (القیلوبي رح)دحافظ ابن حجررح)نه نقل کړي چې په اخترونو ،کلونو اومیاشتو کې مبارکي ورکول یوبل ته مندوب او ښه کار دی ،(البیجوري) بیا وایي چې دحافظ ابن حجررح داخبره معتمده ده.

دحنابله وو مسلک :دابن قدامه په (المغنی)کتاب کې داسې راغلي چې :امام احمد رح فرمایي :که یوکس بل ته داختر په ورځ ووایي (تقبل الله منا ومنکم)باک نلري ،(حرب)وایي له امام احمد بن حنبل رح نه دنوموړي دعا په هکله چې په اخترونو کې یې خلک یوبل ته وایي پوښتنه وشوه ،هغه وویل باک نلري ،دشام خلک یې له (ابي امامه رض)نه روایت کوي ،چاوویل چې له(واثله بن الاسقع)رض نه هم روایت شوی ؟ده ورته وویل چې هو ،بیا یې وویل چې که څوک ووایي داداختر ورځ ده، داخوبه مکروه نوي ؟ده ورته وویل چې نه ،ابن عقیل داختر دمبارکۍ په هکله ځینې احادیث راوړي چې ځینې یې دادي :یقینا (محمد بن زیاد)رح وایي چې :زه دابو امامه رض اودنبي کریم ص دنورو صحابوو سره وم ،چې کله به دوئ داختر نه(داختر دلمانځه نه)راستانه شول، نوبعضو به بعضو ته ویل چې (تقبل الله منا ومنکم)یعني الله ج دې یې زمونږاوستاسو نه قبول کړي.امام احمد رح وایي چې دابو امامه دحدیث سند جید اوښه دی.

ابن قدامه المغنی کې داعبارت له لږ تغیرسره داسې راخستی:

فصل: ولا بأس أن يقول الرجل للرجل يوم العيد **تقبل الله**

فصل: قال أحمد رحمه الله: ولا بأس أن يقول الرجل للرجل يوم العيد : تقبل الله منا ومنك وقال حرب : سئل أحمد عن قول الناس في العيدين: تقبل الله منا ومنكم قال: لا بأس به يرويه أهل الشام عن أبي أمامة قيل: و واثلة بن الأسقع قال: نعم قيل: فلا تكره أن يقال هذا يوم العيد قال: لا وذكر ابن عقيل في تهنئة العيد

أحاديث منها أن محمد بن زياد قال: كنت مع أبي أمامة الباهلي وغيره من أصحاب النبي صلى الله عليه و سلم فكانوا إذا رجعوا من العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنک وقال أحمد : إسناد حديث أبي أمامة إسناد جيد وقال علي بن ثابت سألت مالک بن أنس منذ خمسين وثلاثين سنة وقال: لم يزل يعرف هذا بالمدينة وروي عن أحمد أنه قال: لا ابتدئ به أحدا وإن قاله رددته عليه

(المغنی فی فقه الامام احمد بن حنبل)جزء ۲/۲۵۰صفحه

دامام طحاوي په(مختصر اختلاف العلماء) کتاب کې ددې سره چې (ابن قدامه(په (المغني) کتاب کې دامام مالک رح نه داخترونو په مبارکيو کې اباحت قول رانقل کړی، خودلته ترې داسې راغلي ،چې دادعجمو کاردی ،پداسې حال کې چې د(ابوامامه) رض او (واثله بن الاسقع)رض نه هم داختر دمبارکۍ الفاظ ثابت دي ،د(حسن بصری)رح او(محمدبن سيرين)رح په ګډون هم دتابعينونه ثابت دي ،دمختراختلاف العلماء للطحاوي عبارت داسې دی:

كما يرى كثيرا من الناس يفعله في تهنئة العيد عبد الله بن يوسف قال سألت مالكا عن قول الناس في الفطر والأضحى قبل الله منا ومنكم قال ذلک من فعل الأعاجم وكرهه وقال عمر سئل الأوزاعي عن تلاقي الناس في العيدين بالتحية والدعاء فقال التحية بالسلام حسن وتلاقيهم بالدعاء محدث وقال عمرو بن خالد كنا نأتي الليث بن سعد في الفطر والأضحى فتقول قبل الله منک ومنا يا أبا الحارث فيقول ومنكم ومنكم وذكر ابن وهب عن الليث أنه لا بأس بذلک

وقال يحيى بن عثمان سألت الحارث بن مسكين عن ذلک فقال لم تزل الأشياخ يمصر يقول ذلک ولكن هؤلاء الذين يقولون سنين كثيرة لا يريدون أن يموتوا قال أبو جعفر وحدثنا يحيى بن عثمان قال حدثنا نعيم قال حدثنا محمد بن حرب عن محمد بن زياد الألهاني قال كنا نأتي أبا أمامة وواثلة بن الأسقع في الفطر والأضحى ونقول لهما قبل الله منا ومنكم فيقولان ومنكم ومنكم لا يعلم عن أحد من الصحابة في ذلک كراهة ولا إباحة غير ما روي عن أبي أمامة وواثلة وروى أبو عوانة عن ابن عون قال قلت للحسن في قول الناس في المعيدين تقبل الله منا ومنكم فقال محدث وذكر عبد الرحمن بن مهدي أن هذا من كلام ابن عون وقد روى حماد بن سلمة عن أيوب قال كنا نأتي محمد بن سيرين والحسن في الفطر والأضحى فنقول لهما قبل الله منا ومنكم فيقولان ومنكم ولما اتفقوا على أنه جائز لمن يريد ذبح الأضحية أن يقول اللهم تقبل مني جاز لغيره أن يدعو له بذلک وكذلک لا يختلفون في أنه جائز أن يقول للقادم من الحج قبل الله حجک فجاز مثله في العيدين وقد كان بكار بن قتيبة والمزني وأبو جعفر بن أبي عمران ويونس بن عبد الأعلى يهنئون بالعيد فيردون مثله على الداعي لهم (مختصر اختلاف العلماء للطحاوی)

پورتني عبارت کې دصحابوو(ابوامامه رض اوواثله رض)اوتابعينوحسن بصري رح او محمد ابن سيرين رح په خبرله سلفونه په اخترونو کې دمبارکۍ الفاظ(تقبل الله منا ومنکم)ثابت شول ،همدارنګه که يو څوک لوی اختر کې ذبح وکړي، دتقبل دعا کولای شي ،که له حج نه راشي نو هم ورته د(تقبل الله حجک) ويل جايزدي، همداسې که اخترونه وي نو په ورته توګه ورته مبارکي جواز لري.

نن سبا يو بل دود ګډ دی، چې ځينې خلک دمبارکۍ ورکولو لپاره دمبارکۍ کارت ورليږي، پدې باب هم دځينو علماوو نظر مثبت دی او لکه څنګه چې يې په شفاهي مبارکي دجواز حکم ورکوي ،داسې يې

په کارت کې هم ممنوعیت نه ګوري ،لکه دې لاندې عبارت چې دابوادود دشرحې عبدالمحسن کې داسې لیکلې دی:

حکم بطاقة التهنئة بيوم العيد

السؤال: ما حكم بطاقة التهنئة بيوم العيد؟
الجواب: التهنئة بيوم العيد سائغة، وقد جاء ما يدل على ذلك، وكونه يكتب تهنئة أيضاً لا بأس بذلك، ولا نعلم شيئاً يمنع منه، وقد ذكرت في الفوائد المنتقاة في آخرها أثراً: أن الصحابة كانوا إذا لقي بعضهم بعضاً يوم العيد قال بعضهم لبعض: **تقبل الله منا ومنكم**، وقد ذكره الحافظ ابن حجر وأظنه قال: وإسناده إسناد الصحيح، وقد أشرت إليه في آخر الفوائد المنتقاة في الفوائد المتفرقة في القسم الأخير.

شرح ابو داود عبد المحسن العباد

ددې سوال او ځواب له عبارت نه څرګندېږي ،چې په کارت کې چاته مبارکي لیږل هم جواز لري او ډول ممنوعیت نلري ،څنګه چې مشافهة مبارکي روا ده همداسې بالکتابت هم روا ده.

دلته درمضان دمیاشتې په حلول او دخول سره ځیني خلک لکه داختر دورځو یوبل ته مبارکي ورکوي آیا داهم په حکم کې لکه داختر ونوغوندې ده که نه ؟ځواب یې څرګند دی ،شرح ابوداو عبدالمحسن العباد)کې دیوې پوښتنې په ځواب کې داسې لیکي: چې درمضان دمیاشتې په حلول مبارکي روا ده اوحکم یې لکه داختر غوندې دی ،څکه درمضان میاشت دلوی عظمت لرونکې ده او ددې په باب تبریکي کوم ډول باک نلري ،ددې مسئلې دوضاحت لپاره همدالاندې عبارت ښه وضاحت دی لکه چې وایي ؟

السؤال: ما حكم التهنئة بحلول شهر رمضان؟
الجواب: لا أعلم بها بأساً، وهي مثل التهنئة بالعيد، والصحابة رضي الله عنهم كانوا إذا لقي بعضهم بعضاً في العيد قالوا: **تقبل الله منا ومنكم**، ولا شك أن شهر رمضان مناسبة عظيمة يفرح بها، ويسر بها، ويحرص على اغتنامها؛ لأنها موسم من مواسم الآخرة، والناس يفرحون بهذا الموسم، ويدعو بعضهم لبعض، فينبغي أن تكون التهنئة بالدعاء، والكل يدعو بأن يوفق للصيام والقيام، وأن يأتي بما هو مشروع، سواء كان فرضاً كالصيام أو مستحباً كالقيام، فيدعو الكل بأن يوفق الله عز وجل الجميع لصيامه وقيامه على الوجه الذي يرضي الله سبحانه وتعالى.

شرح ابو داود عبد المحسن العباد

دپورتنی څېړنې نه دې پایلې ته رسیدای شو چې داخترپه ورځو کې یو بل ته د(تقبل الله منا ومنكم)(عيد مبارک)یا (اختر دې مبارک شه) او داسې نورو مصطلاحاتو سره مبارکي ورکول مشروعیت لري او مستحب عمل بلل شوی ،داچې دصحابو ورض اوسلفو صالحینو نه ثابت دي او دوئ زمونږ مقتدایان دي ،نوددې په هکله به کوم ډول دعدم مشروعیت کوم شک او شبه نوي پاتې ،زمونږدحنفي مذهب علماءهم لکه دنوروپداسې متبرکه ورځو کې یوبل ته دمبارکۍ ورکولو په هکله دجواز حکم کوي ،همدا راز دځینو علماوو په آند خومبارکي ورکول یوبل ته واجب ده او کوم ډول حرج پکې نه لیدل کیږي

د منځني ختیځ په اړه

دامریکا اوږد مهاله ستراتیژي

خــــــپلواک:..

په نړۍ کې دامریکا اوبرتانیې سیاست له اوږدې مودې راهیسې پردوو متفاوتو وسیلو ولاړ دی، چې یوه یې استخباراتي تګلاره ده اوبله یې دیپلوماتیکه!

په ځانګړي ډول په کمزورو، منزوي اوجنجالي هېوادونو کې هڅوي دخپلې خوښې دواکمنې او واکمنانو درامینځ ته کولو لپاره لومړی داشخاصو اوډلو پـه تشـخیص اودهغوی داغیـز اوځـواک پـه پیژندلوځیر نه کوي، چې څوک ددوې لپاره کار کولی شي اوڅومره زورپکې دی!

پدې کې دوسلوال فوځ له جنرالانو نیولې ترسیمیزومخورو پورې هرڅـوک ترڅیړنـې اومراقبـت لانـدې نیسـي، بیـا دهمـدې ډلـو اواشخاصـو دمشـاورت، تربیـت اوتقویـت لپـاره خفیـه میکـانیزم جوړوي، لـدې ورسـته چې دغـه ډلې اواشخاص پـه پښو ودریږي اوخوځښت پیل کړي، پـه پراخـه کچـه دیپلوماتیـک فعالیـت ور تـه کـوي؛ پرناخوښـه واکمنـانو دنړیـوال فشـارهڅې پیـل کـړي؛ د دیموکراسـي ترشـعار لانـدې دخپلـو کسـانو دمطـرح کولـو لپـاره دهمدغو هیوادونو پر حکومتونو زور راوړي، که خبره ونه منل شوه، بیـا وربانـدې مختلـف توروونه پـوري کـړي اوداقتصـادې بنـدیزونو ګوابنونه ورته وکړي؛ پرضدیې نړیوال له ځانه سره ملګري کړي،

اواخیر هغـه هیـواد لـه فقـر او انـزوا سـره مـخ شـي، ولـس هـم دبې وسي،لوږې او کمزوري اقتصاد له امله دخپل حکومت نه کر که پیل کړي، که څه هم ځینې همداسي حکومتونه پوره مخلص اوخوځنده هم وي، خـودا وخـت چې لـه ګـنو ټولنیزو ستونځوسـره مـخ شـي، نوخپلوخلکوته هم بې ځوابه وي.

داستـعمار ګرودوهمه اوترټولو اسانه لاره داوي، چې فوځي جنرالان ولري اوبیاهغه دوخت پـه تیریـدو دفوځ عمومي مشرتوب تـه ورسیږي، ددې لپـاره دهغوی معمـول داده چې هغـه جنـرالان واخلي چې دوی فکر کوي چې دابه پـه راتلونکي کې دفوځ قایـدین جوړیږي. کلـه چې فـوځ تـر اغیـز لانـدي راولي،بیاور سـره پراخي فوځي اومالی مرستې کوي اوپه مقابل کې فوځ ددوي شرایط مني، ددوی اکثره شرایط داوي، چې دفوځ عامـه روزنـه بایـد داسي وشي چې لـه لویـدیځ سـره دمینـې اودوسـتي روحیـه ولـري اوپـدې کې بایدهغه فوځیان اوټیټ رتبه ماموران لوړو فوځي مراتبو ته ترفیع ونکـړي، چې پـه فکـري لحـاظ لـه لویـدیځ او پـه ځـانګړي توګـه لـه امریکاسره جوړنه وي،له بده مرغه دیوشمېر اسلامي هیوادونو فوځ همداسـې روحیـه لـري، چـې مسـلمانان تـرې دخیر تمـه نشـي کولی،دیوه نږدې اسلامي هیواد دفوځ په قانون کې یوه داسي ماده

هم شته: چې " که کوم فوځي له لويديځي نړۍ کر که ولري، هغه د کرنلی اوجنرالي رتبې ته ترفيع نشي کولی"

ځو کاله وړاندې مې دپاکستان په يوه ورځپاڼه کې دپاکستان ديوه پخواني جنرال(چې داوخت مړ و)خاطري لوستلې، هغه ليکلي و:... "زه چې کله ديوه وړوکي فوځي افسر په توګه دټرينګ(فوځي روزنې) لپاره امريکاته وليږل شوم، نوهلته به په فارغ وخت کې يوه سړي راسره ډيره مينه کوله اوزماسره به يې د"واليبال" لوبه هم کوله، ډيرې ورځې ورسته چې ښه راسره بلد شو اوکلک دوست مې شو، نو راته وي ويل: يوه خبره در ته کوم خو داوعده به کوې، چې ټول عمر به داخبره زمااوستاپه مينځ کې وي، ماورسره هو وکړه، ده راته ويل زه خبر يم چې ته ديوې غريبې کورنۍ سره اړه لرې او کورنۍ دې نه کوم تجارت لري اونه هم جايداد، زه به تاته دمياشتې دومره ډالر در کوم چې ستا د کور، تعمير موټر اونورو ټولو خواهشاتونه ځوچنده زيات وي اوهر کال به يې ځوچنده درزياتوم، ماورغبر ګه کړه چې ته څه خبريې چې زه په کور کې بې وسه اوغريب يم؟

سمدستي يې زماد کلي، زما دپلار، نيکه، خپلوانو اود کورنۍ دټولونارينه اوښځينه غړو نومونه راته واخيستل چې پدې سره زه سخت حيران شوم، ځکه ما دامريکا په سفر دخپل کورغړي هم نه وخبر کړي...

له ډېرفکره ورسته مې ورنه وپوښتل ته زماسره داخواخوږي دڅه هدف لپاره کوي اودڅه په بدل کې دومره ستر لګښت راباندې کوې، هغه وويل موږتا ته شل کاله ورسته ضرورت لرو، دغه جنرال ليکي چې له ځوور ځو فکر کولو ورسته په دې پوی شوم، چې دمراتبو پربنسټ شل کاله وروسته زه دفوځ عمومي مشر جوړيدي شم..."

داخو ديوه جنرال دخولې خبره ده چې خپل رازيې افشاکړی، خوپه داډول هېوادونو کې به داډول جنرالان اوفوځي مشران کم نه وي چې په دغه دام کې له اوله نښتي وي!

اوس که په هيوادونو کې فوځ تراغيزلاندي وي، خو ولس امريکاضد روحيه ولري، نوبيا امريکا دفوځ له لارې دخپلو مخالفينو د کمزوره کولو اوټکولوخفيه پلانونه جوړوي، خوپه ظاهره ديپلوماسي نورماله ساتي اودفوځ دزور زياتي ښکاره ملاتړ نه کوي!

په دغه ډول هيوادونو کې امريکا دفوځي واکمني اوديکتاتوري پلوي کوي اوياداسي جمهوريت ملاتړ کوي چې دفوځ په لاس وهنه جوړ اودفوځ په واک کې وي.

او که برعکس په کوم هيواد کې فوځ خپلواک وي اودامريکا دګټو ملاتړ نه کوي، نودوی په لومړۍ حربه کار کوي، په خفيه توګه خلګ پيداکوي، منظموي يې، ميکانزم ورته جوړوي، مصارف ورباندې کوي اوبياهمدغه ډله دديپلوماسي په ډګر کې مظلومه معرفي کوي اودنړيوالو خواخوږي ورته جلبوي.

په دغه ډول هيوادونو کې امريکا دجمهوريت اوديموکراسي لپاره تبليغات کوي او په ټاکنيز بهير کې دخپلو پلويانو لپاره پراخ پروپاګند اومالي مصارف کوي: دهغوی دانتخابي بري لپاره ټولې پټې اوښکاره حربې کاروي.

امريکااوبرتانيه په ځانګړي ډول دجمهوريت له لارې داسلام پاله ګوندونو برى نشي زغملی اودوي ته يې مخنيوی هغه وخت ګران وي چې دهيواد فوځ خپلواک وي، او که دهيواد فوځ ددوی تراغيز لاندې وي، بيا فوځ دې ته هڅوي چې دهغوی مخه ونيسي اوهغوی دومره منزوي کړي چې نور دټاکنيز بهير جوګه هم پاتې نشي، دغه تجربې، په الجزاير، فلسطين او همدا اوس په مصر کې زموږ په وړاندې پرتې دي، په الجزاير کې تراوسه ديتکتاتوري اوبيړنى قانون واکمن دی، په فلسطين کې چې کوم وسلوال فوځ نشته بلکې يوازې دحماس اونورو جهادي ډلو جلا جلا جنګيالي مسلح دي، نوامريکا ددوی دمنتخب حکومت مخه په بل ډول ونيوله، لومړی خو امريکا فکرنه کاوه چې دحماس غورځنګ به رايې يوسي، دوي فکر کاوه چې دانتخاباتو له لارې به دخپلې خوښې نامنتخب اولاس پوځي مشر "محمودعباس" ته قانوني حثيت ور کړي اولدې لارې به

حماس له صحنې وباسي، خوچې کله پایله سرچپه وختـه، نودلږ وخت په تیریدوېې دحماس دمنتخب حکومت په وړاندې ټولې حربې وکارولې او مخه یې ونیوله، چې اوس یې هم خپل لاس پوځي نامنتخب مشر محمودعباس ته مخه ور کړې اوخلیجي هیوادونه یې هم دې ته اړ کړي، چې حماس تـه شا وګر ځوي اومحمودعباس تـه دفلسطیني مشر حیثیت ور کړي.

په مصر کې د تونس نه دالهام اخیستونکې ولسي پاڅون پـه تودولو کې اخوان المسلمین کلیدي رول اداکړ .امریکا د"حسن مبار ک" د دیتکتاتوري لدې امله ملاتړ کاوه، چې مبار ک او فوځ دواړه دامریکا ملاتړی وو،حسن مبار ک هم دفوځ په مټ واکمن و،بل لور ته داسلام پالو اغیز لرونکي مشران اوقیادت په زندانو کې وو اوځیني یې پخوالا اعدام شوي وو،چې دا دلویدیځو کړیو او اسرایلو دخوښي عمل و.

اخوان المسلمین د۲۰۱۱ عربي پاڅون دیوغنیمت په تو ګه دخپلې ځواکمنتیا اونوي سیاسي برو ز وسیله وګرځوله، ددغه پاڅون لپاره یې منظم تبلیغات وکړل،دمظاهرو پـه ټینګښت، دیر ښت اواستقامت کې یې ځانګړی رول اداکړ .څنګه چې دمبار ک په رژیم کې تر ټولو زیات اسلام پال ځپل شوي وو،نوځکه دمبار ک پر ضد مظاهرو نه نږدې هر اسلام پاله راوتلی و،چې پدې سره سړی ویلی شي چې ددغو مظاهرو اکثره برخه اسلام پالو جوړوله، دپاڅون لـه بري وروسته اخوان المسلمین خپـل ټول مشران له زندانونو رابهر کړل اومنظم سیاسي فعالیت یې پیل کړ.

دمصري پاڅون پر مهال اخوان المسلمین پـه تاکتیکي ډول په ظاهره دنړیوالوپه وړاندې ځان دپاڅون یوه وړوکې برخه معرفي کړه ، ځکه خولویدیځ هم داسي فکرنه کاوه چې پـه ټاکنو کې به دهغوی بری حتمي وي.

دانتخاباتولپاره امریکاد"البرادعي "او "عمرموسی" په شمول په ټولو لیبرالانو پوره مصارف وکړل اودهغوی دپرپاګند لپاره یې میډیاهم وقف کړه،خوددوی دتوقع خلاف اخوان المسلمین دخپلو اتحادي ډلوپه ملتیا ټاکنې وګټلې، چې دا دامریکالپاره یو تریخ پیغام و،ځکه خو تیره ورځ دمصري فوځ مشر "عبدالفتاح السیسي" پـه ښکاره دمیډیا په وړاندې وویل چې مالومږی هم اسلام پالو ته ویلي و،چې دوی دې ولسمشري ته خپل کاندید نه دروي،چې داډیره معنا داره جمله ده!

په ټولټاکنو کې له بري وروسته امریکاسمدستي ددوی مخنیوي شر ماوره وګڼل اوبل خوا دمصري ولس احساسات هم لاتازه وو.نوځکه یې فوځ ته مشوره ور کړه چې دڅه وخت لپاره صبر وکړي اوپه یومتبادل پلان تیز کار پیل کړي.

امریکا دخلیجي هیوادونو او اسرایلو پـه ملګر تیا پـه تېرېوه کال کې دمنتخب مصري حکومت پر مخالفینو پراخ مصارف وکړل، تر څو دیوې داسي فضا په جوړولو برلاسي شي، چې دیوه ولسي فشار په نوم داخوان المسلمین حکومت راونړوي، ددې لپاره پوره یو کال فعالیت وشو، بار بار لاریونونه وشول ،چې بالاخره دفوځ اواستخباراتوپه خفیه پروګرام خلک وهڅول شول چې کوڅوته راووزي، خلک راووتل پراخ تبلیغات ور ته وشول،اوددې کار دوام ته تشویق شول، دا دمنتخب ولسمشر دپر ځولو لپاره یوه حربه شوه ،چې بالاخره دروان کال دجولای دمیاشتې په ۳مه ،نه یوازي داچې داخوان المسلمین پر حکومت فوځ اواستخباراتو کودتا وکړه، بلکې دولسمشر په ګډون یې ګڼ شمېر داخوان المسلمین مشران پـه زندانونو دننه کړل،لـه حکومت پلوه میډیانه پر تـه نور خبري چاینلونه اوتلویزوني شبکې یې ټولې ونړلې،حتی چې دمخالفینو خبرونه خپرول هم یو جنایت وګڼل شو.

امریکا هیڅ عکس العمل ښکاره نکړ ،بلکې اعلان یې وکړچې له مصري فوځ سره به مرستو ته دوام ور کړي،له بلې خوا اسرایلو په زغرده ددغه کودتا هر کلی وکړ ،سعودي، کویټ اوعرب اماراتو ورسره په ملیاردونه ډالره مرستې اعلان کړې.

دحماس دانزوا اوټکولو مخفي طرحه

داوخت چې له یوې خوا دسوریې په څیر داسرایلو ستر رقیب په جګړه کې ښکیل اومنزوی دی ،اودلبنان حزب الله هم دسوریې له

حالاتو سره يوله توجه اسرائيلوته نشي اړولی. دمصر اسلام پاله دولت هم ونړيد اوخليجي هيوادونه هم له محمود عباس سره دوستانه پالي، نودحماس اسلامي غورځنګ له درنې انزوا اوتنهايي سره مخ دی. بل خوا دسوريې په سر دحماس دګوند دريځ له ايران اوحزب الله دواړو سره دحماس فاصله زياته کړې، نو اسرائيلو او امريکاته دا ډير ښه فرصت ښکاري چې حماس له درنو ستونزو سره مخ کړي.

دامريکا خطرناکه طرحه داده چې غواړي دمحمود عباس او اسرائيلو ترمينځ دخبرو ديپل په نارو دنړيوالو او اسلامي هيوادونو توجه بل خوا واړوي اودحماس غورځنګ چې دفلسطيني مقاومت دملا تير دی، يوې نوې کندې ته ورټيل وهي، اوپدې کار کې ښايي دمحمود عباس له اداري اودمصر له فوځ نه کار واخلي، همدا اوس چې مصري فوځ پراخواني ولسمشر له حماس سره دارتباط تور پورې کړی داپيره معنا داره معماده، يوخوله دې نه ښکاري چې مصري فوځ حماس ته نور ديوې دښمنې ډلې په ستر ګه کتل غواړي، بل خوا څو ورځې وړاندې پر حماس داتور هم ولګول شو، چې غواړي په مصر کې داخوان المسلمين په ملاتړ ترهګر بريدونه ترسره کړي، ددا ډول تورونو ترشا ځانګړي اهداف شتون لري، چې يو هدف يې داهم کيدای شي. ترڅو دحماس ډله دسيمې په کچه په فوځي فعاليتونو تورنه کړي اوپرضديې نړيوال عکس العمل ته لاره هواره شي.

امريکا داخوب همويني چې ښايي په مصر کې داخوان المسلمين پرضد دفوځ بې رحمه اقدامات ځينې اخوانيان وسله والې مبارزې ته مجبوره کړي، چې داوخت به وسلوال اخوانان اودحماس ډله په اسانۍ په يوه ګراف کې راشي اوحماس به دمصر دملي امنيت دخطر په توګه دمصري فوځ هدف هم وګرځي، چې پدې سره به دحماس منزوی شوی حرکت دمصر او اسرائيلو په ګډه جبهه کې دمرګ تر کندې وځپل شي!!!

همدا اوس هم پدې اړه ځينې اسناد افشا شوي، چې دمحمودعباس اداره او اسرائيل غواړي چې حماس دسينا په ښېښو کې ککړ ثابت کړي.

بل پلو ته دالجزيره تلويزون پر پرده پرون هغه ليک خپور کړای شو، چې دمحمودعباس داداري لخوا دمصر دفوځ مشر ته استول شوی اوپکې داخبر ورکول شوی چې دحماس غورځنګ له پرځول شوي ولسمشر "محمدمرسي" سره استخباراتي اړيکې لرلې اودواړو ګډپلانونه لرل. ددغه ليک اصلي کاپي په لاندې ډول ده:

پدې ليک کې چې په عربي ژبه ليکل شوی، په لوی لاس هڅه

دولـــة فلسطين
جهاز الأمن الوطني
مكتب رئيس الجهاز

الرقم : 178/36
التاريخ : 2013 / 07 / 14

فخامة السيد الرئيس القائد العام حفظه الله ،

تحية الوطن وبعد ...

الموضوع : إلغاء مدير مكتب الممثلية المصرية في رام الله

[illegible]

شوې چې دحماس غورځنګ او اخوانيانو دمصري فوځ په خلاف په وسلواله مبارزه تورن کړي.

داډول هڅې دمنځنۍ ختيځ لپاره دامريکا اومتحدينو داوږدمهاله ستراتيژۍ يوه برخه ده. داوخت چې عراق اوسوريه له پښو لويدلي اوپه افريقا کې هم دقذافي رژيم نشته، ايران هم دخپل حياتي دوست بشارالاسدپه مرسته بوخت دی اومصر هم داسرائيلو دمخالفانو په واک کې ندی، نودا داسرائيلو لپاره ښه فرصت دی، چې خپل اصلي مخالفين په اسانۍ سره ترفشار او ګذار لاندې راولي... إِلَّامَن رَحِمَ رَبِّيۚ

بخاطر پایان دادن به جنگ در افغانستان امریکا فقط یک گزینه در اختیار دارد

محمد الیاس عاصم

مسئله حل بحران افغانستان نسبت به افغانها برای امریکایها بسیار قابل برسيي ونگرانی است ، آمریکا که در تاریخ دوصد ساله خود چنین جنگ طولانی را نه دیده بود بلکی اصلا در این عصر تکنولوژي جدید و مدرن فکر نه میکرد که با این قسم جنگ مواجه خواهد شد که پهنا ودرازی بسیار آز آن دارد که قبلا پیش بینی شده بود ، اکنون ممکن درک کرده باشد که واقعیت ها هرگز طوری نه بوده که آمریکا ازآن مطالعه داشت ، در تاریخ بشریت امپراطورها و کشور های زور گو همیشه از رویش همچو امریکا استفاده نموده اند ، مسائل را بسیار اندک نگرسته و خود را توانمند کنترول وضعیت پنداشته اند ، از فرعون گرفته تا ابو جهل ، از چنگیز تا انگلیس و اینکه از اتحاد جماهر شوروی تا آمریکا همه در آغاز نبرد با گروه کوچک ولی دارای ادیال بلند ، ناتوان ولی با اراده ، مستضعف ولی هوشیار ، کم بضاعت ولی با ایمان و دلیر مسائل را از حجم اصلی آن به مراتب کمتر زیر برسيي وتحقیق قرار داده اند و حالت را نه آنچنان که واقعا بود تصور کرده اند ، اگرفرعون در روز اول آغاز مناقشه با حضرت موسی علیه السلام این را نیز تصور میگرد که روزی در قعر دریایی مصر ناله ، (آمَنتُ أنّهُ لا إلهَ إلا الذِي آمَنَتْ بهِ بَنُو إسْرَائِيلَ وَأنَا منَ المُسْلِمِينَ) را سر خواهد داد هرگز قدرت و امپراطوری خود را از دست نه میداد بلکی حاکمیت خود را میتوانست از

انتخاب منفی به گزینش مثبت تغیر دهد و از صدای (أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ) به انا عبدالله تغیر جهت میکرد و دیگر هم به حاکمیت خود بالای ملت مصر ادامه میداد .

همچنان اگر ابوجهل در برابر حق از پست فطرتی و تکبر استفاده نه میکرد بلکی به داعیه حق حضرت پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم می پیوست حاکمیت قریش را از دست نه میداد بلکی خود یکی از با قدرت ترین و با وجاهت ترین اشخاص همچو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه باقی می ماند و در آن صورت صفحه درخشان در تاریخ بشریت میداشت

فرعون گرفته تا ابوجهل ، از چنگیز تا انگلیس و اینکه از اتحاد جماهر شوروی تا آمریکا همه در آغاز نبرد با گروه کوچک ولی دارای ادیال بلند ، ناتوان ولی با اراده ، مستضعف ولی هوشیار ، کم بضاعت ولی با ایمان و دلیر مسائل را از حجم اصلی آن به مراتب کمتر زیر برسی وتحقیق قرار داده اند و حالت را نه آنچنان که واقعا بود تصور کرده اند ، اگر فرعون در روز اول آغاز مناقشه با حضرت موسی علیه السلام این را نیز تصور میگرد که روزی در قعر دریایی مصر ناله ء (آمَنتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ) را سر خواهد داد هرگز قدرت و امپراطوری خود را از دست نه میداد

همین گونه ، چنگیز ، انگلیس ، اتحاد شوروی و اینک آمریکا اگر در آغاز نبرد با افغانهای مسلمان و راد مرد تصور انجام حتمی و راستین قضیه را میتوانستند به حالتی که دوچار هستند هرگزمبتلا نه میشدند ، ولی این ابله های تاریخ نه میدانستند که دربرابر کدام ملت ، کدام اراده ، کدام تیوری ونهایتاکدام ادیولوژی قرار میگیرند ؟

اینها فکر میکردند که میتوانند توسط قدرت مادی خود بنیاد عقیدوی ملت افغان را متزلزل سازند و جنگ با افغانها هم مثل سائر جنگ های بشری خواهد بود که طرفین قضیه اتکاء کامل به توانایی مادی دارند و انگیزه هردو جانب استوار بر منافع شخصی میباشد .

ولی اکنون لازم است که آمریکا همه حقائق را درک کرده باشد ، جنرالهای آمریکایی باید بخاطر آینده بشریت از قصه های جنگ در افغانستان ، همچنان از مردانگی افغانها سخن گویند ودیگر سبب نجات زور گوهای آینده شوند .

به تصورما امریکا اکنون فقط یک گزینه در اختیار دارد آن هم خروج بلاقید وشرط از کشور ما افغانستان است ، ونیز پیشیمانی از خطاء که دوازده سال قبل آن را مرتکب شده بود.

امریکا هرگز توان آن را نه دارد که جنگ افغانستان را به نفس آرام ادامه دهد ویا افغانها را متقاعد به قبولاندن غلامی نماید ، اگر امریکا تصور داشتند پایگاه های دائمی در افغانستان را مثل که ادعا دارد داشته باشد پس باید متیقن شد که ملت ما هرگز ملت غلام فطرت نیست ونه هم در برابر تجاوز و تسخیر آرام خواهد نشست ، ما به نیرو جوان خود باور داریم که تا آن زمان جهاد را ادامه خواهد داد تاکه آخرین عسکر اشغالگر را نیز از تمام حدود کشورخود براند و صاحب اختیار کلی در مملکت شود .

اگر امریکا هنوز هم ملت غیور ، مسلمان و راد مرد افغان را نه شناخته باشد ودر برابر آنها از ادامه جنگ سخن گوید پس منتظر افتضاح بیشتر باشد و روز فرا خواهد رسید که حیثیت باقی مانده خود را نیز به باد خواهد داد و درنهایت راه شرم آور گریز را توأم به تلفات سنگین خواهد پیمود . ان شاءالله وما ذالک علی الله بعزیز

دپکتیا ولایت جهادي مسؤل مولوي عبدالکریم :

په پکتیاکې دامریکایانو له تیښتې وروسته په ګڼو سیمو داسلامي امارت سلطه ټینګه شوې ده

پکتیا ولایت دافغانستان په جنوب ختیځ کې پروت دی ، چې لویدیځ ته یې غزني ولایت ، جنوب ته یې پکتیکا او خوست ولایتونه ، ختیځ ته یې دپاکستان قبایلي سیمه کورمه ایجنسي اوشمال ته یې لوګر ولایت موقعیت لري ، دپکتیا ولایت مساحت ۷۴۳۲ مربع کیلومتره او نفوس یې نږدې پنځه لکه تنه ښودل شوی دی.

دپکتیا ولایت مرکز دګردیز ښار دی او ولسوالۍ یې سیدکرم ، احمداباد ، جاني خېل ، زرمت ، ارمه ، احمدخېل ، لجه منګل ، شواک ، ګرده ثېرۍ ، ځاځي اریوب ، ځمکني او ډنډوپټان دي.

پکتیا ولایت چې پخوانی نوم یې لویه پکتیا دی خو وروسته ترې دپکتیکا او خوست په نوم ولایات جلا شوي دي ، یوه غرنۍ سیمه ده ، ددې ولایت یوازې دسیدکرم او زرمت سیمې اوارې دي نورې سیمې یې ټولې غرییزې دي ، ددې ولایت زیاتره غرونه په ځنګلونو پوښلي دي ، پکتیا ولایت دشوروي ضد جهاد په مهال دمجاهدینو یو قوي سنګر وو ، او ددې ولایت په غرنیو سیمو کې مجاهدینو ستر جبهات درلودل ، دامریکا په خلاف جهاد کې هم ددې ولایت دمجاهدینو ونډه بارزه او دپام وړ ده ، په دې ولایت کې چې د یرغل له پیل راهیسې وسلوال جهاد پیل شوی لا هم په پوره شدت دوام لري.

دمیدان وردګو ولایت دسیداباد ولسوالۍ اوسیدونکی تکړه مجاهد مولوي عبدالکریم له تیرو دوو کلونو راهیسې دپکتیا ولایت دجهادي مسؤل په حیث دنده اجراء کوي ، نوموړی تازه دپکتیا له سنګرونو راستون شوی دی ، په پکتیا کې دجهادي حالت په اړه مو ورسره مرکه کړې چې ستاسو توجه ورته غواړو !

پوښتنه :

محترم مولوي صاحب له هرڅه وړاندې درته هرکلی وایو ، تاسو تازه دجهاد له سنګرونو راستانه

شوي ياست ، او هلته مو په جهادي جبهاتو کې له نږدې خدمت ترسره کړی ، که تر هرڅه وړاندې دپکتيا دجهادي جبهاتو په اړه دسترګو ليدلی حال راسره شريک کړئ ؟

ځـــــواب :

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله واصحابه اجمعين.

تر هرڅه وړاندې له تاسو هم منته کوم ، د پکتيا ولايت دجهادي حالاتو په اړه بايد ووايم چې څومره چې زه دپکتيا په مختلفو ولسواليو او جهادي ساحاتو باندې وګرځيدلم ، له مجاهدينو سره به جبهاتو کې پاته شوم ، مجاهدين او اولسي خلک مې وليدل او ددښمن وضعيت مې په مخامخ ډول مطالعه کړ ، ماته معلومه شوه چې الحمدلله جهادي وضعيت دهرکله په پرتله سرکال مثبت او دمجاهدينو په ګټه وو.

دنظامي چارو غوندې دمجاهدينو ملکي کارونه هم پوره منظم وو ، دمجاهدينو شمير خورا زيات وو ،له حکومتي مراکزو پرته دپکتيا تقريبا ټولې اطرافي سيمې فتحه شوي دي او دمجاهدينو تر ولکه لاندې دي ، ددې ولايت يوه ولسوالی (ارمه) خو بشپړه فتحه ده ، چې هيڅ يو عسکر هم په کې شتون نلري ، دنورو ټولو ولسواليو دمرکز ګرديز په شمول اکثر ساحات دمجاهدينو تر ولکه لاندې دي ، دبيلګې په توګه که دپکتيا لويديځ ساحات وښييو له مرکز ګرديز نه نيولې و بيا تر پکتيکا او دغزني ترحدودو پورې دښمن يوازې له ګرديز څخه ښرنې ته په تللي سرک باندې پوستې لري او همدا سرک يې دخپلو اکمالاتو لپاره تينګ کړی دی ، نور دغه ساحه ټوله دمجاهدينو ترولکه لاندې ده.

بله مهمه خبره داده چې ددښمن جنګي موړال يو مخ له منځه تللی ، پخوا به موږ ليدل چې دښمن به دمجاهدينو دله منځه وړلو لپاره ډير تلاشونه کول ، مګر اوس موږ وليدل چې دوی يوازې دې ته متوجه وو چې څرنګه خپل ځان وساتي ، نور يې هيڅ تعرضي برنامه نه درلوده.

نو الحمدلله عمومي وضعيت ډير دخوشالۍ وړ وو ، دمجاهدينو په وړاندې کوم مشکلات نه وو ، او د اولسي خلکو همکاري هم له مجاهدينو سره زيات وه.

پـــــوښتـــنه :

په دې وروستيو کې دافغانستان له مختلفو سيمو څخه خارجي يرغلګر تښتي که دا راته ووياست چې دپکتيا له څومره سيمو خارجيان تښتيدلي دي ؟

ځـــــواب :

په پکتيا کې هم له ډيرو سيمو څخه امريکايي يرغلګر تښتيدلي دي ، له دې جملې په زرمت کې چې پخوا دوی ډيرې قرارګاوې درلودې اوس يوازې په يوه قرارګاه کې پاته دي له نورو وتلي دي ، دپکتيا په ختيځو ولسواليو څمکني ، ډنډو پټان ،او ځاځيو په سيمه کې دوی يوازې د ښهرنو په يوه قرارګاه کې پاته دي ، د ګرديز او خوست ترمنځ د ځدرانو په غرنيو سيمو کې چې دوی ډيرې قرارګاوې درلودې له هغو ټولو هم تښتيدلي دي.

دامريکايانو له تيښتې وروسته په سيمو باندې دمجاهدينو سلطه ټينګه شوي ده ، د پکتيا دوه مهمې لارې دګرديز ـ غزني او ګرديز ـ څمکنيو لار ددښمن په مخ ترل شوي دي ، په دې لارو په بشپړ ډول دمجاهدينو واک دی ، دغه راز په نورو لارو باندې هم

مجاهدينو كولاى شي ، هميشه تلاشي وكړي ، ددښمن افراد تعقيب كړي او دانتقالاتو مخه يي ونيسي.

پوښتنه :

هر پسرلي دښمن دخپل پوځي زور ښودلو لپاره هڅه كوي يو لړ عمليات ترسره كړي ، په پكتيا كې ددښمن دعملياتو ، چاپو او پوځي بريدونه سړنی وضعه څرنګه ده ؟

ځواب :

وراندې مې وويل چې دښمن دعملياتو وس او مورال بايللى دى ، ددښمن هوايي چاپې او شپني عمليات چې پخوا دمجاهدينو دشهادت لوى سبب وو ، اوس قطعا نشته ، دښمن يوازې د بې پيلوټه طيارو له لارې كوښښ كوي مجاهدين په نښه كړي ، مګر څرنګه چې مجاهدين احتياط كوي نو ددښمن دغه عمليات دومره مؤثر نه دي.

د پوځي عملياتو په اړه بايد ووايم چې سږكال دښمن تراوسه كوم دپام وړ پوځي عمليات نه دي كړي ، يوازې نږدې يوه نيمه مياشت وراندې دوى دپكتيا په زرمت كې درى ورځني پوځي عمليات اعلان كړل ، خو ددې عملياتو په مهال چې زه هلته په سيمه كې وم ، كله چې دسهاكو په ساحه كې ددښمن ټانګونه دمجاهدينو سيمې ته داخل شول ، نو پرته له دې چې څه پرمختګ وكړي ، له غرمې تر ماښامه ورباندې ۷ درنې چاودنې وشوې ، ټانګونه اوپوځيان يې له منځه لاړل او سخت درانه تلفات ورته ورسيدل ، له همدې چاودنو سره ددښمن عمليات په ټپه ودريدل ، او كوم پرمختګ يې ونه كړاى شو ، دښمن په راتلونكو ورځو كې يوازې دومره وكړل چې له سيمې بيرته ځان وباسي او خپل تلفات انتقال كړي.

دغه راز د وزي ځدراڼ ولسوالۍ په سروخيلو سيمه كې داخلي عسكرو نيت درلود ، چې دلته عمليات وكړي او يوه قرارګاه جوړه كړي ، دوى دې سيمې ته په ډير قوت راغلل ، مګر په كوم ځاى چې ميشت شوي تراوسه همالته محصور پراته دي ، چې هيڅ لاسته راوړنه هم نلري.

پوښتنه :

د ورځنيو عملياتواو ددښمن د تلفاتو په اړه ستاسو نظر څه دى ، چې دپخوا په نسبت دغه كچه زياته شوي كه كمه شوي ده ؟ دغه راز كه دمجاهدينو دتلفاتو په اړه هم معلومات راكړئ ؟

ځواب :

د ورځنيو عملياتو كچه خو دهركله په نسبت زياته شوې ده ، او ددښمن وضعيت هم ډير كمزورى شوى دى تردې چې دښمن اوس دځمكې له لارې هيڅ عمليات نه شي كولاى ، د ورځنيو عملياتو كچه دهركله په نسبت سږكال زياته ده ، خو البته د خارجي يرغلګرو دمړګ ژوبلې كچه ښايي كمه شوي وي ، ځكه چې خارجي يرغلګر اكثره وتلي دي او كوم يې چې پاته دي هغه په خپلو قرارګاوو كې پراته دي او كله هم له خپلو اډو بهر نه راوزي.

دمجاهدينو دتلفاتو په اړه بايد ووايم چې پخوا ته په پام سره دمجاهدينو تلفات تقريبا په نشت حساب وو ، ځكه پخوا ددښمن لخوا زياتره مؤثر بريدونه چې مجاهدينو ته يې تلفات اړول دشپې دچاپو په ډول ترسره كيدل مګر دامريكايانو په وتلو سره ددوى چاپې هم ختمې شوي دي.

پـــــــوښتـــنه :

امریکایي یرغلګر چې کومې سیمې پریږدي ، نو تر ډیره ددوی اتکاء پـه اربکیـانو یا محلي پولیسـو بانـدې وي ، چـې پـه ځینـو سـیمو کـې دوی لـه هغـه وروسته له سیمو وزي چې دغه وسلوال په خپل ځای پریږدي ، آیا په پکتیا کې هم دوی داسې کوم پروګرام ترسره کړی او اربکیان یې جوړ کړي دي ؟

ځـــــــواب :

امریکایانو په تیرو څو کلونو کې ډیره هڅه کړې وه چې په پکتیا کې اربکیان جوړ کړي خو دوی نه وو بریالي شوي او دخلکو له خوا څخه د رد جواب ورکړل شوی وو .

مګر په دې وروستیو کې چې امریکایانو یو مخ په تیښته مجبور وو ، په تیر مني او ژمي کې چې په ساحاتو کې مجاهدینو کم وو ، خارجیانو ډیر کوښښ وکړ چې اربکیان جوړ کړي ، له ټولو کوښښونه سره سره دپکتیا پـه اکثره ولسوالیو کـې دوی بریـالي نـه شول چې داربکیانو په نوم څوک استخدام کړي ، خو یوازې په جاني خیلو ، ځاځیو او ځمکنیو ولسوالیو کې دوی په محدود شمیر اربکیان جوړ کړل .

خو ددغو اربکیانو شمیر خورا کم وو په جاني خیلو کې دوی یوازې په دریو کلیو کې چې دولسوالۍ دمرکـز دریـو خـواوو تـه پراتـه دي ، دوی اربکیـان جـوړکړل ، خـو الحمـد لله دپسرلي پـه راتـګ سره او داسـلامي امـارت د دعـوت او ارشـاد د پروګـرام پـه تعمیل سره اوس له دې جملې په جاني خیلو او ځاځیو کـې هغـه اربکیـان چـې دوی جـوړ کـړي وو بیرتـه پـه تسلیمیدو دي.

پـه جـاني خیلـو کـې ددوو کلیـو اربکیـانو خپلـې وسلې مجاهدینو ته وسپارلې ، او پـه تیرو کړنو توبـه ګار شول ، دیوه پاته بل کلي اربکیانو هم رابطه کړې ده ان شـاءالله پـه نـږدې راتلـونکې کـې بـه هغـه هـم لـه مخالفتـه لاس واخلـي پـه ځـاځیو کـې هـم لسـګونه اربکیـانو تسـلیم شوي او لا هـم دا بهیر دوام لري چې هره ورځ ګڼ شمیر هغه کسان چې امریکایانو وسلې ورکړې دي خپلې وسلې مجاهدینو تـه سپاري ، اوس فـي الحـال یـوازې د پکتیـا د ځمکنیـو ولسـوالۍ دښهرنو په ساحه کې اربکیان شته ، خو دجاني خیلو او ځاځیو دتسلیمۍ بهیر په هغوی هم اثر کړی دی ، او الله تعالی ته امید شته چې په دې ساحه کې به هم مشکل رفع شي.

باید ووایم چې دالله تعالی پـه مرسته پـه پکتیا ولایت کې ددښمن دغه دسیسه یو مخ له منځه تللې ده ، او مجاهدین توانیدلي چې ددښمن یو اوږد پروګرام ددعوت په توسط سره ناکام کړي.

پـــــــوښتـــنه :

لـه ولـس سـره دمجاهـدینو درابطـې پـه اړه کـه معلومـات راکـړئ چـې آیـا عـام اولـس لـه مجاهـدینو خوښ وو ؟

ځـــــــواب :

داسلامي امـارت مجاهـدین چـې یـوازې نظـامي فعالیتونـه نلري بلکـې داولـس دخـدمت او هوسـاینې لپاره یـې قضـایي ، تعلیمـي او اصلاحي خدمتونـه هم شته ، کله چې عام اولس دحکومتي فسـاد او ظلم پـه مقابل کې دمجاهدینو شفاف او پـاک خدمتونـه ګوري ، نو د ډیرې خوشالۍ او ویاړ احساس کوي.

په پکتیا ولایت کې که په تعلیمي برخه کې ووایو دحکومت دواک په سیمو کې هم مکاتب شته او دمجاهدینو دواک په ساحو کې هم ، مګر دمجاهدینو دواک دسیمو تعلیمي نظام په مراتبو تر هغه تعلیمي سیستم ښه دی چې دحکومت ترکنټرول لاندې دي ، ځکه دحکومت په ساحو کې د ټولو اداراتو غونډې دمعارف کارکوونکي هم خودسره دي ، که ښوونځي ته استاد یا شاګرد حاضري ورکوي یا يې نه ورکوي ، کومه پوښتنه او مراقبت نشته ، مګر مجاهدین د خپلو ځانګړو مسؤلینو په توسط دمعارف اداري تر ځانګړې مراقبت او نظارت لاندې ساتلې دي ، همیشه د استادانو او شاګردانو حاضري تعقیبوي ، او د معارف ټول اصول لکه څرنګه چې لازم دي هماغسې تطبیقوي . له همدې امله خواوس حکومتي چارواکي هم په دې اعتراف لري چې دمجاهدینو په سیمو کې تعلیمي سیستم ډیر بریالی دی.

دغه راز دقضاء په برخه کې مجاهدین دهرې ولسوالۍ په سطحه ملکي تشکیلات او محاکم لري ، چې عام خلک يې له پریکړو خوښ دي ، ځکه بالمقابل دکرزي حکومت خو په فساد کې لومړی نمبر مقام ګټلی ، چې اوس وربانديې دهیڅ افغان باور نه دی پاتې.

پـــوښتـــنه :

او په پای کې محترم مولوي صاحب که دپکتیا دخلکو یا دافغانستان دخلکو په نامه کوم پیغام لرئ مونږ به يې د خپلې نشریې له لارې ورته ورسوو.

ځـــواب :

د خپل مسلمان اولس په نامه مې پیغام دادی ، چې لکه څرنګه چې ډیرغل په تیرو دوولسو کلونو کې يې خپله حوصله او مورال له لاسه ورنکړې په راتلونکي کې هم په خپل جهادي هوډ محکم واوسي ، لکه څرنګه چې مجاهدین اوسیدلي همداسې مجاهدین واوسي.

باید زموږ اولس دې ته متوجه وي ، چې امریکایان ډیر بې رحمه او چالاک دښمنان دي ، دوی چې په افغانستان کې يې شکست خوړلی خامخا به کوښښ وکړي چې د شومو دسیسو په عملي کولو سره له افغانانو بدل واخلي ، زموږ اولس باید ددوی دسایسو ته متوجه وي ، او اجازه ورنه کړي چې ډیرغلګرو او دهغوی دلاسپوڅو ارمانونه په دې هیواد کې ترسره شي.

۲۰۱۳/۷/۲۴ میلادي

دمیډیا تود ډګر او اسلامي نړۍ

فرهاد

صحافت عربي لفظ دی، چې له صحیفې اخستل شوی، صحیفه هغه لیکل شوي مواد دي، چې وخت په وخت خپرېږي، لکه ورځپاڼې، اونېزې، پنځلسېزې او میاشتېزې مجلې او جریدې شوې، دې ټولو ته صحافت ویل کېږي

غرض دا چې صحافت د لیکل شویو موادو پورې اړه لري، خو اوس یواځې د لیکلو موادو پورې خاص ندی، بلکې دمیډیا دوارو ډولونو ته که هغه چاپي ده، لکه ورځپاڼې، مجلې، او جریدې او که برېښنایي ده لکه تلویزون او راډیو شوه صحافت ویل کېږي.

دصحافت د استادانو په وینا: صحافت یا میډیا یواځې د خپل مافي الضمیر اظهار ته نه وایي، بلکې د خپلو لوستونکو او کتونکو اذهان د خپل مافي الضمیر سره برابر جوړول غوره صحافت دی. که څه هم عموماً په پروپاګند کولو د صحافت او میډیا اطلاق کېږي، خو د دې باوجود پوهان په دې اتفاق لري چې میډیا او صحافت دعامه پوهاوي لپاره تر ټولو ښه مؤثره ذریعه ده.

له شک پرته که میډیا وغواړي نو په آسانه کولی شي چې یوه ډله یا تن دعامه مقبولیت معراج ته ورسوي او په مقابل کې یې بله ډله یا تن دومره سپک او سپور کړي چې هغه په تحت الثری کې و غورځوي.

له زمري نه میږي او له میږي نه زمری جوړول دمیډیا د چپ لاس کار دی، هم دا وجه ده چې نن سبا میډیا په ټولنه دومره آغیز او تاثیر لري چې خلکو په غیر محسوس ډول خپل اذهان دمیډیا تابع ګرځولي، پربل سپیناوي: په نړۍ کې خلک دمیډیا په فکر، فکر کړي، دمیډیا په ستر ګو لیدل کړي، دمیډیا په غوږونو اوریدل کړي او دمیډیا د تخمینونو په ترازو تول کړي...

له تاریخه خبر لوستوال په دې حقیقت ښه پوهیږي چې دصحافت، میډیا او ژورنالزم اصطلاحات وروسته ایجاد شوي خو استعمال یې له ډېر پخوا څخه کید، بلکې په کال ۱۸۹۷ز کې چې دنړۍ څخه درې سوه یهودي مفکران راټول شول او په دې یې بحثونه کول چې دوئ څنګه کولی شي چې په ټوله نړۍ مونګلې خښې کړي؟ هغوئ د دې لپاره دوه مهمې پرېکړې وکړې:

لومړی: دټولې نړۍ په تیلو، سرو زرو، او طبعي زخایرو دقبضې موندلو نظریه یې وړاندې کړه او د دې لپاره یې عملي کړنلاره هم وړاندې کړه.

دوهم: دمیډیا اهمیت منلو تر څنګ یې ا د دې لپاره چې میډیا دځان کړي جلا عملي کړنلاره تصویب کړه.

دهغه را وروسته ترننه پورې نړیوال میډیا دیهودو په بشپړ واک او قبضه کې ده او نړۍ کې ترې دیهودي اهدفو او ګټو لپاره دیوې قوي دفاعي او اقدامي وسلې په حیث کار اخلي، دنورې نړۍ داذهانو او فکرونو داړولو او تغیرولو په لړ کې ورنه اعظمې ګټه پورته کوي

له شک او تردد پرته او سنی دور دمیډیا او صحافت دور دی له یوولسم سټمبر وروسته دجنګ لپاره د ټوپک، توپ، ټانګ او طیارې په ځای میډیا دقوي او مؤثرې وسلې په حیث و کارول

شوه.دیته په پام ویلای شو چې نن ورځ تر ټولو تود جنګ دمیډیا په محاذ روان دی . دحرب او ضرب په ځای دمیډیا او صحافت ډګر ډېر تود دی ،اوس بری یا شکست چې څومره تر جنګي تجربو او پوهې پورې تړلی دی له دې نه زیات دمیډیا تر پروپاګند پورې هم اړه لري ،هم دا میډیا ده چې دیوه ډېر بې زړه سړي نه زمری اوله زمري نه ګیدړ جوړولی شي . له فاتح نه مفتوح اوله مفتوح فاتح جوړولی شي

داسمه ده چې اسلام ددغه ډول صحافت او پروپاګند اجازه نه ور کوي،خو داهم روښانه ده چې اسلام هیڅکله هم دمیډیا داهمیت نه انکار نه کوي ،اسلام دابلاغ اهمیت نه یوازې مني،بلکې استعمال یې ضروري بولي ،دحق داحقاق اودباطل دابطال لپاره یې موږ رنه وسله مني

خوافسوس ! چې دمیډیا میدان اغیارو قبضه کړی دی ،اومسلمانان پکې وروسته پاتې دي . خوددې باوجود له میدانه تېښته دستونزو حل نده بلکې په میدان کې ودرېدل اواستقامت بری دی ،اوس چې دمیډیا بشپړ واک دیهودو اونصارى سره دی ،هغوئ چې هرڅېري هم په مسلمانانو دیرغل تابیا ولري نو لومړی ترهر څه دمیډیا دڅپو له لارې خپل ځواک اوزور شیندي ،له دې لارې مسلمانان مرعوبوي اودخپلو نارواارادو منلو ته یې اړ کوي تر ډېره دهغوئ دغه کوښښونه بریالي هم دي .

په دې حالت کې دهغوئ دمقابلې لپاره داسلامي میډیا یا صحافت اړتیا ډېره زیاته ده ولې ښکاره ده لوېدیځ دخپلې میډیا له لارې داسې پوچ تبلیغ اوپروپاګند کوي چې په ترڅ کې یې په ښکاره لوړ انساني او اسلامي اخلاق،سیاسي او کلتوري اقدار تر پښو لاندې کېږي،یواځې اسلامي نړۍ دکفري نړۍ ددغه یرغل مخه په فعاله اوغښتلې میډیا باندې نیولی شي،چې خپله د پیاوړي اومؤثري میډیا څښتنان شي او داغیارو هر پروپاګند ته غابښ ماتوونکی ځواب ووایي

بل څنګه چې نړۍ کې دمیډیا څخه دفحشاوو ،بې حیاتوب اولوڅتوب لپاره کار اخستل کېږي چې په دې لړ کې یې تاثیر نهایتي مؤثر دی ،په ځانګړي تو ګه دځوان نسل په بې لارې کولو کې مهم نقش لري ،مسلمانان کولی شي چې دیوې غښتلې میډیا په جوړولو سره له خپلو معنوي ارزښتونو دفاع وکړي . خپل ځوانان دانحراف اوبې لارېتوب څخه وژغوري

بل ستم دادی چې دهمدې کفري میډیا له څپونه وخت په وخت دمسلمانانو په نامه دکارپوهانو په نومونو دګردیو میزونو په ترڅ کې دمسلمانانو په لباس کې داسې افکار خپروي چې هغه داسلام یوډېر مسخ شوی شکل دنړۍ په وړاندې ږدي ،هغوئ په ښکاره داسلامي شریعت حکمونه دخپلو فرسوده اذهانو تابع بولي ، هغوئ ددې په ځای چې نړۍ کې دمظلومو مسلمانانو سره خواخوږي اوهمدردي ښکاره کړي سرچپه دظالم داعیه برحق بولي ،مظلوم مسلمانان ګرم اوپړه وړاندې کوي ددې وجه داده چې هغوئ دپر دیو معاش خواره دي ،له خولونه یوازې هغه الفاظ اوتوري وباسي چې په هغو ترې یهودي اونصراني بادران یې خوشحاله کېږي

په دې لړ کې واقعاً کوم اسلامي قلموال اولیکوال چې دمیډیا په پراخ او اوږده میدان کې داسلامي اقدارو څخه ددفاع لپاره لیکنې اوقلمي مبارزه کوي دستاینې اوشاباسي وړ او حقدار دي هغوئ په ډېرو کمزورووسائلو دپر مختللې میډیا مقابلې ته ملا تړلې ،دنړۍ نور مسلمانان بادید دهغوئ حوصلې لوړې وساتي ، دهغوئ په نوازش اوپالنه کېدې له بخل اوغفلت څخ کار وانخلي ولې له دې پر ته د ۲۱ مه پیړۍ دمسلمانانو دبري لپاره هیڅ چانس نشته ولې دکفر له متحد ځواک سره ډغره ترهغه ناشوني ده څو چې په هغوئ باندې بیر ته دهغوئ له خپلې وسلې اومورچې برید ونشي . له دې وجې اشده اړ تیاده چې دنړۍ اسلامي هېوادونه په دې اړه نور چوپ پاتې نشي، اوپه دې اړه مسؤلانه ګامونه واخلي ،اوپه دې باید غوروکړي چې ولې مسلمانان پرلپسې دذلت په حالت کې قرار لري دکافرانو دبریدونو اویرغلونو ښکار دي ؟او دمیډیا له لارې کېدونکي پروپاګند په مخنیوي کې تر اوسه پورې پاتې دي ؟

سجاد

د اسلام او سیکولرزم ټکر

دسیکولرزم پلویان ځانونه په ډېر ویاړ سره سیکولرستان وایي او چې واک ته ورسیږي سیکولرزم په ځانځانه پلي کوي، ولې دسیکولرزم پرته دهېواد ترقي ناشوني ده په دې لړ کې هغوئ خپل دلایل وایي

ددې په مقابل کې دیني ډلې یا حلقې اسلامي نظام غواړي ، هغوئ د اسلام سیاسي او اقتصادي نظام دنجات او فلاح لپاره یواځینی ضامن نظام بولي ولې اسلام الله (ﷻ) د انسانانو ددنیا او اخرت دنجات لپاره غوره او رالیږلی دی ، او له هغو ټولو نیمګړتیاوو او نواقصو نه پاک دی چې په سیکولرزم کې شته دي ، ولې اسلام د انسانانو خالق جوړ کړی دی ، پکې دهر تبعیض او توپیر پرته دټول بشریت مصالح ،سوکالي او ترقي په پام کې نیول شوي ده او ددمدې لپاره دنیا ته رالیږل شوی څو انسانانو ته دالله (ﷻ) او دهغه دړسول (ﷺ) دحکمونو په پیروي کې دامن ژوند ور کړي .

او س راځو دې ته چې سیکولرزم څه بلادی ؟ کله او ولې پیدا شو؟

ددې پوښتنو دځوابولو څخه وړاندې دسیکولرزم شالید څېړو: تر ځلورمي عیسوي پیړۍ عیسوي دین ته هیڅ مقبولیت نه و په برخه ،دړومي سلطنت دزوال وروسته دعیسویت عروج پیل شو، دړوما سلطنت هغه خپل درسمي دین په توګه ومانه ،دهغه وروسته د کلیسا نیمر سیاسي تنظیم جوړ شو، داچې په مقابل کې یې څوا ک نه و، له دې وجې ورته په اسانه دا

قتدار وا کې په لاس ورغلي ،پادریان بې تاجه پاچایان شول او د کلیسا دترقۍ دوره پیل شوه ،تر دې پورې چې ټول وا کمن د کلیسا تر رحم و کرم لاندې شول ، کلیسا کې میشت پادریان د انسانانو او خدای تر منځ رابط ګڼل کېدل، بل لوري ته داچې عیسوي دین دټولنې او سیاست په باره کې هیڅ اصول نه درلودل او دعیسی (ؑ) لارښوونې یواځې داخلاقي شریعت په اړه راټولي وې ، د کلیسا وا کمن او منصب داران ولګیدل هغوئ پکې دسیاست فلسفه او ټولنیز اصول ځای کړل، هغوئ خپل وضعي قوانین په خلکو مسلط کړل ، له ځانه جوړ و قوانینو ته یې دخدایي قانون نوم ور کړ ، په دې سره د کلیسا لوی پاپ دعیسویت نړۍ ددونیاوي او روحاني چارو څښتن شو، ددې دیني وا کمنی اصول له دین څخه نه وا خستل شوي ، بلکې د کلیسا منصب دارانو لخوا جوړ شوي وو ،د اطاعت لپاره دهغوئ لوبه وسله له عیسویت څخه ویستل و ، چې هر وخت به یې بې دریغه استعمالوله ،ددې په ضد سخت غبر ګونونه راپورته شول تر ټولو اول دفرانسي پاچا د کلیسا دسلطې څخه ځان ته ازادي تر لاسه کړه ،په دې توګه کرار ، کرار د کلیسا وا کمني کمزورې کیده تر دې پورې چې بالاخر ختمه شوه .

دقرون وسطی لوی منکر چې دپاپیت شدید مخالف و ، هغه "مارسیر اف پیډو" نومیده، هغه د کلیسا له تنظیم سره سخت مخالف و ، او دهغه په پالیسي یې سختې نیو کې درلودې هغه دټولو ناخوالو مسؤلیت د کلیسا په غاړه اچوه ، د احتیقت دی

چې د کلیسا منصب داران نه یواځې داچې د دیني چارو تیکه داران وو بلکې له ټولو قوانینو څخه په مصؤنیت کې هر ډول هوسا او ناروا عیشونه کول د عامو خلکو د اصلاح سره یې چندان علاقه نه لرله.

د کلیسا په مخالفو اشخاصو کې یو لوی نوم د "میکا ولی" دی چاچې په لومړي ځل دا په ډاګه کړه وویل: چې د عیسویت اخلاقي لارښوونې د هېواد د سیاسي چارو سره هیڅ اړیکه نلري ، هغه د هېواد د سیاسي چارو له دین څخه جلا کولو مخې پیل کړي، سیاست یې له دینه جلا کړ ، په دې سره د دوارو لارې هم جلا شوې، دین د شخصي معاملاتو او چارو لپاره خاص کړای شو او د هېواد سیاست ته د عقل او تجربې له زاوې کتنه پیل شوه ، په دې تو ګه د سیکولرزم حاصل دا راوزي: سیکولرزم دوه بنسټونه لري ۱. دین له ټولنیزو د چارو سره اړیکه نلري ۲ـ په پریکړو کې حاکمانه رول به د خلکو یا د هغوئ د استازو وي ، څنګه چې په لویدیځ کې خلک د خپلو روا او ناروا د دوارو غوښتنو سره سم پریکړې کوي ، د سیکولرزم پلویان دلته هم همسې هم کول غواړي، په اسلامي هېوادو کې هم د هغه نظام پلي کولو لپاره کوښښونه کوي ، د سیکولرز مطلب دا دی چې ټولنه هر څه غواړي، هره فیصله کوي ،حلال حراموي ، که حرام حلالوي ،مذهب او دین به هغه نه چیلنجوي !

د مسلمانانو په هېوادو کې ازادخیال او غرب پلوي اسلام ته هم د فاشزم په نظر ګوري ، څنګه چې په لویدیځ کې عیسویت ته کتل کېږي هغوئ دلته هم دین د ترقۍ په وړاندې خنډ بولي ، هغوئ غواړي چې دین او سیاست سره جلا کړي ، د هغوئ په ناقص ګومان دین د ترقۍ په وړاندې خنډ دی د دې لپاره هیڅ کوم معقول دلیل نلري یواځې د دینه چې لویدیځ کې دواړه سره جلا دي! هم هغه پیروي کوي

هغوئ اسلام ندی مطالعه کړی یواځې د لویدیځ ړوند تقلید کوي، حال دا چې د اسلام او عیسویت ترمنځ د ځمکې او اسمان توپیر دی ،ولې عیسویت د پادریانو د خوساخته نظریو دین دی او یوکې د هغوئ رای ته د وحي په سترګه کتل کېږي او هر چې د اسلام معامله ده هغه د دې څخه جلاده، اسلام هیڅکله ذاتي او شخصي معامله نده بلکې د ټول ژوند لپاره پوره ضابطه او قانون دی ، اسلام یواځې تر څو عباداتو او اخلاقیاتو محدود ندی ، دلته د هرې شعبې لپاره خپل اصول او مقررات تاکلي دي د سیاست ، معیشت او معاشرت لپاره روښانه اصول معلوم دي .

اسلام او حکومت له یوبله نه جلا کېدونکې دي ، دواړه له یوبل پرته نشي تم کېدای ، د اسلام مثال د یوې ودانۍ دی ، او حکومت د هغې ودانۍ ساتونکی دی ، د هرې ودانۍ چې بنیاد نه وي هغه پرېوزي، د هرې ودانۍ چې ساتونکی نه وي هغه لوټ کېږي، اسلام په یوه سر کې د دوه ستر ګو پشان دی هیڅ سړی دانه غواړي چې څما یوه ستر ګه بس ده دومره او باسئ ،همدارنګه اسلام د مسلمانانو یواځینی متحرک ځواک دی او اسلام د مسلمانانو د اجتماعیت ی مرکزیت دی.

د نړۍ په کومو هېوادو کې چې سیکولر حکومتونه جوړ دي هلته په مسلمانانو باندې ځمکه سره تبې ده ، بریتانیه چې سیکولر هېواد دی هلته له مسلمانانو سره بد روش کېږي ، امریکا سیکولر هېواد دی چکې له اسلام او مسلمانانو سره ناوړه امتیازي رویه کېږي ، هندوستان یو سیکولر هېواد دی چکې له مسلمانانو د بغض او له عناد نه ډک چلند کېږي او یواځې د هندو مذهب د ترویج لپاره کار کوي لنډه دا چې سیکولرزم یو ناکام او بدنام نظام دی چې هیڅ اخلاقي حدود او قیودات نلري ،چکې هره ناروا روا ګڼل کېږي ،له دې وجې سیکولرستان دي دلته هغه نسخې نه عملي کوي له کومو نه چې خپله د لویدیځ د سالم ضمیر درلودونکي وګړي دوه پوزو ته راغلي ، که دوئ وړ پسې لیونۍ او لاهانده وي وړ پسې هلته ته دې ورشي ، مسلمانانو او په خاصه افغانانو ته د دغه غیر فطري نظام له راوړو نه الامان !

د فقې تاریخ

دوهمه برخه

لیکوال: د اسلامي نړۍ ثقه عالم ډاکټر محمد حمید الله (رح)
ژباړه: شهاب منصور

داچې اسلامي قانون کې ماخذونه لري او په هغوکې دپخوانیو پیعمبرانو شریعتونه هم راځي، ددې لپاره یومثال درکوم، څو څما مفهوم تاسوته په ښه توګه څرګند شي، دعظیم الشان قرآن په "نورسوره" کې دزنا سزا سل "دُرّي" ښودل شوي اوپه اسلامي قانون کې دا الله (ﷻ) دا استاري (حضرت محمد ﷺ) دعمل په اساس دواده کړیو لپاره دزنا په صورت کې د" رجم " یعنې په کاڼو دهغوئ دویشتو ذکر هم راغلی، اوس پوښتنه داده چې داد" رحم " حکم یعنې د کاڼو په ویشتو دتورنو(مجرمانو) وژلو اساس څه دی؟ ولې په عظیم الشان قرآن کې حو ددې ذکر ندی راغلی، له دې وجې له ډېرو خلکو سره دا بد ګوماني پیدا کیدای شي چې درحم قانون په اسلام کې نشته، یواځې سل " دُرّي " وهل راغلي اوهمدا بس دي، خوکه غور وکړو یقیناً به جوته به شي چې دا انګیرل په ځای اوسهي ندي، ځکه په عظیم الشان قرآن کې " بالواسطه" دغه قانون شته، هغه داسې: قرآن وایي: تاسې دهغو پیغمبرانو چې وراندې تیر شوي په قانون عمل وکړئ! اودرجم په اړه قانون په تورات اوانجیل دواړو کې راغلی و، رسول (ﷺ) هم هغه قانون توثیق اوقبول کړی، داقانون اګرکه په قرآن کې نشته ددې معنی داشوه چې عظیم الشان قرآن هغه قانون ندی منسوخ کړی، هرکله یې چې ندی منسوخ کړی،

ددې معنی داده چې هغه پخیل حال پاتې دی، چې کله پخپل حال پاتې شو نورمونږ لپاره هم قانون دی، مونږ ندی جوړ کړی، بلکې دخدای (ﷻ) جوړ کړی قانون دی، مونږ ته وړاندې عمل واجب دی، ځکه په تورات کې دواده شویو دزناکولو صورت په اړه په صراحت سره راغلي دي چې هغه دې رجم کړای شي اودهغو لپاره چې ودونه یې نه وي کړي دهغوئ دزنا صورت په اړه دتورات حکم دا دی چې له هغوئ به دې مالي جرمانه واخستل شي اوبس، داقانون قرآن منسوخ کړی، ولې یواځې په حرمانه اخستو بسیا کول بداحلاقي نوره هم ریاتوي، په ځای یې بل مؤثر قانون اړتیا وه، نودا حکم یې وکړ چې سل " دُرّي " دې ووهل شي، هرکله چې مونږ داموموچې په قرآن مجید کې یوپخوانی حکم دسکوت په غوره کولو سره پخپل حال پریښودل شوی اوبله برخه یې په صراحت سره منسوخ کړای شوي، نودادواړه داسلامي قانون برخه شوي اوپه دواړو باندې عمل واجب دی، څما موضوع داوه چې دپخوانیو پیغمبرانو په شریعتونو باندې دمسلمانانو لپاره هم عمل واجب دی، خوپه دوه شرطونو: یوداچې قرآن مجید پکې ترمیم اوبدلون نه وي کړی، بل مونږ ته دباعتماده طُرقو په واسطه رسیدلی وي.

اوس موږ داسلامي قانون دترقی په اړه یوبل اړخ را اخلو! دقانون څه برخه په ښه صراحت سره قانون جوړونکي یعنې الله (ﷻ) اودهغه رسول (ﷺ) ترموږ را رسولي، دهغه په جوړولو کې انسان کوم رول نلري، که په قرآن اوحدیث کې سکوت (چوپتیا) شوی و، څنګ چې ما وراندې دمعاذبن جبل (رض) دحدیث راوړو په مهال وویلي چې: په دغسې حالت کې بیا اجتهاد کولو ته ضرورت لرو، یعنې دتفکر اوجیل سلیم عقل له پلوه که موږ کومه قاعده استنباط کوو، هغه به مناسبه وي، رمونږ عقل اوزموږ ضمیر به یې قبلوي، داکار قانونپوهان کولی شي بل څوک نه، فرض کړئ یوطبیب دی د قانون جوړولو سره هغه

سروکاربلرې ،یا دودې پخونکي (نانبای) لـه قـانون جوړولو سـره هیڅ نسبت نشته هم داسې نور... دقانون جوړولو کار دقـانون دمتخصصـنو دنده ده دبل چاکارندی ، له دې وجې موږ گورو چې په اسلامي تولنه کې دقانون جوړولو کار څوک کوي او په قانون پوهیدونکي څوک دي،؟ دادوه ډوله خلک دي یو واکمنه محکمه ، دویم فقهاء اومفتیان لـه چا نـه چې موږ تل دقانون په اړه پوښتنې کوو ، چې دفلانی مسئلي په اړه څه حکم یاقانون دی ؟،هغوئ موږ ته ښیي چې دااسلامي قـانون یاحکم دی ، حو فقیه اومفتي نفاد نشي کولی، ددې توپیر باوجود دواړه دیلي قانون جوړوي، داساسي قانون حیثیت حو دقرآن اوحدیث دی ، خوکه کله قرآن اوحدیث ساکت (چوپ وي) هلته هغوئ داجتهاد اواستنباط له لارې دقانون معلومو کوښښونه کوي ، هغوئ موږ ته د قانون ښودنه هم کوي اوپه موږ د باندې یې نفاد هم کوي !

یومثال تاسوته درکوم په قرآن مجید کې دغله لپاره سزا ټاکلې ده ، خوکه یوتن کفن پټ کړي ، یعنې دیوداسې چا څخه مال واخلي چې هغه دفاع نشي کولی یعنې دکوم مړي قبر پرانیزي په قبر کې دننه دهغه نه کفن وباسي ایا دېته هم غلا ویل کیږي ؟ زموږ فقهاء وایي:چې داغله نده ، پوښتنه داده چې دکفن غلا کولو سزا څه ده ؟ ایا هغه سزا ده کومه چې دعامي غلا لپاره ده ،که ددې لپاره کوم بل قانون ته اړتیا ده ؟ په دې کې سیوا داستنباط او اجتهاد ،دغور وفکر کولو اودقانون معلومولو پرته بل صورت ممکن ندی، ولې چې په قرآن مجید کې ددې ذکر ندی راغلی، په دې صورت کې زموږ فقهاء استنباط کوي اوداستنباط لپاره دقیاس څخه کار اخلي ، زه تفصیلاتو ته نه رم یواځې تاسوته مثالونه درکوم څو پوشو چې په کومو، کوموصورتونو کې فقهاوو ،مفتیانو اوقاضیانوته دقانون معلومولو اوپه قانون کې دریاتوبې اړتیا راځي ؟ ولې دعلا په اړه قانون معلوم و حو دکفن پټولو په اړه قانون نه و، هغه چې کله زموږ قاضي اومفتي معلوم کړ ، نوزموږ دقانون حـر شو، په دې سره زموږ په قانون کې زیاتونه راغله ، داکار درسول الله (ﷺ) په دور کې هم لیدل کیږي څنګ چې په یوه حدیث کې په صراحت سره راغلي :رسول الله (ﷺ) خلکوته وویل :که دهر خبر په اړه معلومات غواړئ نوله ابوبکر صدیق نه پوښتنه کوئ ، حضرت ابوبکر صدیق (رض)قانون پوو، صحابه کرامو ددې لپاره چې په هره مسئله کې رسول الله (ﷺ)ته زحمت ورنکړي، تلل له ابوبکر صدیق (رض)څخه یې پوښتل ،هغه ته یو ډول اجازت و ، چې دوړ،وړو مسائلو په اړه فتوا ورکړي ، که مسئله به مشکله وه ابوبکر صدیق (رض) به هغوئ ته ویلي :تاسي انتظار شئ !زه به دې اړه له رسول الله (ﷺ) څخه پوښتنه کوم بیا به وواېم درته ، اوکه له وړاندې به ورته معلومه وه هغوئ ته یې ویلې: په دې اړه درسول الله داحکم کړی دی ، په دې عمل کوه ،نود قضا او فیصلو لړی له نبوي دور څخه شروع شوي ، ماته دانده معلومه چې دمفتیانو شمیر څومره وو؟ یواځې یوه واقعه څما په ذهن کې شته هغه ما بیان کړه ، دحضرت ابوبکر صدیق (رض) په اړه تاریخونوکې په صراحت سره راغلي چې هغه رسول الله (رض) مفتي ټاکلی وه ، ممکن نورصحابه به هم وو ، اوپاتې شوقاضیان داسلامي سلطنت په پراختیا سره دهغوئ په شمېر کې زیاتوالی راته ، په حاص توګه یمن چې یولوی ولایت و اوپه ذهني لحاظ هغه مهال پرمختللي سیمه وه ،هلته خلکو کوچیتوب نه کاوه په کلیو کې اوسیدل ،سوداګري اوکرهنه یې کوله ،وله دې وجې یمن ته دزیاتو چارواکو دلیږلو یادونه راغلي چې پکې والیان اونور چارواکي هم راځي ، په هغوئ کې دیوه یادونه اوس وشوه یعنې معاذ بن جبل (رض) چې هغه والي هم و اوقاضي هم ، خو په دې سربیره دیوبل چارواکي "عمروبن حزم" په اړه هم راغلي چې نوموړی دتعلیم مسؤل هم و ، دطبري په وینا:دهغه دنده داهم وه چې کلي په کلي به گرځیده خلکوته به رده کړي ورسودي ، غالبا په هرځای کې به یې مدرسې پرانستلي ، دیوه ځای خلکوته دعظیم الشان قرآن ښودو وروسته به بل کلي ته لاړ هلته به ورته توګه حلکوته دقرآن رده کړي ورکولي ،بیا به کلي ته روان شو په هرصورت دطبري الفاظ دي :" كان ينتقل من امارة عامل الى عامل " چې هغه به له یوې سیمي څخه بلې سیمې ته ،ته اوکار یې خلکوته زده کړې ښودل و، دهغو قاضیانو په لړ کې چې یمن ته لیږل شوي یوابو موسی اشعري (رض) هم و ، په ځانګړې توګه دهغه یادونه څکه کووم چې دهغه تقرریانه هم په تاریخ کې خوندي ده ، معلومیږي چې هغه زمانه کې دنظم ونسق اصول دانه وه چې تنها یوتن دې یوځای ته لاړ شي ، څنګه چې حمید الله بهالپورته راغی اوویلي یې : دلیکچر ورکولو لپاره راغلی یم ، دپوهنتون رئس هم خبر نه و ، ددې برحلاف له مرکزیتې پلازمینې څخه به یوه

لیکل شوي پابه نومول شوي والي ته ورکول کېده یولیک به دهغه سیمي دحلکو په نامه هم وه ، په هغه کې به لیکل شوي وه فلانـی تـن موتاسي ته دوالي یاقاضي یاعامل په توګه درولیږه ، هرکله چې هغه درشـي اطاعـت یـې وکـړئ ، دهغـه اطاعـت آن خمـا اطاعـت دی! اوقاضیانو دتقرر لپاره چې کومه پاڼه به ورکول کېده په هغه کې به دهغوئ دخپنو فرایضو یادونه هم شوي وه ، دغه طریقه موږ ته درسـول الله (ﷺ) په وخت کې هم په لاس راځي ، حضرت عمروبن حزم (رض) ته ورکړل شـوی لارښـود پاڼه نـن هـم خونـدي ده ، دحضـرت ابوموسـی اشعري (رض) په اړه ابـن سـعد لیکلي چـې هغـه په لیـک لوسـت بـه پوهید ، درسول الله (ﷺ) تروفات پورې امـي و ، دهغـه وروسـته حضرت عمر (رض) دنوموړي دننه دسترو صلاحیتونو اودهغه پراخو تجربو په وجه چې درسول الله (ﷺ) په زمانـه کـې یـې پـه مختلفـو دنـدو کـارکړی و ، دعراق دفتح وروسـته یـې نومـوړی دبصرې دوالي پـه تـوګـه مقرر کـړ ، داچې خپله نوموړي ته لیک لوست نه وياد ، له دې وجې یې یو لوستی اوهوښیار سړی دخان لپاره دمنشي په توګه وګوماره ، چې هغه په دین عیسایي و ، یوځل حضرت عمـر (رض) ابوموسـی اشـعري (رض) دخـه مشوري لپاره مدینې منورې ته وغوښته ، نومـوړی لـه خان سـره خپـل منشي هم مدینې بوته ، خپلـه دحضرت عمـر (رض) دلیدو لپاره دسـه مسجد ته لاړ اومنشي یې بیرون پریښود ، عمر (رض) ترې وپوښـتل ایـا تاخپل منشي له خان سـره نـدی راوسـتی هغـه چیرې دی ؟ وې ویـل بیـرون دی ، عمـر (رض) وپوښـتل مسـجد تـه ولـې نـه راځـي ؟ وې ویـل عیسایي دی ، عمر (رض) ته دامناسب بنـکاره نشـوه سـملاسـي یـې ووېل ته ! خپل منشي بدل کړه ولې هغه مهال چې بصره نوې فتحه شوې وه ، پکې بشپړ امنیت نه وراغلی ، یووالي چـې ورتـه دګیـو چـارو واکونه ورکړل شوي او هره پریکـړه یـې سـملاسـي پلـې کولـی شـي ، هغه به منشي ته دبوقصي په اړه دیوخه لیکلو ویلي اومعلومـه نـه وه چې منشي څه لیکل ؟ ، دوالي له مهر سره یوځای دهغـه لیکـل لیـږل کیدل ، له دې وجې داحتیاط کولو اړتیا زیاته وه ، حضرت عمـر (رض) ورتـه حکم وکړ چې خپل منشي بدل کړه ، نن هم که بالفرض دکوم اسـلامي هیواد ولسمشر ته لیک لوست نـه راځـي داحتیـاط غوښـتنه داده چـې هغه هیڅکله باید هندو ، روسـی ، امریکـایي اوـورد منشـي پـه تـوګـه مقـرر نکـړي البتـه حضـرت عمـر (رض) پـه ـوروسـمي چـارو کـې لـه عیسویانو هم کار اخستی ، یعنې دارتیا په وخـت یـې لـه نـا مسـلمانو څخه هم کار اخیستی ، خوپه هر هغه ځای کې چې سـلیم عقـل ددې غوښتونکی وي چې په هغوئ دې باورونکړای شـي هلتـه بیـا احتیـاط پکاردی داسي ګڼ مثالونه شته د" هرمز" په نوم یوایرانی و ، لـه هغه سـره دبـه حضـرت عمـر (رض) پـه سیاسـي اوجنګـي معـاملاتو کـې مشوري کولي .

درسول الله (ﷺ) په زمانه کې داسلامي قـانون دترقـی لپـاره چې کوم لومړني مأخذونه و ، هغه مایه ګوته کړل دهغـو څخـه عـلاوه په اسـلامي قانون کې دوه څېزونـه ـورهم ریـات شـول پـه هغـو کـې یومفتي دویم قاضي ، قاضیانوته عموما به په نویو مسـائلو کـې دنویـو قوانینو جوړولو اړتیا پېښیده ، قضایا به دهغوئ په وړاندې راتلل ، دهرې قضیې محل ، حالات اومحتـوا بـه لـه بلـې څخـه مختلفـه وه چـې لـه هغې سره سم به پریکړې ته اړتیاوه ، داسـي ګـڼ مثالونـه پـه تـاریخ کې شته چـې هغـو والیانواوقاضـیانوبه چـې پـه لـرې سـیموکې بـه میشـت ول یابـه یـې خپلـه پـه لیـک کـې لـه رسـول الله (ﷺ) څخـه پوښـتل چې دفلاني حالت په اړه څه پکاردي ؟ اوداسي مثالونه شته چې هغوولایانو اوقاضـیانوبه دخپـل صـوابدید لـه مخـې هـم پریکـړې کولي ، ددې اطلاع به رسول الله (ﷺ) ته هم رسیده که رسول الله () ته به دهغوئ کومه پریکړه مناسب ښکاره نشوه ، سملاسي به یـې دردولو حکم وکړ ، ددې دویم ډول یومثـال تاسـوته در کـووم چـې یـوتن وژل شي ، دهغه دیت چاته ورکړای شـي ؟ پخوا پـه عربـو کـې رواج و چې یوتن به قتل شو ، دیت به دمقتول نارینه خپلوانوتـه ورکـول کېـده یعنې خوی ، پلار ، وراره ، تره اوبوروته ... دمقتول میرمنې ته یـې څـه به ورکول ، ددې اطلاع به رسول الله (ﷺ) ته کیده ، رسـول الله (%) دیمن صحاک په نوم یووالي ته دقاضي دپریکړې پـه اړه لیـک واسـتاو چې دفلاني تن ددیت څخه دهغه میرمنې تـه هـم هغـومره ورکـول پکاردي ، خومره چې دهغـې دمیراث حق دی ، پـه قرآن مجید کـې ددې ذکر نشـته ، خـوچې داپېښـه نـه وه شـوې چاتـه یـې حکـم نـه ومعلوم ، درسـول الله (ﷺ) په حکم سره دیوه بوې حکم زیاتونه راعله

موبروبنو درسول الله (ﷺ) په پاک ژوند کې داسلامي قانون دوه نه تغير منونکي مأخذونه يعني قرآن اوحديث بشپړيږي، دقانونې ليد له پلوه چې هره نوي مسئله به پيداشوه دهغې دحلولو لپاره به مسلمانانولومړی عظيم الشان قرآن اوحديث ته رجوع کوله که په هغو دواړو کې به يې کوم حل ونه موندل شو دپيغمبر (ﷺ) له لوري په ورکړل شوي اصل يعنې اجتهاد يې عمل کاوه ، دغه اصول وروسته مسلمانانو ته ډېر په کار اغلل ، کنه اسلامي قانون به منجمد پاتې و، اومسلمانانوته په ناکافي کيدو به هغوئ دنااسلامي قوانينو غوره کولو ته اړشوي وای داجتهاد له لارې دهر نوي خبر په اړه دقانون جوړولو فرصت پيداشو

په همدې توګه دقاضيانوپه نوم دحضرت عمر (رض) يوليک موبرته په لاس راغلی په کومکې چې داحکم شته چې دفيصلې کولو څخه وړاندې مشوره هم کوئ ، داسې به چې دخپلې حوښې سره سم پريکړې کوئ ، که تاسوته قانون معلوم نه و، نوپخپله هم فکروکړئ ، اوله هغوعلماوو سره چې له تاسو سره دي هم مشوره وکړئ !دايودول داجتماعی اجتهاد صورت هم کيدای شي ، پخپله دخلفاوو همدا معمول وچې حضرت ابوبکرصديق حضرت عمر، حضرت عثمان اوحضرت علی (رض) په اړه موږ ته ډېر په لاس راځي چې هره پيچلې قضيه به ورته مخ ته راغله ،چې په اړه به يې په عظيم الشان قرآن اوحديث کې په څرګنده کوم قانون ورته په نظر نه ورته ، نوعامه غونډه به يې وکړه ، اذان به وشو خلک به په منډو، منډومسجدته لاړل ، مسجد کې به خليفه هغوئ ته وويلې:اوترې وبه يې پوښتل چې دفلانی قضيې په اړه ستاسې رايه څه ده؟ په دې غونډه کې هرتن دراې ورکولو لپاره مجاز و، که لوی اوکه کوچنی ، نربه اوکه ښځه دهريوه سره مشوره کيده ، دميرمنو يادونه مې ځکه وکړه چې ددې مثال موبرته دحضرت عمر (رض) په زمانه کې په لاس رازي هلته داستونزه وه چې دلور دنکاح څخه وړاندې به خلکو ډېر مهر غوښته اوزوم ته به يې ويلې: دومره پيسې راکړه بيا به دنکاح عقد کيږي ،حضرت عمر (رض) وليدل چې دزيات شمېرانجونوسرونه له دې امله سپين شي خودنکاح موقع ونه مومي ،حکم يې وکړچې ددومره پيسوڅخه زياتي څوک نه غواړي ، عمر (رض) دوخت خليفه اودلوړي درجې صحابي و، نورو صحابه وو وړاندې نيوکه ونکړه ، په دې اعلان سره مسجد کې يوه ميرمن پورته شوه وې ويل:اې عمره ! ته هيڅکله داداسي حکم کولو حق نلري ، داقانون نامناسب دی ، هغه حيران شوتری پوښتنه کوي ،ولې ناروادی ؟ هغې سپين سرې ميرمنې وويلې:په قرآن مجيد کې (۴:۲۲)راغلي دي که تاسې دښځې په مهر کې " پوقنطار" يعنې ډېره لويه خزانه ورکړي هم وي دطلاق ورکولو په وخت کې هغه بيرته مه غواړئ ،کله چې الله (ﷻ) دا اجازت ورکړی دی چې په مهر کې قنطار هم ورکول کيدای شي نوعمر څه حق لري چې هغه دي منسوخ کړي ، عمر (رض) ډېر له حديه ډاريدونکی انسان و، ژرپورته شو وي يلې، عمر نه وپوهيږي سپين سرې ميرمنې پوی کړ ، ددې خبره سهي ده زه خپل حکم بيرته اخلم لنډه داچې دمشورې اوراې ورکولوعام اجازت و ، يکې ټول برابرو، که دچاپه رايه به دخلکواتفاق راغی په هغه به يې عمل کاوه ، نوپه هرصورت درسول الله (ﷺ) درحلت څخه وروسته دراشدينو خلفاوو په دور کې داجتماعي مشورې ،دقاضيانو اومفتيانو له لوري دانفرادي اراوو بيلګې لبدل کيږي

داچې مسلمانان په پيل کې دنړی دريو وچوته ورسيدل، دلسګونو قومونو سره يې اړيکې جوړشول په رعاياوو کې يې دلس پنځلس اديانو منونکي وو، چې دهغوئ عادتونه له يوبل څخه جلاوو، له دې وجې نوي ،نوي قضيې به يې مخ ته راتلې ، دکومو په اړه به چې فيصلې هم مختلفې وې ،دحضرت عثمان (رض) درمانې يوه واقعه ده :عظم الشان قرآن دنامسلمانو رعاياوو څخه دحربي احستو حکم کړی دی اوهلته دااهل کتابو ذکر دی ، دعثمان (رض) په زمانه کې دشمالي افريقا هغه سيمي هم فتح شوي ، چې يکې بربري قوم ميشت و ، پوښتنه داپيدا شوه چې ايا له بربرقوم هم جزيه واحلو اوکه نه ؟ نوربيا

شهيدزوی

په مصر کې د محمد مرسي دولت ولې اوځنګه رنګ شو؟

په مصر کې دقبطي عیسایانو ، دداخلي اوخارجي سیکولر ، لبرال اوتش په نامه روشنفکرانو له لو رې دمصنوعي راپیدا کړی شوي سیاسي بحران پایله هماغه شوه دکومې په باره کې چې دنېږدې نه دوضعیت اکثرو څارونکوپېره ښکاره کوله .

دلسګونو کلونو تاریخي کوښښونو اوقربانیوو نه پس دلویدیځ په ژبه له جمهوري لارې دولس درایو په نتیجه کې دالاخوان المسلمون درامنځته شوی دولت ایله کال پوره شوی وچې دمصر دپخواني دیکتاتور حسنی مبارک دپلویانو ، قبطي عیسایانو ، دسیکولر ، لبرال ، تش په نامه پراخ بنستپورروشنفکرانو اومنځلاروسیاستوالو او قاضیانو په ګډو هڅو اودفوځ دعجلت اوبې اصولې په ډک اقدام له منځه ولاړ .

دجولای په ۴ مه نېټه فوځ دمصر منتخب ولسمشرډاکتر محمد مرسي له خپل منصب نه لرې اوپرځای یې دهېواد مشرقاضي ، ،عدلي منصور ،، چې یو قبطي عیسایې دی دهېوادعبوري مشروټاکه ؛ بیایې لویدیځ ته دخورانږدې سیکولر سیاستوال اوداپوزیسیون مشر محمد البرادعي نوم دلومړي وزارت لپاره وړاندې کړخوپرهغه داتفاق نه راتللو له امله حازم البیلاوي دمصرنوی عبوري ولسمشر شوچې دسوګند پورته کولو نه پس یې نوې کابینه هم تشکیل کړه .

داطلاعاتوله مخې فوځ دولسمشر تر څنګ داخوان المسلمین ګڼ شمېر نورمشران هم دنیولونه پس نامعلوم ځای ته انتقال کړيدي اوداخوان المسلمین دحمایت په توریې ۲۵ تلویزوني کانالونه بند کړي اوکار کوونکي یې زندانونوته لېږدولي دي .

کله چې دجون په ۳۰ مه نېټه په التحریر څلورلارې کې دولسمشر محمد مرسي پرضد ستره مظاهره روانه وه په همدې وخت کې قاهره دیوبل التحریر میدان شاهده وه چې هغه درابعه العدویه (رابعه بصریه) جومات مخې ته میدان ، ترې چارپېره پراخه سر کونه اوځنګ ته یې سترڅلورلارې و ؛ دالتحریرڅلورلارې نه څوکیلو متره لرې پدې دوهم میدان کې د٦ میلیونونه زیات راټول شوي مسلمانان دمحمدمرسي دتائید اوحمایت ښکاره کولوپه موخه له کورونو راوتلي وو ؛ دفوځ له لورې پر محمد مرسي دکودتاسره سم دازادۍ پدې دوهم میدان کې راټولو شویو مسلمانانو په احتجاج لاس پورې کړ . دفوځ اوقضا پرضد یې نارې پورته کړې اودمحمدمرسي دراخوشې کېدواودقانوني دولت دبېرته اعلانولوکلکه غوښتنه یې کوله . سبانۍ ورځ چې دجولای ۵ مه نېټه او دجمعې ورځ وه نودمحمدمرسي په پلوۍ کې دجمعې دلمانځه نه پس په ټول هېواد کې دقاهرې نه مظاهرې پیل شوې ؛ دقاهرې مظاهره چیان چې کله دفوځ ترمرکزي قوماندانۍ وررسېدل نوپرې فوځ ناترسه ډزې پیل کړې چې له امله یې ۳تنان ځای پر ځای مړه اوپه لسګونو ټپیان شول ، ددې نه پس بیا دجولای په ۸مې نېټې دفوځ له لورې دمحمدمرسي په پلویانو د ډزو ډېره بده پېښه رامنځته شوه کله چې دصدارتي ګارد دوداني

مخې ته دفوځ دناقانونه کړنې پر ضد داعتراض په موخه پر ناستو تنانو فوځ ناترسه ډزې وکړې : دعيني شاهدانو اودروغتون دذرائعوله لورې دخپروشويو ارقامو له مخې په دې پيښه کې تر ۵۰ پورې تنان شهيدان اوګڼ شمېر نور ټپيان شوي وو : ددې نه پس په ټول ښار اوبيا دښارنه بېرون په ټول هېواد کې داخوان المسلمين اوفوځ ترمنځ نښتې پيل شوې : سيکولر اولبرال ډلې دفوځ سره اوږه په اوږه پراخوان المسلمين و دمحمد مرسي په حمايت کې راوتلو مسلمانانو باندې ناترسه ډزې کوي اوبد بختي اوشقاوت يې تر دې حده رسېدلې چې دجمعې په ورځ دجمعې دلمانځه پرمهال دسجدې په حالت کې يې پرلمونځ کونکو نابېره ډزې پيل کړې چې پکې ګڼ شمېر سړي مېرمنې اوکوچنيان شهيدان اوټپيان شول : وروسته د دوشنبې په ورځ دجولای په پنځلسمې نېټې دسهار دلمانځه پرمهال پرلمونځ کونکو دفوځ له لورې دډزو په نتيجه کې د ۶۰ نه زيات لمونځ کونکي شهيدان شول .

خوددې ځوانانو ، مېرمنو ، کوچنيانو اومشرانو عزم اوهمت ته سلام چې ظلم اووحشت ته دسرونو ټيټولو پر ځای خلاصې سينې فوځي ټانکونو ته نږدې ورغلل اوهمدا يوه ناره يې پورته کوله چې ز موږ قانوني منتخب ولسمشر محمد مرسي دې بېرته په خپلې دندې وګومارل شي اوفوځ دې بېرته خپلو بارکونو اوخپلو مرکزونو ته دننه شي .

بايد په تأسف سره وويو چې دمحمد مرسي دناقانونه معزولوالي په سر رامنځته شوې ګډوډې نه يوازې داچې پای ته ونه رسېده بلکې ورځ تربلې زياته اوخورا خطرناکه شوه ، دقاهرې نه دسکندريه ، اسماعيليه ، اسوان اونورو سترو ښارونو ته اودسترو ښارونو نه دمصر کلي کلي ته وغځېده اوپه لږ وخت کې يې داسې بحراني شکل غوره کړ چې راوتل به ترې ډېر لوی وخت وغواړي .

په مصر کې د ۲۰۱۱ کال دجنورۍ په ۱۵ مې نېټې دپخواني ديکتاتور پرضد دپيل شوی ملي پاڅون په نتيجه کې دولسي فشار له کبله دمصر فوځ د۲۰۱۱ کال په فرورۍ کې دپخواني ديکتاتور حکومت ړنګ اوديکتاتوريې له واکه وغورځولو .

د۶۰ کلن مسلط شوي ديکتاتوري نظام د ړنګېدونه پس دپروګرام سره سم د ۲۰۱۲ کال دجون په ۱۵ مې نېټې په ترسره شويو انتخاباتو کې بريالي شوي محمد مرسي دجون په ۳۰ مې نېټې دمصر په تاريخ کې دترټولو اول منتخب ولسمشر په صفت دوفادې لوړه وکړه : دالله تعالی لوی شان ته ګوره چې دمليونونو تنانو په رايو دبريالي شوي ولسمشر تړاو دالاخوان المسمون په نوم دهماغه ګوند سره و دکوم دځپلو لپاره چې پردوځ دنيمې پېړۍ نه په زياتې مودې کې له حده زيات ظلمونه شويدي . داهم يوه زړه پورې اتفاق دی چې دنرم طبيعت څښتن محمد مرسي دولسمشرۍ لپاره اصل کانديدنه و : اصل کانديد دده په پرتله دتېز خوی لرونکی داخوان المسلمون مرستيال مرشد خيرت الشاطر و خودفوځي عبوري دولت له لورې چې په انتخاباتو کې هغه دګډون کولونه منع کړای شو نومحمد مرسي اصل کانديد وګرځېد .

په دې خوراسختې مقابلې کې يولورته دحسني مبارک داداري وروستي لومړی وزير اودهوايي ځواکونو پخواني وزير جنرال احمدشفيق ،د ديکتاتورټول پاتې شوني ، سيکولر اولبرال ټول ځواکونه اودانتخاباتو لپاره دننه اوبهر کې ځانګړې شوې ستره بوديجه وه اوبل لورته داخوان المسلمون اونورو ديني ګوندونو تر څنګ د۲۰۱۱په جنورۍ کې دحسني مبارپرضد راوتلي ځوانان وو .

په سبا انتخابات ووچې مابنام ۲نيمې بجې دمحاکمو يوې دستوري کمېټې هغه پارلمان لغوه اعلان کړ کوم چې ايله څو اوونۍ وړاندې دعامو پارلماني انتخاباتو په نتيجه کې دولس له لورې منتخب شوی و ، او ايله دريمه برخه يې سيکولر نمايندګان وو نوردټولوولسي نمايندګانو تړاو يې داخوان المسلمين اونورو ديني ګوندونو سره و

دولسمشريز وټاکنو نه ايله يوه ورځ وړاندې دپارلمان ړنګولو دځان سره داپيغام لرلو چې داخوان المسلمين کانديد محمد مرسي به بريالیتوب ته پرې نه ښودل شي : ددې کار يوهدف داهم وچې دګډو کانديدانو تر منځ داوږدې اوسختې مقابلې اودزياتو لګښتونو نه پس درامنځته شوي پارلمان په ړنګولو به ولس لاروکوڅوته راووځي ګډوډې به رامنځته شي اوپه دې پلمه به ولسمشريز انتخابات ځنډول شي خوددوی له بده مرغه چې داارمان يې پوره نه شو ؛ اخوان المسلمون دزغم نه کار واخست اوله خپلو پلويانو يې وغوښتل چې خپله ټوله توجه دې دولسمشرۍ اوپکې دخپل کانديد کاميابولو لورته واړوي .

لنډه داچې دانتخاباتو دنه کېدلو لپاره دټولو کوښښونوسره سره هم انتخابات په خپل وخت ترسره شول اوپکې محمد مرسي بريالی شو خو دهغه دولسمشرجوړېدو نه لاوړاندې دهغه دناکام ښوولولپاره پلانونه جوړشوي ووچې دبرياليتوب په هماغه ړومبۍ ورځ يې لړۍ عملاً پيل شوه ؛ داصولوله مخې بايد ولسمشر دپارلمان په مخکې لوړه کړی وای خوچې پارلمان لاله وړاندې رنګ شوی ونوقانون پوهانوورېل چې ددولت دعبوري مشر يادقاضي القضاة په وړاندې لوړه کول قانوني غوښتنه ده خو اصرار وشو چې نه ! کومې محکمې چې څوورځې دمخه پارلمان له منځه وړی وو دهماغې محکمې دقاضيانو په وړاندې به ولسمشر لوړه کوي ؛ ولسمشر محمد مرسي ، ټول اخوان المسلمين اونورو ديني متحدوګوندونو بيا نرمي ښکاره کړه اومحمدمرسي دپارلمان دهماغو قاتلو قاضيانوترمخه لوړې ته تيارشو؛ سره له دې چې محمدمرسي دلته له لوړې وړاندې دالتحرير ډګرته تللی اوهورې يې دراټولوشويو سونوزروتنانوپه مخکې سوګند پورته کړی اوويلي ووچې اصل پارلمان ولس دی .

داخو دولسمشر محمد مرسي ړومبۍ ورځ وه ددې نه پس دهغه دواکمنۍ ټول کال په بحرانونو کې تېرشو ؛ يوبحران به لاختم نه وچې بل به سرراپورته کړ ځکه چې په تاريخي اوجغرافيايي لحاظ په خورامهم هېوادمصر کې داسلام خوښو کامیابي ، دموروثي ،شخصي ، اوديکتاتور دولت ختمېدل اوپرځای يې داسلام خوښي ، ولس خوښي ، دولس دامېدونوترجماني کونکي اودولس دامېدونو پوره کونکي دولت راتلل خونه اسرائيلو ، امريکا اونورلويديځ ته دزغم وړو اونه هم دحسني مبارک پاتي شونواونوروسيکولر ګوندونو اواشخاصوته ؛ ځکه استعمارګرو اوداستعمار دلاس آلو محمد مرسي ديوې ورځې لپاره هم په ارام پرېنښودلو . دهغه په وړاندې يې قدم په قدم دمشکلاتو دايجادولو هڅې وکړې اود ۲۰۱۳ کال دجون تر ۳۰ مې نېټې رسېدوپورې تېر يو کال کې داسې په لسګونو موکې راغلي چې پکې دټول هېواد دامن خرابولولپاره ستر اقدامات وشول .

دمصر دناپيېلو رسنيو له لورې دخپروشويو ارقامو له مخې په تېر دې يو کال کې دحسني مبارک دپاتي شونواونورو سيکولر ډلونه جوړ اتحاد دوسمشر ددولت پر ضد ۵۰ ستر پلانونه په کارواچول ، ۵۷۸۲ ددولت ضد مظاهرې يې وکړې ۲۴ ډېر سترلاريونونه يې وويستل ، اودوړوډلوپه لاس يې ۷۷۰۹ احتجاجونه اواحتسابونه رامنځته کړل .

دمرسي دولسمشرجوړېدو ايله څوورځې تېرې شوې وې چې روژه ماتي ته ناستومصري عسکروباندې دنامعلومه وسله والوله لورې دحملې په نتيجه کې ۱۴ عسکر ووژل شول دحملې نه څودقيقې پس اسرائيلي طيارو په حمله کوونکو بمبارو کړ اوحقيقت ته درسېدوټولې نښې يې له منځه يوړې ، ددې حملې سره سم په ټول مصر کې مخالفينو غوغاجوړه کړه اوداتبليغات يې پيل کړل چې مرسي ناکام دی په هېواد کې چې فوځ په امن کې ندی نوربه څوک په امن کې شي ؟ خومرسي ددې تبليغاتوپرواونه ساتله دپېښې په ځای کې يې دتصفيوي عملياتو حکم وکړ اودعملياتوپه ۳ ورځني جريان کې دنېږدې نه دعملياتود څارنې په موخه يې ۲ ځلې سيمې ته سفروکړ او ددسې پېښو دمخنيوي په موخه يې دبنسټيزواقداماتوحکم وکړ . دحملې په هماغو شپو ورځو کې مرسي هغه جنرالان اونورلوړپوړي عسکري افسران هم له دندو ګوښه کړل کوم چې دمتقاعد کېدو وخت ته رسېدلي وو خو خپنوځانونوته يې پخپله بيابيا دکار کولو وختونه تمديد ول ، محمدمرسي ددې زړوجنرالانوپرځای ځوانان رامخې ته کړل اوجنرال عبد.فتاح السيسي ته يې دفوځ دلوی درستيز دنده وروسپارله .

ولسمشرمحمدمرسي چې کله د ۲۰۱۲ کال په جون مياشت کې دصدارت منصب سمبال کړ نودمصر اقتصادي وضعيت ډېر خراب و ، دحسني مبارک دواکمنۍ پر مهال دهېواد دااقتصاد څلور لوی منبع وو ، کرهنه ، دبهرنۍ نړۍ نه دزرو ترسيل ، دامريکې مرستې اوسياحت ؛ په دولتي اونادولتي ارګانونو کې په کارونو ګومارل شويو تنانو کې د کابو ۳۰ سلنې روزي دسياحت له لارې دترلاسه کېدونکو پيسو سره تړلې وه چې دې دهېواد دمجموعي حاصلاتو ۱۲ سلنه تشکيلوله ؛ د ۲۰۱۱ کال انقلابونو اوسترو مظاهرو ، دامن په اړه دنه اطمينان اوددې ترڅنګ په نورو عربي هېوادونو کې دراپورته شووشورشونو له امله مصرته دسياحانو راتلل په ټپه ودرېدل چې په نتيجه کې يې په مصر کې يوڅه بې کاري رامنځته شوه . خوڅرګنده خبره ده چې پدې اړه محمد مرسي اودهغه اداره ګرم نه وه اونه ددې بې کارۍ دلرې کولو په لار کې دوئ دکوم غفلت ښکار وو .

دمحمدمرسي اودهغه دداري دلومړي وزیر هشام قندیل دواړو تړاودانجنري دڅانګې سره ونو دنړیوالقتصادي غوښتنودپوره کولو اودنړیوال اقتصاد سره همغږۍ راوستلو په لارکې دوئ یوڅه مشکلات درلودل ، ددې ترڅنګ دمحمدمرسي سیاسي شالید داخوان المسلمون نومي هغه ګوندسره وچې له پیل نه ترآخره په آګاهانه ډول د اقتصادي دیوالیه توب ښکار کړای شوې و نوداقتصاد په مربدن کې دنوې روح دپوکلو تجربه هم دوئ نه لرله اوددې ترڅنګ ددې خبرې نه هم انکارنه شي کېدای چې محمد مرسي په خپل شاوخواکې دیوتجربه کاراوفني اقتصادي ټیم په رامنځته کولو هم نه وبریالی شوی نوځکه دمصر دانقلاب نه پس ولسمشراو کابینه یې دداسې اقتصادي پلان په وړاندې کولو ونه توانېدل دکوم چې وګواوېې صبروګړو انتظار کاوه .

داهم باید ومنوچې دمصرپه نفوس کې دځوانانو سلنه مخ په زیاتېدووده ؛ د۱۸ نه تر ۲۹ کلونو دعمرلرونکوځوانوهلکانو انجونو سلنه ۲۵ ته رسېږي اود ۱۲ نه تر ۳۵ کونو عمرلرونکي وګړي دمصر تقریباً سم نیم نفوس تشکیلوي ؛ ددې ځوانانوقاطع اکثریت باسواده دی نوځکه دخپلو حقوقواودحاکمانود مسئولیتونونه دنوروپه پرتله زیات خبردي اوبیا د۲۰۱۱ کال انقلاب خو ددوئ امېدونه اوخیالات ډېر پورته یوړل ، دوئ کارغواړي ، دانصاف غوښتونکي دي اوپه سیاسي عمل اوډګرکې خپله ونډه غواړي خوداچې دديکتاتورۍ په وحشي پنجو کې یې اوږده زمانه تېره شوې وه نودستر ګوپه رپ کې یې ددې هرڅه پوره کېدل غوښتل چې ایله په یو کال کې داد محمد مرسي دادرې دتوان نه وتلې خبره وه .

لنډه داچې دمصرځوانان دمحمد مرسي نه دژرتبدیلۍ راوستلوغوښتونکي وو خوهغوئ دولسمشر پرضد دراوتلو هیڅ اقدام لانه وکړی چې بل لورته دحسني مبارک داداري پاتي شونو ، په انتخاباتو کې شکست خوړلو ۳ کاندیدانو احمدشفیق ، عمروموسی ، محمد البرادعي نه تشکیل شوي اتحاد دنړیوالو رسنیوله لارې دغوغاجوړه کړه چې دمحمدمرسي اداره په تبدیلۍ راوستلوکې ناکامه

شوه ، دولس دامېدونو په پوره کولو کې پاتې راغلـه نوباید استعفا ورکړي .

شنونکي وایې دمصر دتېرو ٦ لسیزو اوج ته رسېدلی داداري فساد او نورو مشکلاتو له منځه تلل دیوبادوه کلونو کار نه و ددې تباه حالي هېواد لپاره شاید ۱۰ دامن نه ډک کمونه هم کفایت ونکړي نودمشکلاتو اوستونزونه په ډک یوکال کې دهرڅه دښه کېدلو غوښتنه یا تمه ، په تبدیلۍ راوستلو کې دناکامه کېدلو پیغور او وړپسې داستعفا غوښتنه بېخي نامعقوله اودبې انصافۍ نه ډکه خبره وه .

بیاخبره پدې نامعقوله غوښتنې تم نه شوه بلکې ډېر ژر یې دغوښتنه دتشدد نه په ډکومظاهروبدله کړه اوپه لمحو کې خبره تردفترونو اوشخصي ودانیو سوځولو ، قتلونو اودمېر منودعزتونو ترلوټولو ورسېده .

ددې پرځای چې دمصرد فوځ لوي درستیز عبدالفتاح اسیسي دفساد دمخنیوي لپاره جدي اقدامات کړي وای روان کړ کېچن وضعیت یې پلمه کړ ، ړومبی یې دواړولوروته په خپلو منځونوکې د سولې کولوحکم وکړچې هدف یې دخپل دبې پرې ثابتولو ناکام نمایش و ، بیایې ومسمشرمرسي ته اخطارو رکړ چې په ۴۸ ساعتونو کې دې دخبروله لارې دمسئلې حل راوباسي ګینې فوځ به مداخله وکړي اودراتلونکي لپاره به دعمل لایحه برابره کړي .

داپوزیسیون مشر محمد البرادعي



اونوروم‌خالفینودادفوځ له لوري دمرسي دولت ته په اخطار تعبیر کړ خوددې اعلان نه پس دمرسي، صدراعظم هشام قندیل اودلوی درستیز عبدالفتح ترمنځ داوږدې ناستې نه پس دفوځ ویاند وضاحت وکړ چې دااعلان دخبرو اترو ښاره میز ته ددوړو اړخونو دراښکلو لپاره و، دچاپرضد دانقلاب راوستلو یاکودتا کولو اعلان نه و.

خو دمحمد مرسي دمخالفینو دخواهش سره سم دا رښتیا هم دکودتا کولواعلان اواخطار و د ۴۸ ساعتونو پوره کېدوسره سم د مصر فوځ د دغه هېواد دولسمشر محمد مرسي حکومت نسکور کړ، اساسي قانون یې معطل کړ؛ بیا د دغه هېواد داساسي قانون د محکمې مشر قاضي عدلي محمود منصور د دغه هېواد د موقت ولسمشر په توګه لوړه وکړه اودفوځ مشر دغه هېواد کې د نویو ولسمشریزو او پارلماني ټاکنو اعلان هم وکړ.

دفوځ دې اقدام هغه شکوک په یقین بدل کړل چې دمحمدمرسي دحکومت پرضد دخلکو دراپاڅولواوهېواد کې دګډوډیو رامنځته کولوترشادفوځ لاس و، ترڅو یې دلاسه وتلي ۶۰ کلن اقتدار بانډې بیاقبضه راشي.

دملګرو ملتونو اداري، اروپایي اتحاد، امریکا اونورې غربي نړۍ دریځ هم ډېر دتعجب وړ دی؛ کله چې په کوم مسلمان هېواد کې ددوئ دراتجو اصولو مخالفت کېږي نو دوئ پرې ډېر ژرخپل خفګان ښکاره کوي، نړۍ یې په سر راخستې وي اوپه هغه هېواد دحملې کولو اود دلوټې لوټې کولو تر سر حده یې رسېږي خوچې کله دمصرپه څېرهېواد کې دغرب دجمهوري اصولو له لارې منتخب شوي دولت دفوځ په لاس له منځه وړل کېږي نونه یواځې داچې دمنافقت نه ډکوڅوخبروپرته نورهیڅ عکس العمل نه ښکاره کوي بلکې دپردې ترشادفوځ ملاتړوي او دهمدوئ په اشارو فوځ ټول دبشر ضد اعمال ترسره کوي اودوئ چوپه خوله وي، داولې؟ داځکه چې دلویدیځ دجمهوري اصولو له لارې راغلی دمحمدمرسي حکومت اسلام خوښی و، دمسلمانانو یووالی یې غوښتلو، محمدمرسي هغه مصر کې داساسي قانون راتجول غوښتل کوم مصر کې چې دتېرې نیمې پېړۍ نه دزیاتې مودې راهیسې چااساسي قانون نه پېژندلو، یواځې د دیکتاتور خوښه به قانون ګڼل کېدلو

اوترټولوسترجرم محمدمرسي داوکړ چې دړومبۍ قبلې بیت المقدس دازادۍ لپاره په مسلح جهاد دبوختو مجاهدینو تائید اوحمایت یې اعلان کړ اوغزه چې دتېرو څو کلونو راهیسې داسرائیلي دولت اودمصر ددیکتاتور حسني مبارک دشریکې پرېکړې له داقتصادي محاصرې لاندې وه ددې اقتصادي محاصرې نه دراویستلو لپاره یې درفح هغه لار پرانستله کومه چې دفلسطیني مسلمانانو لپاره دغزې نه دوتلو یواځنۍ لار وه او ددیکتاتور له لورې کلکه تړل شوې وه، فلسطیني مسلمانانو ته یې مصرته په راتللو دوېزې شرط هم ختم کړ اوددې ترڅنګ یې دفلسطین د دوه ګوندونو حماس او الفتح ترمنځ دسولې اویووالي هلې ځلې هم پیل کړې؛ رښتیا داده چې په اوس وخت کې دړومبۍ قبلې دازادۍ لپاره داترټولو ول قدم وچې داسلامي نړۍ کوم مشرپورته کړ؛ فلسطیني مشرانودده ددې اقدام هرکلی وکړ او دې اقدام محمد مرسي دفلسطینیانودسرتاج وګرځاوه خودې اقدام اسرائیل اوداسرائیلوسرپرسته مریکا دمحمد مرسي اودمحمدمرسي داداري ډېرلوی دښمنان وګرځول نوځکه یې دمرسي پرضد دشومو پلانونو یوه نه ختمېدونکې لړۍ پیل کړه چې په نتیجه کې یې دمحمدمرسي اداره ړنګه شوه اوپه دوه برخو دمصریانو دوېشلو، په خپلومنځونو کې یې دتل لپاره داخته کولو او په مصر کې هم دشام په څېر دیونه ختمېدونکې داخلي جنګ دجاري ساتلولپاره ډېر سخت کو ښښونه روان دي چې متأسفانه هیڅ څوک داسې نشته چې دودرولولپاره یې هڅې وکړي.

نن چې داڅو وروستۍ کرښې لیکم او دجولای ۲۸ مه نېټه ده محترم لوستوال به درسنیوله لارې خبر شوي وي چې د قاهرې درابعه العدویه مسجد په میدان کې دمحمدمرسي پر راټولوشویو پلویانوفوځ پرون ډزوباران کړی چې په نتیجه کې یې د ۲۰۰ نه زیات مسلمانان شهیدان او تر ۴۵۰۰ پورې ټپیان دي اناالله و انا الیه راجعون، ډېرټول په وینوسور دی اوشفاخانو کې ځای نشته بس دالله تعالی نه غواړو چې په خپل فضل دلته حالات سم اوپه اسلامي حاکمیت راوستلو دمصر دمسلمانانو ارمانونو پوره کړي، آمین.

د ساروان کلا جنګ

قاري حبيب

په شمالي هلمند کې دګرشک او کجکي ترمابين، دسنګين له مانده نيولې بيا مخ په شمال تر ګرماو پورې دهلمند درود په غاړه پرته ګڼ ميشته سرسبزه ناوه، چې اوږدوالی يې تر ۲۵ کيلومتره زيات دی، ساروان کلا بلل کيږي، دغه ستره ناوه چې په شمالي هلمند کې مهمه مسکوني او زراعتي سيمه ده، دسنګين ولسوالۍ مربوط ده، چې ددې ولسوالۍ له څلورو څخه ۳ برخې تشکيلوي.

ساروان کلا دهلمند په شمال کې هغه سيمه ده چې په تيرو يوولسو کلونو کې دسختو جګړو شاهده پاتې شوې دي، او دنيولو لپاره يې بهرنيانو خورا ډيرې هڅې کړي دي، دې سيمې ته په لومړي ځل په ۲۰۰۵م کال کې برتانوي يرغلګر داخل شول، چې له سخت مقاومت سره مخامخ شول. برتانويانو په ۲۰۰۶م کال کې په دې سيمه کې ترټولو درانه زيانونه ور کړل، تر دې چې دهمدې کال دجولاې مياشت يې ديرغل په څو کلنه دوره کې ترټولو خونړۍ مياشت اعلان کړه، برتانويان تر ۲۰۰۷م پورې په دې سيمه کې په جګړو بوخت وو، خو پرته له تلفاتو څه په لاس نه ورتلل. په ۲۰۰۷م کال کې دبرتانويانو ترشکست وروسته امريکايي ځواکونو دهلمند دنورو سيمو غوندې په ساروان کلا بريد وکړ، او په سختو جګړو کيښوتل.

له ۲۰۰۷م کال نيولې بيا تر ۲۰۱۱م کال پورې امريکايي، برتانوي او نورو يرغلګرو په دې سيمه کې پرلپسې عملياتو، بريدونو، بمبارونو او دقرارګاوو تاسيس ته دوام ورکړ، په دې موده کې يرغلګر په دې ګڼ ميشته سيمه کې هميشه له سخت مقاومت، چاودنو او بريدونو سره مخامخ وو چې هره ورځ يې درانه تلفات زغمل.

امريکايانو په پای کې په دې سيمه کې د کلي په کلي قرارګاه جوړولو په توسط داسيمه په خورا درنو تلفاتو لاندې کړه، ساروان کلا چې دکجکي په خوا تلونکې لار يې له منځه تيره شوې، دغه راز دزميندداور، موسی کلا، بغران، بغني، غورک، او بشکته سنګين ترمابين پرته ترټولو مهمه ستراتيژيکه سيمه ده، امريکايان يې همدې اهميت ته متوجه وو، نوځکه يې دنيولو لپاره له هيڅ ډول تشدد، مظالمو او تلفات ورکولو څخه دريغ ونه کړ.

يرغلګرو په ساروان کلا کې دڅلور کلن حضور په مهال ټوله هڅه کوله چې داسيمه په تلپاتې توګه دځان کړي، دهمدې لپاره يې کلي په کلي دداخلي عسکرو لپاره پوستې او قرارګاوې جوړې کړې، په اکثرو سيمو کې يې محلي اربکيان جوړ کړل، دناوې دواړو خواوو ته درود او سړک په غاړه يې محکمې پوستې او قرارګاوې جوړې کړې، او په دغه سيمه يې ديوه دقيق پلان له مخې پوځي کمربند راوګرځاوو.

دامريکايانو او داخلي ځواکونو دهمدې پوځي ډيربښت له امله په تيرو څو کلونو کې ددې سيمې وضعيت تردې حده خراب شو چې مجاهدينو په کې حتی چريکي فعاليت نه شو کولای، دهمدې وضعيت له امله او په داخلي عسکرو په اتکاء سره نورو بهرنيو اشغالګرو دې ته اړ تيا نه ليده چې په دې سيمه کې پاتې شي، نوځکه يې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲م کلونو کې له دې سيمې خپل ټول

پوځیان وا ایستل او چارې یې محلي اربکیانو ، پولیسو او داجیرې اردو سر تیرو ته وسپارلې .

په ۲۰۱۳ م کال کې دهلمند په سطحه دمجاهدینو په وړاندې تر ټولو مهم هدف ددغې سیمې یوځل بیا نیول ، یا لږ تر لږه دجهادي فعالیت په سیمه بدلول وو .

په همدې اساس دخالدبن ولیـد عملیـاتو پـه ترڅ کې دروان کال د دمې دمیاشتې په ۱۹ نیټه سلګونه مجاهدین دهلمند له رود واوښتل او مخامخ یې دامریکایانو دځایناستي ځواک اربکیـانو پـه پوستو بریدونه پیل کړل .

اربکیـان چې امریکایانو د ساروان کلا داصلي ساتونکو پـه توګه تر شا پرېښي وو ، په لومړني برید کې یې دمجاهدینو دهجوم په وړاندې سخت شکست وخوړ ، دساروان کلا دمجاهدینو یو مشر (ملا مجاهد) چې په دې جنګ کې برخوال وو ، وایي (موږ تـه د جنـګ پـه لـومړۍ ورځ معلومـه شـوه ، چـې دسـاروان کـلا دنیولـو عملیـات بریـالي دي ، ځکـه مجاهدین پـه جنـګ کـې پـه اربکیـانو غښتلي او جر أتمن وو ، او په څو ساعتونو کې یې داربکیانو کمربند مات کړ)

دمجاهدینو پـه دې لومړني بریـد کې چې پـه حقیقت کې ساروان کلا تـه دننوتلو عملیـات وو ، د ۲۰ ساعته جنګ پـه نتیجـه کې مجاهدینو داربکیانو ۴ پوستې فتحه کړې ، داربکیـانو ۱۷مړي دجګړې په ډګر پاته شول ، چې په وژل شویو کې یې ۳ تنـه جنګي قومندانان هم وو ، مجاهدینو دیوه ټانګ په شمول ګڼ شمیر وسلې او مهمات هم غنیمت کړل ، پـه لومړني بریـد کې مجاهدینو دتوغي او کلاوالو په نوم پراخې سیمې پـه بشپړ ډول تر خپلې ولکې لاندې راوستې ، او وروسته یې د نورو سیمو دنیولو لپاره عملیات پیل کړل .

دسـاروان کـلا مجاهـدین وایـي پـه لومړنیـو عملیـاتو کـې دساروان کې اربکیانو ته داسې ضربه ور کړل شوه ، چې بیا کله هم ټینګ نه شول ، په همدې جګړه او وروسته عملیـاتو کـې داربکیـانو زیـات شـمیر مشـران اوعـام وسـلوال ووژل شول ، او یوازې محدود شـمیر یـې پـه تیښـته بریـالي شـول ، د عملیـاتو پـه تسلسـل کـې مجاهدین هره شیبه دساروان د زیاتو سیمو د نیولو په حال کې وو تر دې چې مجاهدینو یوځل بیا ددې سیمې په مرکزیت او اصلي سیمو باندې ولکه ټینګه کړه او حکومتي قواوې یې څندو ته په شا کړې .

ساروان کلا چې امریکایانو پـه خورا درنو تلفاتو نیولې وه ، دداخلي عسکرو لـه خوا داسې اسانه بایلات یې تر هرچـا خارجي یرغلګرو ته دروند تمام شو ، نوځکه یې د کابل حکومت مجبور کړ ، چې په هره بیه کیږي ، باید ساروان کلا ته پوځي ځواکونه ولیږي ، ترڅو په یومخیزه توګه ددې سیمې دسقوط مخه ونیول شي .

د ساروان کلا مجاهدین وایي امریکایان پـه دې پوهیږي چې که داسیمه سقوط شي ، په هماغه ورځ د کجکي ولسوالي هم سقوط ده ، چې یوازینۍ اکمالاتي لار پـه ساروان کلا ور تیریږي ، کجکـی دبریښنا دبند او پخو امریکایي مراکزو لـه املـه دیرغلګرو لپـاره خورا اهمیت لري ، دغه راز امریکایان پوهیږي چې دساروان بـه سقوط سره پـه شمالي هلمند او کندهار کې دمجاهدینو مفتوحـه سـیمې سـره وصـلیږي ، چـې دابـه پـه دې سـیمو کـې دیرغلګـرو څوکلنې ټولې خوارۍ په اوبو لاهو کړي .

له همدې املـه خو داخلي اجیرانو دامریکایانو پـه مرسته او قومنده په خورا بېړه دساروان کلا جنګ ته زرګونه عسکر ولیږل ، چې ددې سیمې دبیر تـه نیولـو لپـاره لـه مجاهـدینو سره پـه سختو جګړو واوښتل .

د ساروان کلا مجاهدین وایي ، په تیرو ۲ میاشتو(جون – جولای) کې دښمن دساروان کـلا دبیـا نیولـو لپـاره ۵ ځلـه ستر عملیـات تر سره کړي دي ، داسې عملیات چې په زرګونو داخلي عسکرو پـه کې شرکت درلود ، داعملیات هرځل دمختلفو قول اردو ګانو لـکه هلمند ، کندهار ، کابل او هرات لخوا تر سره شوي دي ، پـه هرځـل چې دیوې قول اردو پوځیـان سـتړي شـوي ، پرځـای یـې بـل لښـکر راغلی او دلته یې عملیات پیل کړي ، مګر تر اوسـه یې لـه شکست پرته هیڅ نتیجه هم نه ده ترلاسه کړې .

مجاهدین اوس هم دساروان کلا په مرکز او مهمو سیمو باندې ولکه لري او دښمن په اطرافو او په دښت او سرک باندې په خپلو مراکزو کې دیره دی، او ددې سیمې په خورا محدوده سیمه باندې یې خپله ولکه ساتلې ده.

له پوځي بریدونو سربیره دښمن ددې جنګ دګټلو لپاره تبلیغاتي جنګ هم پیل کړی دی، او څه موده وړاندې یې دخپل شکست د توجیه او عامه اذهانو دغولولو لپاره وویل چې ساروان کلا ته په زرګونو بهرني جنګیالي، او دمخده موادو قاچاقبر راغلي دي، چې غواړي داسیمه لاندې کړي، خو دساروان کلا یو تن مجاهد وایي چې هغه مهال ددښمن د ۴۰۰۰ سر تیرو په مقابل کې زموږ دمجاهدینو شمیر ۲۵۰ تنه وو، چې ټول دهمدې سیمې مجاهدین وو او دښمن یې له سختې رسوایي سره مخ کړی وو.

د ساروان کلا په جنګ کې تراوسه دښمن ته خورا درانه تلفات اوښتي دي، خو دښمن یې په اړه هیڅ هم نه وایي، دساروان کلا دمجاهدینو یو مشر ملا مجاهد وایي، ددوی دا ټکل له مخې تراوسه ددښمن له ۴۵۰ څخه زیات پوځیان له منځه تللي دي. دغه راز داربکیانو زور یو مخ ختلی دی، او اوس یوازې په نوم څو کسان پاته دي.

ددښمن په وژل شویو کسانو کې یې څو تنه جنګي قومندانان لکه ګلالي، اهل الله، محب الله خان، عبدالرحمن او دل اغا هم دي.

د ساروان کلا په جنګ کې دشکست او تلفاتو په اړه دښمن تراوسه ډیر معلومات مطبوعاتو ته نه دي راایستلي خو څه موده وړاندې په غیر ارادي توګه په مطبوعاتو کې ددښمن له خولې یوه داسې خبره راغله چې په دې جنګ کې یې ددوی دناکامۍ، شکست او درنو تلفاتو راز افشاء کاوو.

څه موده وړاندې په ساوران کلا کې داربکیانو مشر غلام جان چې په دې جنګ کې یې لسګونه وسلوال بایللي دي، په مطبوعاتو کې شکایت وکړ، چې دحکومت داردو ځواکونه ورسره همکاري نه کوي، له همدې امله یې پوستې له لاسه ور کړي دي، خو کله چې په دې اړه په ساروان کلا کې دپوځ له مشر قومندان جنرال عبدالواسع نه پوښتنه وشوه، نوموړي وویل، له اربکیانو سره کومک کول نور زموږ په وس کې نه دي، تراوسه یوازې زما تر قومنده لاندې پوځیانو ۱۲۰ تنه په جنګ کې له لاسه ور کړي نو په داسې حالت کې به زه څرنګه له دوی سره مرسته وکړم.

ملا مجاهد وایي دساروان کلا په جنګ کې مجاهدینو خورا زیات مقدار مهمات، ثقیل ماشیندار، راکټ لانچر، کلاشینکوفونه او نورې وسلې نیولي دي، په جګړه کې تراوسه دشهیدو شویو مجاهدینو شمیر ۴۵ تنو ته رسیدلی دی، دغه راز تر شلو زیات ملکي خلک هم په شهادت رسیدلي، خو جګړه لاهم روانه ده، چې په وروستي ځل ددښمن له جانبه دهرات دقول اردو پوځیان خپل بخت ازمويي.

ملا مجاهد وایي دده ټینګ باور دی، چې مجاهدین به دساروان کلا پاته سیمې هم په واک کې راولي او ددښمن عسکروته به شکست ور کوي، ځکه مجاهدین په دې سربیره چې په عقیدوي روحیه جنګیږي او په الهي نصرت ټینګ باور لري، دسیمې په اراضي بلد دي، ولسي ملاتړ ورسره دی، له امریکایانو سره دجنګ تجربه لري، او دانفجاري کمربندو په توسط توانیدلي ددښمن دوړاندې ټګ مخه ډب کړي.

د ساروان کلا جنګ لاهم روان دی، خو دا جنګ له امریکا وروسته ددرست افغانستان دوضعیت تشریح کوونکی یو سمبولیک جنګ دی، امریکایانو ساروان کلا په سخت ظلم، تشدد، پوځي زور او تلفاتو داسې لاندې کړه لکه ټول افغانستان یې چې لاندې کړی وو، خو وروسته چې مجاهدین یوځل بیا په دې سیمه په فاتحانه دریځ ورننوتل، معنی یې داده چې مجاهدین دا توان لري، چې یرغل ځپلی افغانستان یوځل بیا ازاد کړي، اوس داخلي دښمن هڅه کوي، دمسلسلو عملیاتو په توسط داسیمه یوځل بیا قبضه کړي، خو د ۲ میاشتو په موده کې یې یوازې تلفات ګاللي، مطلب دا چې دامریکانیانو جنګیالي ددې وړ نه دي، چې ددوی له باور سره سم ورسپارل شوي وظایف ترسره او دجګړې میدان وپالي.

سرښندنه

محسني بې پروا

که مرمیو مې ټټر خوړلی نه و
یا دښمن نه مې سنګر نیولی نه و

مخ مې تور کړئ بل په مخ لاړې راتو کړئ
که په ننګ باندې مې سر ښیندلی نه و

بیا مې قبر د ګودر په غاړه جوړ کړئ
که مې نوم د قهرمسان ګڼلی نه و

پښتنې موري افغان زوی به دې نه وم
که مې دین وطن ناموس ساتلی نه و

نن به لوبې وې زمونږ په خویندو میندو
که مو زور د کلک ایمان ښودلی نه و

دا ارمان به مې هم پاتې وای په زړه کې
(محسني) که مې سنګر پاللي نه و

خویندو ته !

حافظ محمد قاسم زهیب

ښې ایسئ په ستر په حجاب هم په حیا خویندو
مه منئ، دغرب داینجیو ګانو یوناما خویندو
مه وزئ له کوره، کوروداڼو دکور شمعې یاست
مه باسئ د باندې خپل زینت خپله ښکلا خویندو
دا سنګین پړونی، غټ کمیس، شرعي جامه خوند کا
نه ښایي فیشن داروپا او امریکا خویندو
جوړ کاندئ خصلت دامهات المؤمنین غوندې
ځان کړئ له دې ښکلي شریعت سره اشنا خویندو
مه کوئ، کیسې دټنډولکر او شاروخان راته
وګورئ د ګر د فدایانو اې زما خویندو
څومره چې فلمونه ډرامې او نایټ کلبونه دي
دا فکري وسله ده دیهود او نصارا خویندو
وایمه زهیب که دشیطان لاره مو خپله کړه
دا به وي له دین او له کلتور سره جفا خویندو

ماه رمضان

نیشپوري

آنکه از فرط گنه ناله کند زار کجاست؟
آنکه زاغیار برد شکوه بر یار کجاست
باز ماه رمضان آمد و بر بام فلک
می زند بانگ منادی که گنه کار کجاست
سفره رنگین و خدا چشم به راه من و توست
تاکه معلوم شود طالب دیدار کجاست
مرغ شب نیمه شب دیده به ره می گوید
سوز دل ساز بود دیده بیدار کجاست
ماه رحمت بود ای ابر خطاپوش ببار
تا نگویند که آن وعده ایثار کجاست
آن خدائی که رحیم است و کریم است و غفور
گوید ای سوته دلان عاشق دلدار کجاست

په تود سنګر کې

حاجي محمد اواب

بیا ستي پر سرو اورو دي یو پېتڼ په تود سنګر کې
بیا دي حورو اچولي مست اتڼ په تود سنګر کې

مین داسې مستي داسې مجنون څوک و فرهاد څوک دی
لولپه چې د ځواني کړي ښکلې بڼ په تود سنګر کې

بیا له ویرې دي د بریده، شول ډېره پر ځایونو
بیا وهلي شیطانان دي سخت ګوزڼ په تود سنګري

زموږ پر مځکه زموږ غازیانو د مرګي په ستن وتار دی
بیا ګنډلي د کفارو لښکر ګڼ په تود سنګر کې

بیا راغلې په جلال کې افغانیت واسلامیت دی
څه بلاوې کړې چې په لکه چندڼ په تود سنګر کې

د افغان د جنګ لمبو خو داسې وریت کړله اوابه!
سره مخونه یې شول شنه، لکه بانجڼ په تود سنګر کې

غزل

چینار تکور
غم، اوښکې، فریاده خدای دي وبښه
وه دجانان یاده خدای دي وبښه

نشته په وجود دي دپرهر نور ځای
اې تیې هیواده خدای دي وبښه

سر دي هیڅ ظالم ته شکر تیت نه دی
خار هسکه شمشاده خدای دي وبښه

زما او دجانان ترمنځ خو مر شولې
پاکه اعتماده خدای دي وبښه

تل چې دطالب لالې ملګرې بې
خواره اقتصاده خدای دي وبښه

دوفا لاره

مهجر زاهدزاده فراه رودي

موږ د وفا په لاره ځو، خو جفا هم پېژنو
عمر مو تېر شو په ژړا خو خندا هم پېژنو
که ګران رسول په نبوت منو تري ژوند ځاروو
خو ابراهیم، ادریس، موسا او عیسا هم پېژنو
دا کیاوونه اوو یونه چه په ځان منو تل
که د نه فکر اسره دې، سبا هم پېژنو
چه په ځان یو لو فرض سالنه د مکې مدینې
څښتنه دې ټکري هیر مونږ دی اقصی هم پېژنو
دا چه روان یو مور چلوته او سرونه ښندو
که غلیم پېژنو ملګرو اشنا هم پېژنو
دیموکراسي او د بشر حقوق ګڼي خپل شعار
د پردې شاته دا صلیب او یهودا هم پېژنو
که د زلمیو قربانې په هر محفل کې ستایو
د ازادۍ په ننګ شهیده لیلا هم پېژنو
زاهدزاده که د تسپو لاړتل په لاس کړ ځوو
پام کړه غلیمه غښې، توره غزا هم پېژنو

له غیرت ډکه ځواني

نوي نوي شازلمي همداسې وي
مرګ ته خاندي لېونې همداسې وي

چې سپېڅلي دین ته مستانه ځواني زار کړي
حقیقت کې قرباني همداسې وي

د بارو توپ په لمبو د رومي هدف ته
لوګي کېږي سپېلني همداسې وي

د توپک او کمربند سینګار چې غواړي
له غیرت ډکه ځواني همداسې وي

دچارواکوپه انتخاب کې ، دحضرت عمر رضي الله عنه معیار

لیک : عبدالرحمن عیدزوهی
ژ : خبیراحمدم

دمسلمانانودویم خلیفه حضرت سیّدنا عمر فاروق رضي اللّٰه‌عنه، هغه سترنوم اوشخصیت دی چې دهغه ژوند داسلام له پیل څخه ترخلافت پوري له میړانو، سرشاریواوستروتاریخي نوښتوډکه وو، دهغه (رضي الله عنه) کړنې داسلام اوداسلام دسپیڅلي پیغمبرصلي الله علیه وسلم ښایي معجزې وشمیرل شي.

دهغه بختورخلافت لس کاله شپږمیاشتې اوپنځه ورځې وې ، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي : دحضرت عمررض په اسلام مشرف کیدل داسلام ستربری او په کفراوګمراهي دبطلان کرښه وه ، دهغه هجرت یوالهي نصرت وو، دهغه خلافت دالله تعالی لوی رحمت وو، موږ دهغه داسلام له راوړلو مخکې په بیت الله شریف کې دلمانځه داداکولوجراْت نشوکولای ، دهجرت په ۱۶ کال یې دربیع الاول په میاشت کې دتاریخ مبدا اوشروع دنبوي ص دهجرت سنه وټاکله ، په رعیت دحکامودشفقت اومرحمت عملي بنسټونه یې کیښوول ، دخراج قانون یې پلي وګرځاوه ، بې شمیره ښارونه یې اباد، قاضیان اوچارواکي یې ورته وګمارل ، ۱۰ مسلسل حجونه یې اداکړل ، ورستي حج یې د امهات المؤمنین بې بې عایشه رضي الله عنهاپه همراهي ترسره کړ ،

هغه ړومبي شخص وو چې په فرمان یهود له جزیرة العرب څخه وشړل شول اوترایران ، روم ، شام اونوروګنوښارونو اوټاټوبوپوري یې داسلامي خلافت سلطه قایمه اوټینګه کړله .

دحضرت عمررضي الله عنه دغه احسانات ، کارنامې اولوړینې هیڅکله په څولیکنواوکتابونوکې ځایدای اوراټولیدای نشي اونه یې هم حق اداکیدلای شي ، موږ صرف په دغه مختصره لیکنه کې په اجمالي ډول دواکمنواو والیانو په انتخاب اوټاکنې کې دحضرت عمررضي الله عنه هغه مبارک معیارچې له نبوي ارشاداتوڅخه یې مخامخ سرچینه اخیستې رااخلواوتاسودرنولوستوالوته یې وړاندې کوو.(له الله تعالی څخه یکې خاص توفیق اومرسته غواړو)

دچارواکوپه انتخاب اوانتصاب کې ترټولومهم اصل :

۱ – اهلیت اوامانت داري ؛

دچارواکوپه انتخاب کې دحضرت عمررضي الله عنه ، عملي سیاست اوتصمیم داوه چې والي اومسؤل شخص دځاني زهداوفردي تقواترڅنګ داسلامي خلافت موخوته بشپړه وفاداري اودچاروتوانمندی ولري اوپه هغو سرپیره به دټولنیزفهم، درایت اوپه مسلمانانوددلسوزی ځرګندي ځانګړتیاوي ولري ،لکه چې شرحبیل بن‌حسنه یې له همدې امله عزل اومعاویه بن ابي سفیان یې پرځای وګماره چې په معاویه کې اجتماعي درایت ترشرحبیل څخه ډیراوبشکاره وو، شرحبیل بن حسنه له حضرت عمررضي الله تعالي عنه څخه وپوښتل چې : یا امیرالمؤمنین! ایازماله کړنوڅخه ته ناخوښ وي چې زه دې عزل کړم؟ امیرالمومنین ورته وفرمایل: «لا! إنّک کما أحبّ، و لکنّي أرید رجلاً أقوی من رجل؛ نه! ته هماغسې یې چې زه دې خوښوم اومحبت درسره لرم، خوزه له تاڅخه دیوه قوي کس په لټه کې یم.

۲ – پوهه اوبصیرت :

حضرت عمررضي الله عنه به زیاروېست ترڅوپه خلکوعالم اوفقیه واکمن وټاکي . دهغه ترڅنګ یې اهمیت دې ټکي ورکاوه چې ګمارلې شوی شخص کې به داتوانمندي وي چې دخلکواوټولني له وضعیت اوعمومي حالاتوڅخه باخبر اوله خلکوسره یې برخورد دبصیرت اومعقولیت په ژبه وي ، حضرت عمررضي الله عنه په دې باوردرلودچې دځاني زهد اوپرهیزګاری لرونکي کس چې اجتماعیت اوذهانت ونلري ډیرځله دفتنواوچالاکوخلکوپه دام اولومه کې نښلي ، لکه چې دیوه کس په اړه یې داسې وویل : «إنه لایعرف الشرّ؛ هغه بد اوشرنه پیژني نوله ګمارلوڅخه یې پښیمانه اومنصرف شو، وریسې یې داهم وویل : «ویحک! ذلک أدنی أن یقع فیه؛ وای پرتا، دغه ډول کس ډیرزر په بدی کې ګرفتارکیږي

۳. والي به دخلکوپه عرف اوکلتوراګاه وي :

بله مهمه نکته دوالیانواومسؤلینوپه انتخاب کې داوه چې وړاندې ترډې چې یوڅوک دامیرپه صفت وټاکل شي هغه بایددهغې سیمې اوخلکوله رواجونو، عرفونواوکلتوري اداتوڅخه په بشپړډول اګاهي اومعلومات ولري ترڅووکولای شي داسلامي ارشاداتواوفرامینوپه تطبیق کې دخلکوغوره عرفونه منسلک اوهمکار وګرځوي اوبې مفاهمې اوهماهنګي پیداکولوته لارهواره کړي ، ځکه که یووالي اومسؤل دخلکوله اداتوڅخه باخبره نه وي اوسرچپه عمل وکړي نویولوی تصادم اوربړه منځ ته راځي اوهغه والي اومسؤل هیڅکله په خپلو وظایفوکې بری نشي ترلاسه کولای ، همدغه اصل ووچې حضرت عمررضي الله عنه به هیڅکله یودهاتي اودلیري پرتوسیمي استوګن په ښاریزي سیمي اوعلاقي نه ټاکه اونه به یې هم ښاریز کس په لیري پرتي کومي سیمي دمسؤل په توګه ګماره ، لکه چې حضرت سلمان فارسي یې پرمدائن، نافع بن‌حارث یې پر مکه، اوعثمان بن‌ابي‌العاص پر طائف امیران مقررکړل ، ځکه دغه ټول دهماغه ځایونواستوګن اوپه اداتوپې پوه وو

۴. خواخوږي اوشفقت ؛

داسلام دویم خلیفه به دخلکوپه وړاندې خپله ځان مسؤل باله ، نوهیڅکله به یې دانه خوښوله چې دولسي خلکو دشکوې اوشکایت په مقابل کې بې تفاوته پاتې شي ، له همدې کبله به هغه زیات کوښښ په دې برخه کې کاوه چې په خلکورحم دله اوله شفقت اومرحمت ډک مسؤل وټاکي ، ترڅوخلکوته ستونزي جوړي نکړي اوظلم اوتعداترې صادره نشي ؛

یوکس چې حضرت عمررض غوښتل هغه یوځای دامیرپه صفت ولیږي دهغه خواته په داسې حال کې راغي

چې حضرت عمررض خپل واړه ځامن په غیږ کې نیولي وواوهغه يې چپه ول ، هغه کس تعجب وکړ اووي ويل چې ای اميرالمومنين ! اياته په رښتياخپل ځامن چپوي ؟ ماخوتراوسه خپل اولادونه ندي چپ کړي ، حضرت عمررض ورته په ځواب کې وويل : «فأنت والله بالنّاس أقلّ رحمة؛ قسم په الله دی چې ته په دغواخلاقوسره په خلکودلږ مهرباني لرونکي يې ،هماغه ووچې دهغه کس له انتخاب څخه حضرت عمررض منصرف وګرزيد.

۵. مسؤليت ته دخپلوانونه ټاکل ؛

ځيني حاکمان ددې لپاره چې له يوشميرتهديدونوپه امان کې پاتې شي اوشخصي منافع يې خوندي وي ، نوهغه کوي چې دصالحواولايقوکسانوپرځای ددوی نيږدي خپلوان دواک ګدی اومقام ته ورسيږي ؛ خوحضرت عمررضي الله عنه دغه دوداوتصورمات کړ ، نه يې خپل دتره ځوی (سعيدبن زيد) اونه يې هم خپل مشرځوی (عبدالله بن عمر) چيرته داميراوواکمن په توګه مقرراووليږل ، بلکې دابه يې فرمايل : من استعمل رجلاً لمودّة أو لقرابة لايشغله إلا لذلک فقد خان الله و رسوله؛ چاچې يوڅوک دخپلولي اوځاني دوستي په خاطرپه مسؤليت وګماره نوله الله ج اودهغه له رسول ص سره يې خيانت وکړ

۶ـ دهغوکسانونه ګمارل چې په خپله دمسؤليت مطالبه کوي ؛

امارت اومنصب دخلکواوالله ج په وړاندې هغه درونډباراومسؤليت دی چې يوعاقل اودوراندیشه شخص به په ډيرې سختي سره تيارشي چې غاړه ورته کيږدي اوداکاربه خوراناسم وي چې دغه درون پيټي ته په خپله ځان څوک وړاندې کړي ، حضرت عمررض به دغسې کس ته هيڅکله مسؤليت نه ورکاوه بلکې فرمايل به يې : «من طلب هذا الامر لم‌یعن عليه؛ څوک چې دقدرت په خپله غوښتونکي وي په کارکې به يې دالله تعالى له لوري مرسته اومعاونيت نه وي موجود.

۷. له ټاکلو وړاندې دمسؤل کس اروزل اوارزيابي کول ؛

داسلام دوهم خليفه به واليان وړاندې تردې چې وي ټاکي ديوې مودې لپاره به يې له ځان سره دروزنې اوارزيابي لپاره نيږدي وه سول ، حضرت احنف بن قيس وايي : زه له حضرت عمررض سره تريوه کال پورې وسيدم ، له هغه ورسته يې راته وويل چې ای احنف ! ته مې وروزلې اوامتحان مې کړې ، داچې ظاهردې نيک اوصالح دی هيله لرم چې باطن به دې هم همداسې نيک اوله ښيګڼوډک وي ، بيايې هغه دوالي په صفت وليږه .

۸. دخلافت فرمان ؛

زياتره مورخين دغه نکته ذکرکوي چې کله به حضرت عمررض کوم والي اومسؤل ليږه نويومکتوب اوفرمان به يې هم ورسره په لاس ورکاوه اويوشميرمهاجرين اوانصاربه يې په هغه ګواهان نيول ، په هغه فرمان کې به يې يولړشروط اوقيودات ليکل لکه نن سباچې دسوګند اخيستلوپه نوم ليکل کيږي اوخاص مراسم ورته دايريږي ، داسلام دويم خليفه به لاندې قيدونه اورموروپه فرمان کې راوړل چې والي به دخلکوپه مال اوځانوله هرډول ستم اوتيری څخه ځان ساتي اوله خپل مقام اومنصب څخه به دشخصي ګټواومنافعولپاره استفاده نکوي.

۹. دواليانوپه انتخاب کې مشوره اوتحقيق ؛

حضرت عمررض به دواليانوپه ټاکنه اوانتخاب کې له کباروصحابه کراموااهل خبره کسانوسره له نيږدې مشوره اوسلاکوله يوه ورځ يې دصحابه کراموپه مجلس کې داسې وفرمايل : «دلّوني علي رجل إذا کان في القوم أميراً فكأنّه ليس بأمير، و إذا لم‌يكن بأمير فكأنّه أمير. فأشاروا إلي

الربیع‌بن‌زیاد؛ ماته داسې کس معرفي کړي چې په قوم یې امیراوزمامدارمقررکړم ، لکه چې ته وایې امیراوزمامدارنه دی (یعنې ځانته په خپله دامیرپه عنوان نه وي قایل اومغرور، بلکې ځان دخلکوخادم بولي) (اوچې کله زمامدارنه وي ته به وایې چې زمامداراووالي دی (یعنې دخلکواوټولنې په وړاندې احساس دمسؤلیت ولري اوپه خدمت کې یې وي) صحابه کراموپه دغه وخت کې حضرت ربیع بن زیادورته معرفي کړ، چې هغه په دغواوصافوموصوف شخص دي .

۱۰ـ دوالیانودشخصي ثروت محاسبه ؛

حضرت عمر رض به وړاندې تردې چې والي اوحاکم ولیږي نواول به یې دهغه مال اوشخصي دارایي محاسبه اومعلوموله ، ترڅودهرډول شکوکواوشبهومخه ډب شي ، که به کوم والي دعزل اولیږي کیدوپه وخت کې داوویل چې دغه مال یې دتجارت اوکاروبارله وجې لاسته راوړی ، نوحضرت عمررض به هغه نه ورسره منل بلکې ورته ویل به یې : «إنّما بعثناکم ولاة و لم‌نبعثکم تجاراً؛ ماته دحکومت داري اودمسلمانانودخدمت لپاره استولي یې نه دتجارت اوشخصي ګټودترلاسه کولو لپاره .

۱۱ـ دوالیانوداختیاراتوحدود ؛

حضرت عمررض به والیان صرف دخلافت په عمومي پیروي اوتګلاره ملزم اوپابندګڼل ، په سیمه ییزواومنطقوي امورو کې به یې والیانوته مکمل اختیارات ورکول چې دسیمې اومحیط دشناخت اومصالحوپه تناظراودایره کې اجراات ترسره کړي

۱۲ـ امیربه دخلکوخادم وي ؛

حضرت عمررضي الله عنه ، به دغه اصل ته په پام چې امیربه دخلکوخادم وي دغه ډول لارښوونې به یې ورته کولې ، شپه ورځ بایدخلکواورعیت په خدمت کې ووسي ، یوه لحظه هم دامارت دروازه دخلکوپه مخ مه بنده وي اوفرمایل به یې «إنّي لم أبعثکم جبابرة و لکن بعثناکم أئمة، فلاتضربوا المسلمین فتذلوهم، و لاتحمدوهم فتفتنوهم، و لاتمنعوهم فتظلموهم؛ زه ددې لپاره تاسې نه لیږم چې په خلکوظلم اوستم تطبیق کړی ، بلکې ددې لپاره مواستوم چې دخلکولارښوداوپیشـوا جوړشـي ؛ نومسـلمانان پـه وهلواوکنځلومه خواروی ، په بې ځایه مدحواوصفتونوځانونه په فتنوکې مه غورځوي اوخلک دخپلوحقوقوپه محروملوسره ځان د ستم اوظلم مرتکبین مه جوړوی

یوه ورځ حضرت عمررض یوې ډلې مسؤلینوته داسې وفرمایل : تاسې ددې لپاره نه استخداموم چې دخلکوپه وینواودهغوپه ابرواوعزت مسلط وګرزی ، بلکې هدف دادی چې دخلکوپه منځ کې لمونځونه قایم کړی ، دعمومي سرمایواوشتمنیوسـاتنه وکړی اوحـق حقدارتـه ورسـوی ، دخلکوپه منځ کې په عدالت اوانصاف پریکړي وکړی .

۱۳ـ دوالیانواوحکامونظارت ؛

عمر، رضي‌الله‌عنه، به تنهادوالیانوپه ټاکنه ځان له مکلفیت څخه نه ژغوره ، بلکې دوالیانواومسولینوله کړنوبه یې په دقیق ډول ځان خبراوه ، دخلافت هیڅ یوه داسې خطه اوټاټوبي نه ووچې هغه به ترې اګاه نه وو، بلکې وخت په وخت به خاص وفدونه لیږل اوله حالاتوبه یې ځان په جریان کې اچاوه .

یوه ورځ یې داسې وفرمایل : «أرأیتم إذا استعملت علیکم خیر من أعلم، ثم أمرته بالعدل أکنت قضیت ما علي؟ فقالوا: نعم! قال: لا، حتي أنظر في عمله أیعمل بما أمرته أم لا؛ ماته ووایې : که یوبهترین شخص چې زه یې پیژنم اوپرتاسې یې واکمن مقررکړم اوهغه ته په عدالت امروکړم ایاپه دغه ټاکنه اوانتخاب به زما دنده اومسولیت رفع شي ؟ خلکوورته وویل چې هو! حضرت عمررض وویل نه ،

مګرترهغوچې په کارېې دقیق نظارت ولرم چې ایاهغه څه یې عملي کړي چې ماورته سپارلي اودستورمې ورکړی !

لکه چې دعمومي نظارت اوپلټنولپاره یې محمّدبن‌مسلمه انصاری دیوه پلاوي په مشري کې ګنوسیمواوټاټوبوته ولیږه ترڅودحکامولـه کړنواوعملکردی څخه څارنه اوله خلکوپوښتني وکړي اودخلافت دحدودواوسلطي په باب اندازه اومعلومات راجمع کړي .

خپله حضرت عمررض شام ته دری ځله سفرونه کړي ، دوالیانو کورونوته ورغلي ، له ولس سره یې دهغودچلندپه باب له نیږدې ځان خبرکړی ، دشام په سفرکې دحضرت ابوعبیده بن جراح رض کورته ورغي اودهغه ساده ، فقیرانه اوزاهدانه جونګړه یې ولیدله اوژاړه شو ، همدارنګه داسلام دلوی قهرمان اوشجاع خالدبن‌ولید، رضي‌اللّٰه‌عنه، کورته په داسې حال کې ورغي چې پرته له وسلې چې دهغه په ترمیم بوخت وو بل کوم قیمتي څیزیې په کورنه وموجود!!

دحضرت عمررض له شهادت څخه یوکال وړاندې هغه مبارک اراده کړی وه اوصحابه کراموته یې ویلي ووچې که دالله خوښه وه اوژوندی وم‌په راتلونکي کال به دنظارت اودمسلمانانودمشکلاتودمعلومولوپه خاطر بیلابیلوښاروته سفرونه کوي ، ترڅودخلکوستونزي په خپله واوري اودوالیانوکړني په خپلوسترګووویني . ، هغه ویلي ووچې اول به شام ته ځم اوهلته به دوه میاشتي تیروم ، بیابه دعراق شمال دجله اوفرات ته ځم اودوه میاشتي به هلته تیروم ، بیابه بصره اوکوفه ته اودوه دوه میاشتي به هلته تیروم ، زمادې په الله قسم وي چې دغه کال به څه غوره اوبهترکال وي !

۱۴ـ دنیمګړتیاپه صورت کې دوالي عزل ؛

کچیري به دکوم والي اوامیرپه دنده اوکړنوکې خلل اوانحراف مشاهدکړل شو اودخلکوخدمت به یې په ښه توګه نه وورسولي ، نوپرته له کوم ځنډڅخه به یې دهغه په رفع کولوکې اقدام کاوه اوکه به هغه مشکل دوالي اوامیر په عزل اولیری کولوترسره کیده حتمابه یې والي عزل اوبل غوره کس به یې ورته په عوض کې ټاکه ، حضرت عمررض به فرمایل «خیر لي أن أعزل كل يوم والياً من أن أبقي ظالماً ساعة من نهار؛ ماته داغوره اوبهتره ده چې هره ورځ چې لازمه وي والي عزل اولیري کړم لدې خبري نه چې یوظالم په ورځ کې یوه لحظه په ظلم کې پاتي اووساتلي شي ، حضرت عمررض به وفرمایل «إنّما عامل لي، ظلم أحداً فبلغني مظلمة. فلم أغيرها فأنا ظلمته؛ که ځمایووالي پرچاظلم اوستم وکړي اوزه دهغه ظلم درفع اودفع په برخه کې اقدام ونکړم ، داسې ده لکه چې ماپرهغه کس ظلم کړي وي !

منابع:

۱، ابن‌الجوزی، ابوالفرج عبدالرحمن؛ مناقب امیرالمؤمنین عمربن‌الخطاب؛ بیروت: دارالهلال، ۱۴۰۹ هـ./ ۱۹۸۹م.
۲، صلابي، علي‌محمّد؛ فصل الخطاب في سیرة امیرالمؤمنین عمربن‌الخطاب؛ دمشق: دارابن‌کثیر، ۱۴۳۰ هـ./ ۲۰۰۹م.
۳، طبری، ابوجعفر محمّدبن‌جریر؛ تاریخ الطبری؛ بیروت: دارالکتب‌العلمیه، ۱۴۰۸ هـ./ ۱۹۸۸م.
۴، طنطاوی، علي، و ناجي طنطاوی؛ اخبار عمر و اخبار عبدالله‌بن‌عمر؛ بیروت: المکتب‌الاسلامي، ۱۴۰۳ هـ./ ۱۹۸۳م.

دحسن روحاني برياليتوب

اوپروراندې يې ګڼې ننګونې

حسن مومند

په اوسنيو ولسمشريزو انتخاباتو کې ايرانيانو ۶۵ کلن حسن روحاني دخپل هيواد لپاره نوی ولسمشر وټاکلو ،دايران دقانون له مخې که چېرې په انتخاباتو کې يو کانديد هم ۵۰ سلنه رای ترلاسه نکړای شي نو په يوې اوونۍ کې دننه به بيا له سره انتخابات کېږي ،په اوسنيو انتخاباتو کې ددوهم ځل انتخاباتو ترسره کولو اړتيا راپېښه نه شوه بلکې په همانغې روميي مرحلې کې حسن روحاني ۵۱ سلنه رای ترلاسه او دايران په تاريخ کې يوولسم منتخب ولسمشر وګرځېد.

دعصري او ديني دواړو علومو عالم ، کامياب ډيپلومات او پوه سياستوال ډاکټر حسن روحاني ژوند ته چې او ګورو نو راته جوتېږي چې دهغه علميت او شخصيت دايران په څېر دنړۍ په سياست کې دمهم مقام لرونکي هيواد لپاره ډېر مناسب دی او دا دايراني ولس له لورې دايران لپاره ډېر غوره انتخاب دی.

حسن روحاني د۱۹۴۸ کال دنومبر په ۱۲مې نېټې دايران په سمنان ولايت کې زېږېدلی ،هغه داهل تشيع په يوې داسې بنسټپالې کورنۍ کې نړۍ ته سترګې وغړولې کومه چې دوخت دحاکم شاه ايران په مقابل کې په پيل شوې مقاومت کې ډېره فعاله وه نو ځکه يې لا له کوچنيتوبه دمذهبي علومو دزده کړې او په اهل تشيع ټولنې کې دمذهبي مشرۍ سره شوق و ، په داهل تشيع دمشهورو او ډېرو مدرسو ښارقم ته ولاړ چې د۱۹۶۹ پورې همدلته يې زدکړو بوخت و ؛حسن روحاني چې دمذهبي علومو ۱۹۶۰ کې يې دسمنان له يوې مدرسې نه ديني زدکړې پيل کړې او کال پس بيا ترځنګ يې دعصري علومو سره هم مينه درلوده په ۱۹۶۹ کې دتهران پوهنتون ته ولاړ او دلته يې دعدلي قانون لوستلو نه پس دماسټرۍ لپاره دبرطانې ګلاسګو پوهنتون ته ولاړ ،دماسټرۍ دپوره کېدو او دايران دانقلاب دبرياليتوب نه پس هغه په خپل هېواد کې پر ډېرو مهمو پوستونو خدمت وکړ خو خپله دزدکړو لړۍ يې پرې نکړه او په ۱۹۹۹ کې دبرتانې دياد پوهنتون نه دډاکټرۍ دسند په ترلاسه کولو بريالی شو.

دحسن روحاني تعليمي شاليد ته په پام سره داويل پرځای دي چې هغه نه يواځې داچې دلوېديځ په نظام پوه دی بلکې دلوېديځ په يو مهم هېواد کې دپاتې کېدو له امله هغه دلوېديځ دقانون او سياست نه هم ډېر ښه خبر دی.

دحسن روحاني په اړه داخبره هم له پامه نه شي غورځېدای چې دايران انقلاب کې هغه له فعالو غړو څخه ګڼل کېدلو ،بل داچې دخپل سياسي سفر پيل يې دځوانۍ په شپو ورځو کې دايران دشاه پرضد دمقاومت نه وکړ ، اوهمدارنګ دانقلاب دکاميابېدو نه په لږو ورځو کې په هغه ددولت پرضد دويناګانو لپاره دايران مختلفو ښارونو ته سفرونه کول چې دولت پرې په عامو غونډو کې دوينا کولو بنديز هم لګولی وخو هغه به نه منع کېدلو نو ځکه څوځلې زنداني شوی هم و.

کله چې آيت الله بهشتي او آيت الله مطهري خميني ته دهېواد پر ښېګڼو دلو مشوره ورکړه او دهمدوئ په مشوره دايراني انقلاب بنسټ ايښودونکي فرانسې ته ولاړ او دهماغه ځای نه يې دشاه پرضد مقاومت

رهبري کولو نو هغه مهال حسن روحاني په اروپا کې دانقلاب دبریالیتوب لپاره دېرې زیاتې هلې ځلې کولې ، هر پوهنتون ته به ور تللو او ایراني محصلینو ته به یې دسوال او جواب دپروګرام له لارې دخمیني پیغام او افکار ور انتقالول .ځکه خو په ۱۹۷۹ کې دایراني انقلاب دبریالیتوب نه پس هغه دپارلمان غړی شو او د کال ۲۰۰۰ پورې هغه ۵ ځلې دمنتخب غړي په صفت پارلمان ته په تللو بریالی شو، ددې ترڅنګ هغه په یو وخت کې دملي امنیت دهیئت او دپوهانو دهیئت غړیتوب هم درلودلو، دعراق او ایران جنګ دپای ته درسېدلو نه پس هغه دستر ملي امنیت په اداره کې دایران رهبر آیت الله خامنه ای خپل نماینده او ړومبي سکر تر په صفت مقرر کړ ،هغه پدې منصب ۱۶ کاله پاتې شو چې دایران د ۲ منځ لارو ولسمشرانو محمد خاتمي او هاشمي رفسنجاني په دورو کې هم له دې دندې لرې نکړای شو چې بلآخره یې داحمدي نژاد دولسمشر کېدلو نه پس له دې دندې استعفا ور کړه،

دنوموړې اداري دمشر په حیث دحسن روحاني منځلاریتوب ایرانیانو ته ښه رابښکاره شو او همدلته یې داشهرت هم وموندلو چې دزیات کار کولو سره یې مینه ده او پر حقایقو ولاړ سیاست غواړي .

څېړونکي وایې چې دایران داتومي پروګرام پر سر دلویدیځ سره دراپور ته شوی لانجې په اړه دمشر مر کچي په صفت دحسن روحاني دیپلوماتیک مهارت او تدبر هغه وخت څرګند شو چې دفرانسې ،الماان او برتانې سره یې په بریالیتوب مذاکرات مخ په وړاندې بوتلل

دحسن روحاني په وینا ایران دده په مشوره دملي منافعو په خاطر د۲۰۰۳ کال نه تر ۲۰۰۵ پورې دیورانیمو دغني کولو پروګرام ودرولی و :خو دااقدام د لویدیځ له لورې داقتصادي ګټو پر ترلاسه کولو پورې مشروط و : واک ته داحمدي نژاد درسېدلو سره سم داقتصادي مرستو دالړۍ هغه مهال پرې شوه چې حسن روحاني له خپلې دندې استعفا ور کړه.

داقتصادي ګټو په مقابل کې دیورانیمو دغني کولو دپروګرام په ودرولو ټول ایرانیان خوښ نه وو او دایې دسترو ملي ګټو ضد اقدام ګڼلو نو ځکه دانتخاباتي کمپاین پر مهال حسن روحاني پدې اړه دایرانیانو دانتقاد سره مخامخ شو خو هغه داجواب وکړ چې موږ پدې

سره ایران دجنګ نه وژغورلو .افغانستان او عراق اشغال شوي و ،نوبت دایران و چې موږ یې (دمذاکراتو له لارې)مخه ونیوله .

دیادولو وړ ده چې دعراق او ایران دجنګ پر مهال حسن روحاني دملي هوایې دفاع قوماندان و چې ددفاعي چارو لپاره دادده ډیره اړینه تجربه ګڼل کیږي او ایران چې اوس د کومو حالاتو سره مخامخ دی دا تجربه به ور ته ډېره ګټوره ثابته شي.

حسن روحاني دملي مصالحو، ، نومې مجلس غړیتوب هم لرلو ،ددې مجلس لپاره دایران درهبر له لورې غړي ټاکل کېږي او تر ټولو مهمه دنده یې دقانوني اصلاحاتو په اړه دپارلمان او دمشرانو دجرګګې ترمنځ رابطه جوړول وي : هغه دولسمشر جوړېدو پر مهال هم ددې مجلس غړی و او ددفاعي ،سیاسي او امنیتي چارو څارنه یې مسئولیت و.

دیادولو وړ ده چې داداري، تعلیمي او سیاسي لویو مسئولیتونو دادا کولو ترڅنګ حسن روحاني په علمي ،سیاسي، ثقافتي او نشراتي میدانونو کې هم ځان مشغول وساتلو ،دتهران پوهنتون دعلمي مجلس غړی دی ،او د ۱۹۹۱ کال نه راپدېخوا دستراتیجیکومطالعاتو اداره خو یې دپېژندګلوۍ یوه ستره نښه ده : په فارسي او انګریزي ژبه کې دخپرېدونکو ۳ جریدو مدیریت هم دحسن روحاني پر غاړه دی : دا ۱۵ ورځنۍ جریدې دي او ټول ساینسي او تحقیقي مضامین خپروي حسن روحاني دایران داتومي لانجې پر سر دنړیوالو طاقتونو سره دمذاکراتو او دایران ،امریکا او نور لویدیځ ترمنځ په روابطو کې درامنځته شویو لوړو جوړو په اړه یو کتاب هم لیکلی دی چې پکې یې خپل ټول یاداشتونه راخستي دي ، د

National Security and Nuclear Diplomacyپه نوم لیکل شوي دې کتاب په ایران او نورې نړۍ کې ډېر شهرت وموندلو : له دې پر ته ددیپلومات ،سیاسي او انقلابي لیډر ،مذهبي عالم او دتعلیمي چارو دماهر په صفت حسن روحاني په عربي ،فارسي اوانګلیسي ژبو کې ګڼ کتابونه او په سونو تحقیقي مضامین او مقالې لیکلي دي .

دحسن روحاني نوم دروان کال دمئ په ۷ مې نېټې دولسمشریزو انتخاباتو لپاره ثبت شو .دانتخاباتي کمپاین په پیل کې دهغه مقبولیت دخپلو مقابلو حریفانو په نسبت کم و خو چې کله داصلاحي تحریک لیډر

او پخواني ولسمشر محمد خاتمي دحسن روحاني حمايت اعلان کړ او خپل يو بل کانديد ملګری رضاعارف يې هم دې ته تيار کړ چې دحسن روحاني په حق کې دې په انتخاباتو کې له ګډون نه تېر شي ؛ د دې ترڅنګ دحسن روحاني دبريالیتوب امکانات هغه مهال نور هم زيات شول چې کله ولسمشر علی اکبر هاشمي رفسنجاني هم دده حمايت اعلان کړ ؛ لا په پيل کې دايران شوری نګهبان په انتخاباتو کې دهاشمي رفسنجاني ګډون ممنوع اعلان کړی و.

شوری نګهبان په ۱۲ ديني عالمانو او قانون پوهانو مشتمله هغه اداره ده چې دولسمشرۍ لپاره د کانديدو تنانو داهليت او شموليت په اړه پريکړه کوي.

د خميني دلمسي حمايت هم حسن روحاني ته ګټه ورسوله او د ۲۰۰۹ کال د انتخاباتو په نتيجه کې دتر سره شويو مظاهرو نه پس ددوه اصلاح غوښتونکو ليډرانو مهدی کروبی او مير حسين موسوي نظربندي هم دده لپاره غوره چانس شو خو کوم شي چې حسن روحاني ديو عام کنديد نه راووېست او دعوامي اميدونو په مرکز يې بدل او دايران تر ټولو ستر ولسي او دولتي منصب ته يې ورسولو هغه داقتصادي چارو په اړه دده موقف و ؛ دانتخاباتي کمپاين پر مهال به هغه تل دايران په اوسني خراب اقتصادي حالت د تأسف اظهار کاوه او ويل به يې چې دخراب اقتصادي حالت يواځنی لامل دايران داتومي لانجې په اړه دايران سخت موقف دی چې له امله يې ايران په بين المللي ډګر کې ديواځيتوب ښکار کړيدی او دايران اقتصاد دفشار او تاوان سره مخامخ دی ؛ هغه به ويل چې دايران مشکلات به په ښه شان او پوره تدبر حل کوم.

په مختلفو وختونو کې پر ايران دلګېدلو بنديزونو اقتصادي بنديزونو له امله هسی هم دايران اقتصادي حالت د تېر په پر تله خراب شوی و خو چې کله تېر ستمبر کې دايران پر مرکزي بانک دتېلو دراکړې ورکړې په باره کې بنديزونه ولګېدل نو يو امريکايي ډالر د ۴۰۰۰۰ ايراني تومن سره برابر شو چې له امله يې بی کاري او قيمتي ډېره په تيزۍ سره پورته ولاړه.

حقيقت دادی چې ايرانيان د اوسنی بی کارۍ او قيمتۍ نه تنګ شوي وو او د کوم نجات ور کونکي په طلب کې وو ؛ دانتخاباتي کمپاين پر مهال چې کله حسن روحاني په ښه تدبر سره داقتصادي او نورو مشکلاتو دحل خبره وکړه نو ايرانيانو ته همدا ديواځني نجات ور کونکي په صورت کې ښکاره شو ځکه يې دده د کاميابولو لپاره دجون په ۱۴ مې نېټې په لوي شمېر کې په ولسمشريزو انتخاباتو کې ګډون وکړ.

دايران د کورنيو چارو دوزارت په وينا په انتخاباتو کې دګډون کوونکو سلنه ۲،۷۲ ته رسېدلې وه ؛ سخته ګرمي وه خو بيا هم درای ور کولو لپاره دسهار نه اوږده قطارونه جوړ شوي وو ؛ له غرمې وروسته درای ور کونکو شمېر دومره زيات شو چې ۲ ځله په وخت کې توسيع وشوه چې آخر کې ۵ ساعتونو ته ورسېدله ؛ درای ور کولو په مرکزونو کې دمېرمنو او ځوانانو شمېره زياته وه ؛ شنونکي وايي ؛ له دې ښه ځر ګنديږي چې دبې کارۍ او قيمتۍ دزياتوالي په اړه په خلکو کې تشويش زيات شويدی. دياډولو وړ ده چې دايران سياسي ډلې دنړيوالو په ژبه په دوه برخو ويشل کېږي يو په بنسټپالو نوموي او بله په اصلاح غوښتونکو ؛ ټول ليدېځ او په ځانګړې توګه لويديځوالي رسنۍ دا تأسر خپروي چې دبنسټپالو ترشا دشوری نګهبان او دايران رهبرۍ لاس دی ؛ کله چې دشوری نګهبان له لورې درفسنجاني د کانديدۍ کاغذونه مسترد شول نو په ډېر زور شور به دا خبره کېدله چې دايران مذهبي قيادت نه غواړي چې کوم اصلاح خوښوونکی دايران ولسمشر شي.

دا خبره سمه ده چې دايران دمذهبي قيادت خواخوږي به دبنسټپالو سره وي او دهمدوئ له ډلې به ديو تن ولسمشر کېدل غوره ګڼي خو په اوسنو انتخاباتو کې ديو اصلاح خوښونکي کاميابۍ دغربي رسنيو او پوهانو دا تبصرې غلطې ثابتې کړې چې ګينې مذهبي قيادت ديوې ډلې يا فرد داسې حمايت کوي چې پرې دعوامو درايو مقابله وکړای شي او يا پرې کوم اصلاح خوښوونکی ناکام کړای شي.

دا خبره هم دپام وړ ده چې دحسن روحاني تېر او داصلاح خوښونکو سره دی ځکه خو يې په بريالیتوب دملګرو ملتونو دستر سيکرتر بان کي مون او امريکا دولسمشر بارک اوباما په شمول ګڼ شمېر لويديځوال مشران په ښکاره خوشاله ښکارېدل خو بايد دا خبره هم له پامه ونه غورځول شي چې دحسن روحاني ترشا دايران درهبر آيت الله خامنه ای اعتماد هم شتون لري چې دانتخاباتو دکمپاين پر مهال به هغه ددې خبرې يادونه هم کوله او ده ته درايو ورکونکو په علم کې به هم دا خبره وه نو دحسن روحاني اصلاح خوښونه تر هغه حده پورې نده چې لويديځ لور ته په ميلان تعبير شي لکه دمير حسين موسوي او مهدي کروبي په باره کې چې ويل کېږي.

حقیقت دادی چې حسن روحاني د دواړو خواوو دحمایت نه برخمن دی ځکه خوېې په بریالیتوب د تهران تر څنګ دقم په څېر په مذهبي مرکز کې هم دخوښۍ جشن ولمانځل شو.

نو زما په اند دحسن روحاني په اړه سمه تبصره داده چې دهغه یو لاس داصلاح خوښونکو په لاس کې دی او بل یې دایران درهبر آیت الله خامنه ای په لاس کې دی چې له همدې لارې به هغه داصلاح خوښونکو او بنسټپالو ترمنځ دپل یا رابطې چاره په ډېره غوره طریقې ترسره کړي.

باید داهېره نکړو چې ایران کې دطاقت اصل سرچینه دایران رهبر آیت الله خامنه اي دی چې دهېواد په سطحه دهرې مسئلې دپرېکړې اختیار دهمده په لاس کې دی خو دولس دراپه پر مټ دمنتخب شوي ددولت دتر ټولو لوی مشر لاس په داخلي او خارجي چارو او اقتصادي مسائلو کې تر ډېره حده خلاص وي.

دایران اتومي پروګرام روان ساتل او هم دامریکا او متحدینو یې مقابله کول دنوي ولسمشر لپاره ډېره ستره ننګونه ده هغه په خپله وینا کې ویلي دي چې: دنړۍ سره به غوره روابط ټینګ کړي او خپل دیور انیمو دغني کولو پروګرام به هم جاري وساتي. ایران به خپل دا پروګرام بند نکړي ځکه چې دا په هر لحاظ قانوني او شفاف دی لویدیځو هېوادونو بې ځایه دایران اتومي پروګرام متنازع ګرځولی دی. دوئ باید دایراني ولس اتومي حقوق ومني..

دحسن روحاني دځر ګندونو نه داسې معلومېږي چې دده په راتګ به دایران په خارجه پالسۍ کې څه بنسټیز بدلون رانشي خو حسن روحاني به هم ددوه وراندینو ولسمشرانو خاتمي او رفسنجاني په څېر دنرم سلوک او لهجې نه کار اخلي. اقتصادي اصلاحاتو ته به داولیت حق ورکوي او دولس دژوند ښه کېدو ته به توجه ورکوي همدې هدف ته په پام سره به دامریکا او نور لویدیځ سره دروابطو دښه کولو په موخه به داتومي پروګرام په پالسۍ کې یوڅه کوچني بدلونونه راولي.

دحسن روحاني لهجه به داسې نه وي لکه ددوه ځلي منتخب شوي ولسمشر احمدي نژاد: داحمدي نژاد دولسمشرۍ په ۸ کلن دور کې به دامریکا، نور لویدیځ او اسرائیلو سره دجنګ کولو ترحده خبرې کېدلې چې له امله یې دلویدیځ له لورې دایران داتومي پروګرام په اړه زیات شکوک او شبهات ښکاره کړای شوي وو او پر ایران دملګرو ملتونو له لورې سخت اقتصادي بندیزونه لګېدلي چې ورسره دایران اقتصاد سخت زیانمن شو: دروحاني سلوک به ددې برعکس ډېر نرم وي خو ایران به دخپل اتومي پروګرام له جاري ساتلو تېر نه شي نو پوښتنه داده چې داتومي پروګرام دجاري ساتلو سره سره به دامریکا او دامریکا متحدین دبندېزونو لرې کولو ته اماده کړای شي؟

په ښکاره خو دادېر ګران کار برېښي امریکا او نور لویدیځ څېر و ته نه ګوري: خبره داتومي پروګرام دجاري ساتلو او یا هم بندولو ده. ولسمشر بنسټپال وي او که اصلاح غوښتونکی وي: هو! یواځې په هغه صورت کې یې امکان شته چې مقابل لورې هم نرمي ښکاره کړي خو د مقابل لورې دنرمۍ تمه هغه وخت ختمه شوه چې داسرائیلو لومړي وزیر بن یامین نتن یاهو یدې تازه ورځو کې یو ځل بیا په ایران دحملې دړ که وکړه. دایران خراب اقتصاد دحسن روحاني لپاره بله ستره ننګونه ده. دتېلو صادرونکي داوپیک دې مهم غړي هېواد کې دپیسو انفلاسیون ۲۸ سلنې ته رسېدلی چې له امله یې ولس دسختې قیمتۍ سره مخامخ دی نو آیا داقتصاد په ښه کولو به حسن روحاني وتوانېږي؟

حقیقت دادی چې ددې تر او دهېواد دخارجه سیاست او داتومي پروګرام سره دی دکوم له امله چې پدې هېواد ستر اقتصادي بندیزونه لګېدلي دي. دحسن روحاني لپاره دریمه ستره ننګونه په سیمه کې دایران په باره کې داعتماد دفضا رامنځته کول دي؛ دمنځني ختیځ دچارو دکارپوهانو په اند داعتماد دفضا رامنځته کولو لپاره باید ایران دخپلو عربو ګاونډیو هېوادونو په شمول دسیمې دټولو عربو او عجمو هېوادونو سره په روابطو له سره غور وکړي: دلته خبره یواځې داسرائیلو سره ددښمنۍ دآواز پورته کولو نده: دایران داتومي پروګرام په باره کې دسیمې هېوادونه دشکوکو او شبهاتو ښکار دي؛ دسوریې په اوسنو له حده زیاتو حساسو حالاتو کې دمخالفینو په مقابل کې دبشارالاسد ددولت ځرګند حمایت او معاونت هم د بې اعتمادۍ یو سبب دی ځکه چې دبشارالاسد ددولت په لاس په زرونو بې ګناه خلک شهیدان شوي دي.

نو دا به راتلونکې کې ځرګنده شي چې حسن روحاني ددې ننګونو په مقابل کې سر ټیټوي او که په بریالیتوب یې مقابله کوي.

داسلامیت او مغربیت ترمنځ کشمکش!

اسلامي نړۍ کې دجدید یت اومغربیت ملاتړي اوناقدین

لیکوال: داسلامي نړۍ مفکرعالم مولانا سید ابوالحسن علی "ندوي"رح - ژباړه: ابوظهیر

نامــق کمـــــال:

له غربي تهذیب اوعلومو نه داستفادي کولو بنه متوازن دعوت اودترکیې اونوي غرب داړیکو دځرنګوالي بنه تشریح ددغه هېواد(ترکیې)دیوه نومیالي مفکر "نامق کمال" په اندونو او مضامینو کې لیدل کېږي. نوموړي پر هغو برخو کې له غربه داستفادي بلنه ورکړي دکومو پخپلولو چې غربي ولسونو پرمختګ اوبرتري ترلاسه کړه.

دیادونې وړده هغه("نامق کمال")په کال ۱۸۴۰ز کې د (rhobosto)په یوي لوړپوړي او ښه اسوده کورنۍ زیږدلی و. دفارسي، عربي او فرانسوي ژبوزده کړي یې په کور کې بشپړي کړي، بیا په اوولس کلنۍ کې یې رسمي وظیفه واخسته اوپه ځوانۍ کې دترکیې دمشهور مفکر اووطن پال مشر ابراهیم شیناسي (۱۸۲۶ـ۱۸۷۱) څخه متاثر شو. هم دهغه په مشهوره ورځپاڼه "تصویر افکار" کې یې لیکوالي پیل کړه. په ۱۸۶۵ز کې شیناسي په فرانساه کې پناه واخسته. دورځپاڼې اړوند ټولې چارې دنوموړي په اوګو بار شوي او هم هلته یې ځان دیوه سیاسي لیکوال په توګه ښکاره کړ. دخپل بیباک قلم او ازادومضامینو په وجه په کال ۱۸۷۱ز کې دخپل وطن پریښودو ته اړیستل شو، دجلاوطنۍ درې کاله یې په لندن، فاریس او ویانه کې تیر کړل، په دې موده کې یې هلته دنوي قانون اواقتصادمطالعه وکړه، په کال ۱۸۷۱ز کې بیر ته ترکیې ته راغی، لږه موده وروسته دخپلې مشهوري ډرامي "وطن" له امله (چې دوطن پالنې افراطي جذبات اومینه پکې انځور شوي وه) "قبرص" ته جلاوطن شو، په کال ۱۸۷۶ز کې دسلطان عبدالعزیز دمعزولولو وروسته بیا خپل هېواد (ترکیې) ته راغی، چې داوار هم ژر ددولت لخوا معتوب کړای شو اودخپل ژوند تر وروستي کاله په بند کې پاتې شو، چې هم هلته په کال ۱۸۸۸ز کې ومړ.

دازادخیالۍ او دوطن پالنې سربیره نامق کمال ریښتونی او کلک مسلمان هم و. دنوموړي په لیکنو کې دوطن مور (ترکیې) بیا بیا یادوني اساس دفرقي یادلي په ځای سیمه ده. هغه پخپل دې اند کې دومره اسلامي و څومره چې دعثماني خلافت تصور و. هغه ټول عمر په کلکه دمسلمانانو ددویزو اقدارو اوعقایدو منونکی و اوډېر کرته یې دنورو دلو په مشرانو یې له دې پلوه توندې نیوکې وکړي، چې هغوئ دپخوانیو اسلامي اقدارو په ساتنه کې ناکام راغلي وو، نوموړي له اروپا څخه هغه نوي اندونه راوړل دکومو راوړلو ته چې اړتیا وه.

څینو اروپایي لیکوالو چې داسلام لاربښونې په ناسم شکل غوښتل وړاندې کړي، په هغوئ یې کلکې نیوکې وکړي، دهغوئ په ځواب کې اسلامي کارنامې په ښه توګه وړاندې کړي، تردې پورې چې دعثماني خلافت په مشرۍ کې یې دنړیوال اسلامي تحاد نظریه هم وړاندې کړه، څو هغه (اتحادیه) په آسیا او افریقا کې خپل جلا کردار اورول ادا کړي او داروپا په مقابل کې یومشرقي ځواک راوتو کیږي او دځواک له پلوه توازن رامنځته شي.

فروفیسر نیازي برکس دضیاء ګوک الپ دمضامینو ټولګې په فاضلانه مقدمه کې لیکلي:

هغه سړي چې دنوي حالت ناروغي یې تشخیص کړه اوهغه یې دیوه نوي دولت دجوړیدو په لاره کې د لوی خنډ په تو ګه اومنله هغه نامق کمال (۱۸۸۸-۱۸۴۰)و،نوموړي دهغو دیني ، اخلاقي ، اوقانوني څانګو په اصلي یا مثالي شکل کې دوړاندې کولو کوښښ و کړ، کومې چې اسلام ته منسوبولی شوي او هم یې دعثماني خلافت دعروج دپخواني دور دسیاسي ادارو اصلي اومثالي شکلونه وړاندې کړل ،دغربي تهذیب هغه خواوي یې یوپه یو رابرسیره کړي دکومو دخپلولو اوغوره کولو په وجه چې غربیانو ته ترقي. اوبر تري په برخه شوه ،په دې دریواړو عناصرو دبحث کولو وروسته دې نتیجې ته رسیدلی دی چې دهغو دریواړو ترمنځ کوم اساسي اختلاف نشته ، دهغه په اند: اسلام ټولنې ته اخلاقي اوقانوني بنسټونه ور کړي ، په دولتې چارو کې عثماني اصول اودنړۍ دمختلفو قومونو ترمنځ درواداری آفاقي تګلاره دعثماني اصولو (ترکیې دولت نه) دسیاسي قالب اساس ګرځوي اودغربي تهذیب هغه مادي اوعملي لارې او اسلوب یادوي له کومو څخه چې نظام ته څواک او په معاصره نړۍ کې ور ته داقتصادي ترقۍ قوي عنصر په لاس ورځي.

په دې تو ګه نامق کمال نولسمه پیړۍ کې هلته(ترکیه کې)د ادریواړه یاد عناصر جلا، جلا کړل اودهغو دحدودو نښې یې په ګوته کړي دي . دهغه په اند ددلو ټپلو دناکامۍ تر ټولو لویه وجه ددغو درې ګونو عناصرو په باره کې ذهني انتشار و، مثلا :شریعت اسلامي قانون دفرانسوي قانون پخاطر پریښودل شو اودحکومت . تعلیم . اقتصاد اوزراعت په لړ کې غربي لارې چارې غوره نکړای شوي

هغه وایي :دترکیې څخه دنوي ترکیې جوړولو طفلانه ارزو دتنظیمونو مشران دیته اړ کړل چې له دلیل پر ته په اقتصادي اوسیاسي برخو کې داروپایي څواکونواحسانونه اومني ، ددې نتیجه داشوه چې عثماني دولت خپله ازادې اوسالمیت له لاس ور کړ ،ولې هغه په انتظامي چارو کې دنویو جمهوري نظامونو یواصل هم رائج نکړ . سره ددې چې نه دقدیم عثماني سیاسي اداري په اصولو کې اونه په اسلامي قانون کې داسې کومه خبره وه چې دترقۍ ،جمهوریت ، یادنوي ساننس سره یې ټکر وای.

لیکن ددې باوجود نامق کمال دومره عام مقبولیت اوژور اغیز دترکیې یې په ځوان نسل اوپخپله په ضیاء ګوک اودهغه په همزولو وکړ چې ورباندې د اعتراف لپاره د میرمن خالده انجم لاندې الفاظ لیکلي :

نامق کمال دنوي ترکیې تر ټولو منلی اوګران شخصیت و ،دترکي افکارو اوسیاسیاتو په تاریخ کې له هغه نه زیات دبل چا شخصیت دومره ندی ځلیدلی څومره چې دنامق کمال دی . دهغه متوازن فکر اونسبتاً معتدل دعوت دنوي ترکیې په جوړولو کې دومره مؤثر ثابت نشو څنګه چې د"ضیاء ګوک الپ" دغربي تهذیب او سیاست اصولو غوره کولو توند دعوت مؤثر ثابت شو ،ولې دضیاء فلسفي اوفکر ته دعملي بڼې ور کولولپاره ترکیې ته یونهایتي څواکمن اودکار سړی په لاس ورغی . چاچې دضیاء له تصور اومنشاء څخه هم زیات کار وکړ آن دمغربیت په قالب کې یې دترکیې داچولو عزم وکړ ! هو! هغه دکمال اتاترک شخصیت و.

دکمال اتاترک فکري روزنه !دهغه ذهنیت ،مزاج اوطبعې ځانګړتیاوي !

دمصطفی کمال پلار علی رضانومیده . په کال ۱۲۹۸هق کې په "سالونیکا" کې زیږیدلی و

.دهغه کورنۍ اصلاً د"اناطولیه" په یوه اطرفي کلي کې میشت وه، لومړی په یوه داسې ښوونځي کې شامل شو ، چې پکې زده کړي په اروپایي دود ور کول کېدې .بیا یو کال لپاره یې په یوه مځنې ښوونځې کې زدکړې وکړې .له هغه وروسته یې په حربې لیسه کې ګډون وکړ .بیا داستنبول په حربي پوهنتون کې شامل شو . په پای کې له هغه څخه دیوه پوځي افسر په تو ګه ووت . دسلطان عبد الحمید زمانه وه. مصطفی دهغه پر ضد په څو سازشونو کې دنیول کیدو وروسته دمشق ته جلا وطن شو. له هغه ځایه په پټه "سالونیکا" ته وتښتیده .هلته داتحاد اوترقۍ په نوم دیوې ټولنې غړی شو.هم هلته لږ وروسته دپوځ په لیکو کې شامل شو اودمقدونیه داور ګاډي لین غځولو چارې ور ته وسپارل شوې . په ۱۳۲۷هق ۱۹۰۹ز کې سلطان عبد الحمید معزول کړای شو اوپه ۱۹۱۰ کې دنظامي اتشې په حیث فرانسې ته لاړ . دې سفر هغه دترکیې دپرمختګ په پلانونو اوچارو بې باوره کړ دجرمنې مخ پر زیاتیدونکې ترقۍ ناارامه کړ .دغه مهال په ترکیه عملاً دځلورو کسانو واک و، انور ،طلعت ، جاوید

اوجمال ،مصطفی کمال له هغوئ ځلور واړوسره جوړه نه وه اوور سره یې سخت اختلاف درلود . کمال دنړیوالو اهدافو او له ترکیې څخه دباندې دعثماني سلطنت له پراخولواوغځولو سره علاقه نه درلوده ، هغه داپالیسي دهېواد لپاره وژونکې اومضره ګڼله . بل پلوانور هم هغه نه خوښه و.په کال ۱۹۱۲ازکې دبلقان جنګ شروع شو ،دبلقانې ښارونو څخه دمهاجرینوپه هجوم اودهغوئ دنه ویلو په حالت سخت خفه شو . دبلقان په هېوادو کې داختلاف په وجه ترکانو په "اډریانوپل" باندې قبضه وکړه ،انور دجنګ وزیر مقرر شو ، چې په دې توګه هغه دخپلې ترقۍ وروستیومدارجو ته ورسید .انور غوښتل اوپه دې کوښښ کې وچې ټول مسلمانان د"خلیفة المسلمین" تربیرغ لاندې راولي ،انور جرمنیانو ته دترکیې دپوځې چارودتنظمولو کار وسپاره . مصطفی کمال په دې کار سخت خوابدی شو . په کال ۱۹۱۴ازکې نړیوال جنګ پیل شو انور اودهغه دملګرو په فشار ترکیه له جرمني سره ودریده اوپه جنګ کې یې ګډون وکړ ،مصطفی کمال رایه داوه چې ترکیې ته بیطرفه پاتې کیدل غوره دي . هر لوری چې فاتح شو،له هغه نه ګټه اخستل پکار دي . البته کمال دخپلې خوښې خلاف په دغه جنګ کې ښه په زړور تیا اومیړانه برخه واخسته .په ۱۹۱۶ازکې یې په" ګیلي پولی" کې ښه لوبه کارنامه هم ترسره کړه اوله همدې ځایه یې شهرت خور شو. په کال ۱۹۱۶ از کې دقفقاز محاذ ته ولیږل شو .په کال ۱۹۱۷ ازکې دحجاز لپاره قومندان وټاکل شو . خو دحجاز قومندانۍ چارو دتسلیمولو څخه وړاندې حجاز تخلیه شو . په همدې کال ور ته دجنرال په حیث ترفیع ور کړل شوه . هم ور ته ددیاربکر پوځي قومندانې وسپارل شوه .په کال ۱۹۱۸ ازکې جنګ دترکیې اوجرمني په شکست سره پای ته ورسید . په دې سره دترکیې پخوانې وزیران دهېواد پریښودوته اړشول دکمال لپاره میدان خلاص پاتې شو. بریتانیې او اتحادیانو استبول قبضه کړ . په اناطولیه کې لویه ګډودي خوره شوه . هلته دامنیت قایمولو لپاره مصطفی کمال غوره شو. هغه دیونیانو په خلاف چې "ازمیر "یې نیولی وله سره بیا دجنګ اعلان وکړ .اوپه کال ۱۹۱۹ازکې د"سقاریه" په جنګ کې یې هغوئ ته دقوي ماتې په ور کولو ځان ته دغازي لقب ترلاسه کړ. ددې وروسته یې په" انګوره" کې یوازاد حکومت جوړ کړ . دخلافت اوعثماني سلطنت پای یې اعلان کړ .یولادین جمهوریت یې جوړ کړ . دهم هغه یې دینه جمهوریت په کال ۱۹۲۴ ازکې لومړی ولسمشر غوره شو اوپه همدې حالت کې په کال ۱۹۳۴ کې ومړ

دکمال اتاترک په قیادت کې ترکانو چې دلادینیت(سیکولرزم) اوله خپلې ماضي نه دانحراف بلکې دشدید بغاوت ،جذباتي مغربیت اودعسکري آمریت کوم لوری غوره کړ ، دهغه دوجوه اولاملونو دپیژندلو لپاره ددغه تحریک اورجحان دفکري اوسیاسي قاید ،دنوي ترکیې دلوی معمار "کمال اتاترک" دفکري روزنې ، دهغه دمزاجي کیفیاتو ، پیژندلو ته اړ تیاده ،ولې چې دجمهوریت اوعوامیت دادعا سربیره هغه هېوادونه چې د پوځې دکتاتورانو تر واک لاندې راغلي ، هغه تر ډېره ځایه دهغه دکتاتور دشخصیت اومزاج انځور ګر ثابت شوي له دې وجې دهغو دنوي تشکیل پیژندلو لپاره دهغو دکتاتورانو (dlctators)اودهغوئ دترکیبي عناصرو پیژندنه نهایتي ضروري ده ، دلته مونږ دکمال اتاترک دمستند او همدرد سوانحلیکونکي عرفان اورګا(irfan orga)دکتاب اتاترک(Ataturk) دهغو اقتباساتو په وړاندې کولو بسیا کوو چا چې دکمال په ځانګړې مزاج رڼا اچولي :

هغه دلیسې او پوهنتون په زمانه کې ډېر کم دملګرو اودوستانو ترمنځ مقبول و ، دهغه نیږدې ملګري ډېر کم وو ، ډېر ژربه په اشتعال راته ، هغه دخپلې درجې یومثالي اوبې نفسه زده کوونکی هم و، شوقین اوذهین ډېر و، جنس (sex) دهغه لپاره مقناطیسي راښکون درلود هغه د شرابو په څکلو تسکین حاصلاوه ، ولې روحانې تسکین دهغه دننه په خدای اعتقاد و اودمرګ نه په پس ژوندیې یقین نه و .

په نورو د ظلم کولو او وربانديې د خوند اخستو کوم فطري خصوصیت چې دهغه دننه و،هغه یې پټه نه و ، هغه دنورو جذبات هیڅکله هم نه منل . له دې وجې یې هیڅوک خپل سیال نه ګاڼه ،دهغه دننه دنورو دمفتوحولو اومغلوبولو او دخپلې خوښې لپاره دنورو ځملولو فطري ارزو وه ، هغه همیش له نورو څخه ځان په سر کې خوښاوه .په مناسبتر کې هغه د"روسو او والیتر" دلیکنو سره اشنا شو او له هغویې وغوښتل چې دده دننه دبغاوت خوبولي ځپه راویښه کړي !

په ځوانۍ کې هغه د انقلابي افکارو په لړ کې دضیاءګوک الپ لاربښوونې ښې په من اوعن سره یادې کړي وي. ضیاء ګوک الپ دروڼ اندۍ او دیني ازادۍ له اندونو څخه دازادۍ لپاره جنګ کړی و ، هغه دمغرب دروڼ آندۍ لوی استازی و، هغه په ۱۹۰۰از کې دافکر څرګند کړ چې عثماني سلطنت لپاره زوال اونتشار مقدر دی ،ولې چې په بندو

ستر گويې شخصي حکومت منلی ، هغه به اکثر ويلي دينې حکومت د شخصي حکومت وفادار اوحليف دی.هغه دمذهبې واکمنۍ څخه دازادۍ په ترلاسه کولو تېنګار درلودو هغه غوښتل چې دعلماوو واکونه محدود کړای شي ، مختلفي دينې ټولنې ،ددين جذباتي ملاتړي کړۍ (دده په وينا) دشيطان لاروېانوپه کېدو دجهاد غړپور ته کوي بايد هغوئ مقيدي کړای شي، هغه دشريعت دپای ته رسولو اودهغو قاضيانو دمحکمو دمنسوخولو وکالت کاو کومو چې داسلامي قانون شرحه اوترجماني کوله دهغه په اند دهغو په ځای نوي ولسي محاکم جوړول پکار دي

ددين اوپه خاصه تو ګه داسلام په باره کې داتاترک دعقيدي ، دريځ اودهغه داصلي خيالاتو او احساساتو په اړه لېکې:

هغه داحقيقت په ښه تو ګه پېژندلی وچې دده اصلي جنګ ددين خلاف دی ، دکوچنيوالې څخه دهغه په اند :دخدای اړتيا نه وه ، محض يوه مغالطه يې ګڼله ، هيڅ حقيقت يې نه مانه ، هغه يواځې په هغو يقين درلود کوم څه چې په ستر ګو ليدل کېږي ، دهغه خيال داو چې په ماضي کې اسلام تخريبي ځواک پاتې دی ، اوهغه تر کانو ته ډېر لوی زيانونه اړولي ، هغه په دې حقيقت ستر ګې پټې کړي وي چې يواځې داسلام ښتلې وحدت پراخ عثماني سلطنت تعمير کړی و، دهغه انګېرنه داوه چې داسلام له امله خلک دجمود او اوهامو په ګرداب کې نښتي ، هغه له هغه سړي څخه نفرت کاو کوم چې دتقدير په مخکې لاسونه غځول، اوويلي يې :داداخدای رضاده ، دتقدير خبره ده ، هغه په دې عقيده وه چې دخدای وجود نشته ، اوانسان پخپله خپل تقدير جوړوي ، هغه به اکثر ويلي:چې ددماغو ځواک ، اوارادي قوت دخدای په بې حسۍ اوبې رحمۍ غلبه مومي، هغه ويلي ايا دې ديني خلکو ته تراوسه دبريښنايي ځواک اطلاع نده رسيدلي کوم چې ډېر تيز کار کوي ؟دهغه مصممه اراده وه چې دين ممنوع وګرځوي ، اګر که ددې لپاره ځواک کارولو ته هم اړتيا پېښه شي آن دوکې اوفريب کولو ته هم اړتياپېښه شي

په يوبل ځای کې ليکي:

دهغه په اند رواني اصول ، اندونه ، اوفلسفي اصطلاحاتو هيڅ معنی وه له دې وجې يې دتر ک ولس لپاره ددين په غير ضروري اوبيکاره ګرځولو کې کوم تامل نه درلود خو ددين په ځای چې هغه لپاره کوم نوی څېز راښکونکی وهغه مغربي تهذيب و ،ولي هغه دانه ويلي چې يو ولس دي دخپل روح لپاره جنګ وکړي ، دنورو تهذيبونو له پخواني تاريخ يې داسبق حاصل کړی و: "چې زوړ ديو ژر نه مري "له دې وجې دتر کانو له زړونو دخدای خيال وتل به وخت وغواړي

بل ځای ليکي:

داسلام اوراسخ العقيده اديانو څخه هغه سخت نفرت کاو، دکوم خدای چې هغه قايل وه هغه دهغه په اند: دکوم بنديز اوقيد لګولو محتاج نه و، دهغه په اند:خدای په هرڅېز کې و، هغه ويلي :مونږ بايد له هره پلوه نارينه وګرځو، مونږ ډېر لوی مصيبتونه وزغمل ، زمونږ دمصيبتونو لامل داو چې مونږ په دې باندې دپوهيدو کوښښ ونکړ چې نړۍ کوم خوادرومي ، مونږ له دې پرواپر ته چې څو ک هر څه ووايي مونږ مهذب يو اوشائسته سلاري کوو ، مونږ ته په دې فخر پکار دي ، دنوري اسلامې نړۍ په مسلمانانو نظر واچوئ هغوئ دځومره حوادثو اومصيبتونو ښکار دي ولې ؟له دې وجې چې هغوئ دخپلو مغزونو څخه کار نه اخلي اوځانونه يې په هغه روښانه اولوړ تهذيب کې ځای نکړای شول دغه لامل وچې مونږ هم تر اوږدې زمانې دېير ته پاتيوالي اوتنزل ښکاروو ، په دې وروستيو څو کلونو کې که مونږ دځانونو په ژغورلو کې کامياب شونو وجه داوه چې زمونږ ذهنونه روښانه شول خواوس مونږ په هيڅ ځای کې تم کېدای نشو ، مونږ دوړاندې پر مختګ لپاره پور ته شويو مونږ پرليسي وړاندې ځو ، که هر څه پېښ شول اوس مونږ ته له دې پر ته بله لار نده پاتې ، قوم ته پوهيدل پکار دي چې تهذيب يوداسي بل اوردی چې هغه هرڅه سيزي اوتوري خاوري يې کوي ،څو ک چې هغه ته دعقيدت خراج نه ور کوي

په يوبل ځای کې ددې نفرت اظهار کوي اوليکې:

داکومه پټه اودراز خبره نده چې مصطفی کمال يوبې دينه سړی و ، په دې وجې داافواه ښه ګرمه وه چې دخلافت تنسيخ ژر راتلونکی دی ،په دې خبره انديښنه نوره هم زياته شوه چې مصطفی کمال دشيخ الاسلام په سر(څو ک چې داسلام لوی عالم و اوداحترام وړ مشر و) قرآن مجيد ور وويشته ! ددې په نتيجه کې بايد مصطفی سملاسي وژل شوی وای ، خوداسي ونشول چې داددې خبرې ژوندی ثبوت دی چې زمانه بدله شوې وه

نوربيا

دټولو ديني مدارسو لپاره واحد تعليمي نصاب

طلب العلم فريضة على كل مسلم ومسلمة (الحديث)

دعلم زده کړه په هرنارينه ، او ښځې باندې فرض ده .

دپورتني حديث شريف په رڼاکې زمونږ دمسلمان ، مجاهدملت دبچيانو لپاره دعلم حاصلول يو ضروري امر ګڼل کيږي .

نوداچې مونږ دتدريس ، او تعليم ، په څانګه کې تر ټولو زيات خدمت کړي وي ، او دطالب العلم په علمي پانګه کې مو ټولې نيمګړ تياوې له منځه وړې وي . نو ديو واحد تعليمي نصاب رامينځ ته کېدوته چې په علمي زده کړه کې کليدي حيثيت ولري ضرورت محسوس کېده .

پدې اساس دافغانستان اسلامي امارت دښوونې ، او روزنې عالي کمېسيون تصميم ونيوه تر څو دهيواد دجيدو علماء کرامو ، مدرسينو ، او علمي بورډ په پوره همکاري دټولو ديني مدارسو لپاره يو واحد تعليمي نصاب چې دهيواد ټولو علماء کرامو ، مدرسينو ، او طالب العلمانو ته دمنلو وړوي ترتيب او منظور کړ . چې دابه دطالب العلمانو لپاره دعلم په زده کړه کې اسانتياوې رامنځ ته کړي . او

ديولسو کلونو په موده کې به دلوېې دورې په شمول خپل ټول ديني تعليم سرته ورسوي .

البته : پدې کې شک نشته چې ټول ديني کتابونه په يو دول تيار شوي دي . او الحمد لله محترم مدرسين يې دتدريس کولو پوره ور تيالري ، مګر په ځينو مدارسو کې به په تدريسي چارو کې خنډ رامينځ ته کېده ، ولې خوشبختانه ددې واحد نصاب په رامينځ ته کېدو سره به دمدارسو ترمينځ اتفاق ، او همغږي ، او تعليمي يووالي رامينځ ته شي ، چې نوموړي نصاب په لاندې ډول دی .

ابتدائيه		
عدد	فن	اسماء الكتب
۱	قران کريم	مشق رُبع اخير پاره عم مع حفظ
۲	ادب فارسي (نظم)	پنج کتاب (باللفظ)
۳	فقه	شروط الصلوة ، بعده ، خلاصه کيداني
٤	صرف	صرف بهايي ، بعده ، ميزان الصرف ، بعده علم الصرف (ثلاث حصص)
٥	خط	خط ، وکتابت
٦	حساب	دتير جهاد دوقت دګډ تعليمي نصاب داول ، او دوهم صنف حساب

متوسطه		
عدد	فن	اسماء الكتب
١	قرآن کریم ، وتجوید	جمال القران ، مع مشق ، وحفظ ربع ثالث پاره عم
٢	فقه	قدوري ، (صلوة)
٣	صرف	ارشاد الصرف ، بعده زرادي
٤	نحو	علم النحو ، بعده ، تسهيل النحو
٥	ادب عربي	تسهيل الادب ، بعده ، معيد الطالبين
٦	خط	حسن خط
٧	حساب	تنویر جهاد دوقت ، نګد تعلیمي نصاب د دریم صنف حساب

درجه اولی		
عدد	فن	اسماء الكتب
١	قرآن کریم ، وتجوید	الفوائد المكية مع مشق ، وحفظ نصف اول پاره عم
٢	ادب فارسي	پنج کتاب (بالترجمة)
٣	فقه ، وحدیث	نورالايضاح ، بعده زادالطالبين
٤	صرف	علم الصيغة بعده زنجاني
٥	نحو	نحومير ، بعده الشمة
٦	اللغة العربية	الطريقة العصرية (مكمل)
٧	خط ، وحساب	تنویر جهاد دوقت نګد تعلیمي نصاب دځلورم صنف حساب

درجه ثانیه		
عدد	فن	اسماء الكتب
١	تجويد ، واخلاق	معلم التجويد ، بعده تهذيب الاخلاق
٢	ادب فارسي	گلستان (بالترجمة)
٣	فقه	كنزالدقائق (اولين)
٤	صرف	مراح الارواح
٥	نحو	شرح مائة عامل (بالتركيب)
٦	اللغة العربية ، والانشاء	القرائة الراشدة (ج اول) بعده معلم الانشاء (ج اول)
٧	ادب عربي ، وحساب	نفحة العرب ، وروسته تنویر جهاد د وخت نګد تعلیمي نصاب نهم صنف حساب

درجه ثالثه		
عدد	فن	اسماء الكتب
١	عقائد	الفقه الاكبر ، بعده ابوالمنتهي والانتباهات المفيدة
٢	فقه	شرح الوقاية (صلوة)
٣	صرف ولغة عربي	فصول اكبري بعده قرائة الراشدة (ج ثاني)
٤	نحو	هداية النحو
٥	سيرت وانشاء	نور اليقين ، بعده معلم الانشاء(ج ثاني)
٦	منطق	تيسير المنطق ، بعده ايساغوجي ، بعده ميرايساغوجي
٧	ادب فارسي	بوستان (بالترجمة)

عدد	فن	اسماء الكتب
		درجة رابعة
١	اصول حديث ، وحديث	خير الاصول بعده اثار السنن (مكمل) بعده رياض الصالحين (كتاب الادب فقط)
٢	فقه	شرح الوقاية (نكاح)
٣	نحو	كافية (مكمل)
٤	اصول الفقه	اسان اصول فقه بعده اصول الشاشي
٥	بلاغة ، وتاريخ	دروس البلاغة بعده مختصر تاريخ اسلام للسواسي
٦	منطق	مرقات بعده شرح تهذيب
٧	ادب عربي	مقامات حريري (عشرمقامات) بعده محتارات من الادب

عدد	فن	اسماء الكتب
		درجة خامسة
١	تفسير	ترجمه قران كريم (الثلث الاول)
٢	حديث	كتاب الا ثار للامام محمد رحمه الله بعده رياض الصالحين (ازكتاب الجهاد تا اخر كتاب الدعوات
٣	فقه	كنز الدقائق (اخرين)
٤	اصول الفقه	نورالانوار (مكمل)
٥	نحو	شرح الجامي (معرب)
٦	علم البلاغة	تلخيص المفتاح (مكمل)
٧	منطق وتاريخ	بديع الميزان بعده تاريخ الاسلام للشريقي

عدد	فن	اسماء الكتب
		درجة سادسة
١	تفسير واخلاق	ترجمة القران الكريم (الثلث الثاني) بعده الطريقة المحمدية
٢	حديث وحساب	مسند الامام الاعظم رحمه الله بعده خلاصة الحساب
٣	فقه	هداية (صلوة)
٤	اصول الفقه	الحسامي (مكمل)
٥	نحو	شرح الجامي (مبني)
٦	علم البلاغة	مختصر المعاني (مكمل)
٧	منطق	القطبي (مكمل)

عدد	فن	اسماء الكتب
		درجه سابعة
١	تفسير ، واصول الحديث	ترجمة قران كريم (الثلث الاخير) بعده تيسير مصطلح الحديث
٢	فقه	هداية – النكاح (مكمل)
٣	اصول الفقه	مولوي يعقوب (تاقياس)
٤	عقائد	شرح العقائد (مكمل) مع الخيالي
٥	علم البلاغة وعلم الهيئة	مطول ، بعده الهيئة الوسطى
٦	منطق	سلم العلوم (مكمل)
٧	حكمة وتاريخ	هداية الحكمة بعده تاريخ التشريع الاسلامي

درجة ثامنة

عدد	فن	اسماء الكتب
١	حديث	اللباب في الجمع بين السنة والكتاب (للامام ابي محمد على بن ذكريا المنبجي الحنفي)
٢	اصول الفقه	مسلم الثبوت (تاباب ثالث) بعده تلويح وتوضيح
٣	ميراث	تسهيل الفرايض بعده السراجي مع الشريفية
٤	صرف	شافية (مكمل)
٥	منطق	ملاجلال ، وميرزاهد
٦	حكمت وهندسه	ميبذي بعده او قليدوس
٧	علم الهيئة وادب	التصريح بعده ديوان الحماسة

درجه تاسعة

عدد	فن	اسماء الكتب
١	اصول التفسير ونحو	التبيان في علوم القران للصابوني الحنفي بعده عبدالغفور
٢	اصول حديث	تدريب الراوي بعده اصول البزدوي (مبحث السنة)
٣	ادب فارسي	مثنوي شريف
٤	علم العروض ، علم المناظرة	متن الكافي بعده محيط الدائرة بعده الرشيدية
٥	منطق وعلم الطب	قاضي مبارک بعده قانونچه
٦	منطق وعقائد	حمد الله بعده الامور العامة
٧	حكمت وادب	صدرا بعده السبع المعلقات

درجه عاشرة (موقوفة عليها)

عدد	فن	اسماء الكتب
١	اصول التفسير وتفسير	الفوز الكبير ، والتفسير البيضاوي
٢	تفسير	جلالين (جلد اول)
٣	اصول الحديث وتفسير	شرح نخبة الفكر بعده جلالين (جلد ثاني)
٤	حديث	مشكوة المصابيح (جلد اول)
٥	حديث	مشكوة المصابيح (جلدثاني)
٦	فقه	هداية (البيوع)
٧	فقه	هدية (الشمعه)

درجه حادي عشر (دوره حديث)

عدد	فن	اسماء الكتب
١	حديث	صحيح البخاري
٢		صحيح مسلم
٣	–	جامع الترمذي
٤	–	سنن ابي داؤد
٥		الطحاوي (مكمل)
٦	–	سنن النسائي ، سنن ابن ماجه
٧	–	موطائين ، شمائل الترمذي

پور تني نصاب دابتدائي او متوسطي په شمول په يولس درجو كي دټولو افغاني ديني مدارسو لپاره واحد نصاب تر تيب شوي او په عملي كولو يې هر محترم مدرس ، او طالب العلم مكلف دي .

ومن الله التوفيق

زلمي افغان:...

د مجلې ژورنالیزم

Magazine Journalism

دویمه برخه......

د موضوع له مخې د رسالو وېش لوستوالو ته اسانتیاوې برابروي.

د محتوا یا موضوع له مخې مجله او رساله په ګڼو موضوعاتو خپرونې کوي.

ډېرې مجلې مسلکي وي او مسلکي موضوعاتو باندې ډېر تمرکز کوي. د ساري په توګه د سیاست، ادب، نړیوالو پېښو، زده کړې، لوبې، پخلی، اقتصاد، مېرمنو، ساینس، طب، څمکپوهنې، هنر او یو شمېر نورو مسلکونو په اړه مجلې او رسالې خپرېږي.

۱ـ دیني- فکري مجلې(Religious / Theoretical Magazine):

دیني- فکري مکتبونه او مذهبي کړۍ د خپلو دریځونو او مسلکونو د دودېدا لپاره ځانګړې مجلې او خپرونې لري د دغو مجلو منځپانګه په دیني لیکنو، فقهي ښوونو، لارښوونو او علمي فکري توکیو سره ښشېرېږي. همداراز د لوستونکو لیکونو او پوښتنو ته ځوابونه هم وایي. (لکه: آذان، مشال، شهامت (دارلافتاء)، ندای حق او ...)

۲ـ ټولنیزې مجلې (Social Magazine):

په دغو مجلو کې د ټولیز ژوند راښکون توکي خپرېږي. دغه مجلې پر ځانګړو سکالوګانو ډډه نه کوي. مذهب، ادب، غونډې، سیاست، لوبې، هنر او نور یې د منځپانګې بنسټ جوړوي. په دغو مجلو کې د ټولنې د هر پاټکي ذوق او لیوالتیا په پام کې نیول کیږي.(خلافت، عزم، توکل، څرک او نوري یې غوره بیلګې بللای شو)

۳ـ علمي او څېړنیزې مجلې:

دغه مجلې زیاتره پر علمي او څېړنیزو مسالو غږېږي. د نړۍ د هر علمي او څېړنیزې مجلې د تګلارو له مخې سره ورته دي په دغو مجلو کې د ښکلا او سینګار پر ځای پر منځپانګه(محتوا) ټینګار کېږي (لکه د امارت د واکمنۍ پر مهال آریانا مجله، کابل مجله، کتاب مجله، کندهار مجله، ننګرهار مجله او ...)

۴- ښوونیزې مجلې (Educational Magazine):

بیلابېلې مدرسې، لیسې او پوهنتونونه د خپلو کالنیو چارو او هلو ځلو د ځرګندولو لپاره کالنۍ مجلې یا رسالې خپروي په دغو خپرونو کې د لیسو او پوهنتونونو د زده کوونکو او استادانو لیکنې او انځورونه خپرېږي. د ډطری ښوونیزو مجلو کار کوونکي هم پخپله زده کوونکي وي او ځینې استادان یې لارښوونه په غاړه اخلي

(لکه: د کابل پوهنتون مجله، د کندهار پوهنتون مجله، په پاکستان کې د کراچۍ دارالعلوم مجله (البلاغ) او ...)

۵- ادبي مجلې(Literary Magazine) :

په دغو مجلو کې ادبي څېړنې، پنځونې (لکه لنډه کیسه، شعر، ادبي ټوټه او...) بېلابېلې لیکنې، شعرونه، کره کتنې او نور توکي خپرېږي. د ادب مینه وال، شاعران او لیکوال له دغسې خپرونو سره ډېره دلچسپي ښیي. (لکه: الفت، سپیدې، ګندارا، داستانونه، پښتو کیسه د ایجسټ او ... یې غوره بېلګې دي)

۶- خبري مجلې (News Magazine) :

دغه مجلې زیاتره د خبرونو سپړونکي توکي خپروي، اکثره یې اونیزه بڼه لري، یعنې په اونۍ کې یو ځل خپرېږي. خبري مجلې له خبرونو سره په تړاو بېلابېلې لیکنې او زړه راښکونکي مطالب خپروي. دا چې زیاتره سیاسي توکي خپروي، ځکه خو یې سیاسي مجلې هم بولي.

(غوره بېلګې یې د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون تر اشراف لاندې ضمیر، الهام، مورچل او نورې دي.)

۷- ښځینه مجلې (Women's Magazine):

ځینې مجلې یوازې د ښځو او میرمنو لپاره خپرونې کوي په دغو خپرونو کې د ډېرې ښځینه مطالب لکه مور او ماشوم، روغتیا، تدبیر منزل، پخلی او نور خپرېږي له بده مرغه زموږ ارزښتونو ته ژمنو رسنیو دې برخې ته گرسره هیڅ یا ډېر لږ پام اړولی او زموږ دښمنانو په تېره غرب له دې لارې د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره کافي ډېر کار کړی د ساري په توگه په کابل کې د اشغالگرو تر مستقیم تمویل لاندې خپرېدونکي روز، مرسل، زن او نورې مجلې که موږ وگورو کاملاً زموږ له لوړو اسلامي او ملي ارزښتونو سره په ټکر کې دي دوی د ښځو نیمه برېنډ عکسونه ، سینمایي خبرې او نور مبتذل توکي پکې خپروي (گودر او ملالی نسبتاً ښځینه مجلې بللای شو)

۸- د ماشومانو مجلې (Children Magazine):

په دغو مجلو کې د ماشومانو لپاره مطالب خپرېږي توکي- ټکالي، غوره وېناوې، په زړه پورې او حیرانونکي معلومات، جالبي کیسې او د ذهني ودې لپاره بوختونکي او تفریحي توکي. په نوره نړۍ کې دې برخې ته خورا ډېر کار کېږي او ماشومانو هم ورسره خورا دلچسپي لري

(په افغانستان کې د ماشومانو لپاره تر ټولو لومړنۍ خپرونه سراج الاطفال نومېږي چې له سراج الاخبار سره یو ځای خپرېده، مصور او ...)

۹- ورزشي مجلې (Sports Magazine):

ورزشي خپرونې د نړۍ په گوټ- گوټ کې مینه وال او لوستونکي لري په دغو مجلو کې د بېلابېلو لوبو په اړه لیکنې، تبصرې، شننې، خبرونه او مرکې خپرېږي د لوبو مینه وال یې په ډېره مینه او لیوالتیا لولي (لکه لوبه او یاران سپورټي مجلې یې په هېواد کې اوسنۍ بېلگې دي)

۱۰ – طنزیه مجلې:

زموږ په معاصرو ادبیاتو کې نن سبا طنز هم د یوه بېل او جلا ژانر بڼه خپله کړې ده. له طنز سره د ټولنې بېلابېل قشرونه او پاټکي مینه ساتي. دا چې د طنز جوله عموماً انتقادي وي؛ نو ډېرې مهال دغسې مجلې بې نوم و نښانه خپرېږي؛ خو په هغو ټولنو کې چې مطبوعاتو ته نسبي او تر ځینو عمومي چوکاټونو لاندې آزادي او اجازه شته، هلته معلوم ادرس او کاري ټیم لري.

(په هېواد کې د پښتو طنزیه خپرونو غوره بېلگې بیا یې ښاخی او غومبسه وي)

۱۱- مسلکي خپروني (Professional Magazine):

د عمومي خپرونو تر څنگ ځینې اداري د مسلک په پام کې نیولو سره ځانگیزې او مسلکي خپروني کوي دغه خپروني په طب، روغتیا، ښوونې –روزنې، کرنې او نورو ځانگو پورې ترل کېږي

(غوره یې د ځینو وزارتونو خپروني دي لکه: د کرنې وزارت (کرهنه)، د مالیې وزارت (ثروت) او ...)

۱۲- تشهیري مجلې:

ځینې اداري، سوداگریز شرکتونه او بنسټونه د خپل شهرت او مشهورتیا لپاره ځانگړې رسالې او خپروني لري ، عموماً یې په خلکو وړیا ویشي.

دا ډول خپروني یوازې تبلیغاتي بڼه لري او هیڅ علمي، ادبي ،ارشیفي او ژورنالیستیکي ارزښت نلري.

(لکه: په هېواد کې د امریکایې او بهرنیو اشغالگرو خپروني د آزادۍ غږ، سولې غږ او ...)

۱۳- تاریخي- فلسفي مجلې:

لکه نوم یې چې بریښي، دا ډول مجلې په خپلو پاڼو کې یا یوازې تاریخي فلسفي مطالب گډ خپروي او یا تاریخي مجله د تاریخي او فلسفي مجله د فلسفي مطالبو خپراوي ته ځانگړې شوې وي.

(پرون، روهي او ... یې غوره بېلگې دي)

تر دې ځایه راسره د مجلو په ځانگړیو ډولونو او وېش وپوهېدئ په بله کڼه کې به د مجلو د مطالبو او موادو پر سرچینو، له ورځپاڼې سره پر توپیرونو ، اداري او تشکیلاتي جوړښت او ځینو نورو مهمو ټکیو لنډه رڼا واچوو. نور بیا ...

سردار غازي

سید سعید

دمیوند دمشهوري غزا یو ه غیر مشهوره اتله میرمن سرداره غازي ده ، سرداره غازي د ملاعبید الله لور او د امیر شیر علیخان د وزیر سردار محمد رفیق خان لودین خورده ، د کندهار ښار په بروبازار کي یې کورنۍ اوسیدله ، د سرداري د ژونند ملګرې)خاوند)سردار مقصود خان محمد زی نومیده چي دامیر دوست محمد خان د ورور جمعه خان لمسی کید ها و د کندهار په میوند کي یې خپله کلا او کاریز درلود ، همدا کاریز اوس د کاریزک په نوم مشهور دی.

د ۱۲۹۷ هق کال دبرات پر ۱۵ مه د سپه سالار غازي محمد ایوب خان په مشري افغان مجاهدینو د پرنګي اشغالګر دښمن سره په میوند کي د جګړې تابیا نیوله ، افغان غازیان د وسلو او لوژیستیک د ډیر کمښت سره مخ وو ، ځواک یې په هیڅ ډول د دښمن د قوت سره پرتلې ور نه ؤ ، خو ایماني قوت یې د ومره پیاوړی ؤ چي د مجهز دښمن هر څه ورته هیڅ ښکاریدل او په وړاندي یې ملا ترلې د جنګ میدان کي ولاړ وو ، غازیانو په خورا او چت مورال د جګړې په ډګر کي د دښمن سره د ډغري وهلو شپې شمېرلې او شعار یې ؤ چي:

یا به پرنګ له ملکه باسو
یا به ایږدو پر خپل وطن باندي سرونه

دبرات پر ۱۷ مه ورځ دافغان غازیانو او پرنګي لښکرو ترمنځ د میوند په دښته کي سخته جګړه ونښته ، لهیوې خوا د اسد د پنځمي ورځې دتودوخې ګراف ساعت په ساعت پورته کیده پرمځکه او هوا یې خپل اغیز ښکاره کاوه ، له بلي خوا بیا د واړو لوریو پر یو بل ګوزارونو تهزورورکاوه او جګړې شیبه په شیبه شدت مونده ، دورځي دلسو بجو په شا و خوا کي غازیان تږي شول خولې یې داسي وچي وې چي د الله اکبر ویلو سېکېکي نه ؤ . ډیرو ښځو په دغه غزا کي د مجاهدینو سره همکاري کوله ، ځینو میرمنو او به او ځینو بارو دغازیانو ته رسول ، سرداري غازي بیا په خپله کلا کي پهلسها و ښځي راټولي کړې وې دغازیانو لپاره یې ډوډۍ پرې پخه وله

سردار هدغرمې په راڼژدیکیدلو سره په جګړه کي دغازیانو د حال معلوم ولو په موخه د کلا برج ته پورته شوه ، که ګوري چي غازیانو د وستیو سنګرونو ته عقب نشیني کړې ده ، د همدې حالت پهلیدلو یې

دخپلوورونوغازیانوسره اوږه پر اوږه دپرنګ پرضد دجنګیدوعزم وکړ، ځان یې پهپړونې کې تاوکړ، وسله یې راواخیستله اودورونومرستې ته یې دجګړې په اوج کې ځان ورساوه، په دې جګړه کې نورې میرمنې هم وېځینو یې غازیانو ته اوبه او مهمات رسول ،ځینو بیادورونو سره څنګ پرڅنګ وسله واله مبارزه کوله اودغازیانو دروحیې لوړولو په موخه یې حماسي لندۍ هم ویلې ،ترټولو مشهورې لندۍ چې په دغه غزاکې ښځوویلې دهغې پیغلې دي چې دملالۍ په نوم یادیږي او ددې نارېپه کولوېې چې:

کهپه میوند کې شهید نه شوې

خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

دغازیانومراویهیلې ،لویدلې مورال او ساړه احساسات داسې لوړې کچې ته پورته کړل چې تقریبا دغازیانوماتهیې په سوبه واړوله .

افغانغازیانوپه تکنده غرمه کې دپرنګ دپر مختللووسلواومجهزووحشي لښکروپه وړاندې پهلږو اوکمزوروو سلواتلوالي مبارزې ته ادامهورکړه ،دغازیانو داستقامت برکت ؤچې ترسختیجګړې وروسته یې دماپښین په وخت کې دنړۍ قوي ځواک پرنګي لښکر شاتګ ته مجبورکړ اودکندهاردښارلورته یې پښې سپکیکړې.

سردارهغازي ترسوبې وروسته په داسې حال کې خپلیکلاته ستنیده چې دپرنګي افسریوتوپک اواس یې غنیمت کړي وو ،دسرداري ولجه کړې توپکد سردارجمعه خان په کاله کې تردېره وخته دمیوند دسترېسوبې دیوارزښتمن اثر اویادګار په توګه خوندي وو.

علامهرشاد دکارنامومیرمنې په ۱۷-۱۸مخ کې دحاجي محمد ابراهیم خان لودین له خولې ددغې حماسېنقل کوي اوزیاتوي چې دسرداري حماسه

ملامیریحی د نظم په تارپیلې چې لاندې درې بندهیې دښاغلي لودین په غیرمنظم ډول پیاد ؤ او ماځنې ولیکل

راووته سرداره له کلاپه نیت دجنګ نازېږه په میونده

دېوویل :ماولیدې ګولې دپرنګیانو مرګیدی دغازیانو

ځوانانـدې چې رژيږي دوطن پرنام وننګ وداخیله ژونده

دېوویل :ماولیدې سرې وینې دې بهیږي ځوانان دې قتل کیږي

لښکردپرنګیراغي میدان ته په غورځنګ بیلیږیهارله قنده

دېوویل :ماولیده غازیان دکندهار تیږیوارپه وار

ځوانانرغړي په وینوکي له لاسه دپرنګ پرنګتپ کې خاونده

افغانومیرمنودتاریخپه بیلابیلوپړاونوکې دخپل دین اووطن پهدفاع کې په مختلفو شکلونونه سترې کیدونکي اونه هیریدونکي خدمتونه کړي دي ،خپله یې هم دورونو سره اوږه پراوږهجهادکې برخه اخیستې ،زخمونه یې خوړلي اودشهادت جامونه یې پرسراړولي ، زامن، ورونهاودژوند ملګري یې هم دښکېلاکګرو پرضد دغزاګرم ډګرته هڅولي اواستولي ،پرزخم، بند اوشهادت یې صبرکړی اوپه ډیره میړانه یې دیتیمانوپالنه اوروزنه ترسره کړې ده.

ماخذ: [دکارنامومیرمنې، رشاد علامه عبدالشکور]

سلطان صلاح الدین ایوبی

مؤلف: سید ابوالحسن ندوی

ترجمه: عبدالقدوس دهقان

جنگ‌های صلیبی خطری جدید برای اسلام

پایان

فروپاشی سلطنت فاطمیان و افتخاری دیگری برای سلطان

سیطره سلطان صلاح الدین بر مصر نقطهٔ انقراض و فروپاشی دولت عبیدیان[1] که به فاطمیان شهرت داشتند بود، دولتی که دو قرن و 68 سال بر مملکت اسلامی حکومت کرد و بر فرهنگ، اخلاق و تمدن بخش عظیمی از جهان اسلام تأثیر شگرفی بجا گذاشت، دوران آنان از عقاید و احکام عجیب غریب و قوانین مضحک مملو بود که برخی از آن را از کتاب «انحطاط والآثار» مقریزی نقل می کنیم:

«در باره میراث دستور دادند که به «ذوی الارحام» رد شود و اعلام کردند که اگر متوفی دختری از خود به جا گذارد با وجود دختر به برادر، خواهر، عمو، جد، برادرزاده و عموزاده میت هیچ سهمیه‌ای از میراث ندارند. و در صورت وجود فرزند پسر و یا دختر تنها شوهر، همسر، پدر و مادر و جده کسی دیگر میراث نمی‌برد، و با وجود مادر تنها به افرادی میراث می‌رسد که در صورت وجود فرزند به آنان میراث می‌رسید».

خروج از این قانون را عداوتی با حضرت فاطمه ل می‌پنداشتند «روزه و عید رمضان به حساب آنان بستگی داشت و طلب هلال از مصر کلاً برچیده شد».

«در سال 372 عزیز بن المعز خواندن نماز تراویح را در مصر ممنوع کرد».

«در سال 381 مردی را تنها به این جرم که نزد او کتاب «الموطأ» مالک بن أنس ؒ یافته شده بود، شلاق زدند و او را در شهر تشهیر کردند»[2].

«و در سال 393 هـ 13 نفر را به این جرم که صلاة الضحی خوانده اند دستگیر و آنان را بر شتر سوار کرده و در شهر تشهیر کردند و سه روز آنها را حبس کردند».

---

(1)- محققان أنساب اتفاق نظر دارند که عبیدیان هیچگونه نسبتی با اهل بیت نبوی ندارند، بلکه به مردی مجوسی به نام عبید نسبت دارند، قاضی ابوبکر محمد بن الطیب در کتاب خود «الکشف عن أسرار الباطنیة» و قاضی عبدالجبار در کتابش «تثبیت دلائل النبوة» و علامه مقدسی در کتابش «کشف ما کان علیه بنوعبید» این موضوع را به خوبی و مفصلاً بیان کرده اند.

(2)- الخطط والآثار، ج 1 / 340.

«و در سال 395 بخش‌نامه‌ای دیگر بر مردم قرائت شد که خوردن ملوخیا را که یکی از غذاهای سنتی مصریان بود، فقط به این دلیل ممنوع کرد که معاویه بن ابی سفیان ب به آن علاقه داشت و سبزی معروف جرجیر (ترتیزک) را نیز ممنوع قرار دادند، زیرا حضرت عایشه ل به آن علاقه داشت».

«در ماه صفر همین سال بر تمامی مساجد و داخل و خارج و تمامی دیوارهای جامع العتیق مصر و بر درهای مغازه‌ها و سنگ‌ها و قبرستان و صحرا برای اسلاف دشنام و نفرین نوشته شد و با رنگ‌های مختلف آنها را رنگ‌آمیزی نموده و با طلا نقش کردند»[3].

«شرابخواری، غنا و موسیقی و نوشیدن آبجو عام گشت، مردم به لهو و لعب و خوش گذرانی روی آوردند، در این دوران مردم از بیماری‌ها و بلاهای زیادی رنج می‌بردند، مردم به کاخ سلطنتی هجوم برده و فریاد برآوردند «الجوع الجوع» (گرسنگی رنج می‌بردند گرسنگی) ای امیرالمؤمنین پدر و جد تو با ما چنین نکرده بودند، تو نیز از خدا بترس و برای ما چاره بیاندیش»[4].

«در سال 424 هـ ولیعهد که در آن هنگام هفت سال بیش نداشت سوار بر مرکبی از خیابان‌های آذین شد، مصر عبور کرد و مردم در برابرش تعظیم نموده و زمین را می‌بوسیدند و آن زمان برایش از مردم بیعت خلافت گرفتند»[5].

حکومت سلطان صلاح الدین ایوبی پایان این دوران عجیب و مضحک و فاتحة عهد جدیدی بود، آثار و نشانه‌های مذهب عبیدیان کم کم از مصر رخت برمی‌بست، سنت شکوفا شد و همه جا را فرا گرفت، مدارسی تأسیس شد و علمای اهل سنت در آنها به تدریس علوم شریعت اسلامی پرداختند، رسوبات دوران عبیدیان کم کم محو و ناپدید گشت، در وطن و مرکز خود غریب مطرود و آواره شده بود.

در عصر عبیدیان، اسلام به آزمایشی بزرگ و محنتی عظیم گرفتار بود، به محارم و شعایر الهی هتک حرمت کردند و شریعت اسلامی را بازیچة خود ساختند و به سنت و عقاید اسلام توهین کردند، علمای اهل سنت مقهور و مستضعف و ذلیل بودند، نه حرمت و ارزشی داشتند و نه شوکت و سلطانی، اما گردنکشان، اوباشها و فرومایگان کاملاً آزاد و بی‌مهار بودند، زمین را به فساد کشیده و شر آنان همه جا را فرا گرفته بود و معضل بزرگی ایجاد کرده بودند.

علامه مقدسی در کتاب خود «الروضتین فی اخبار الدوتین» در باره آن دوران چنین می‌گوید:

«از ابتدای حکومت آنان از ذی الحجه 299 هـ تا سال 567 هـ این بلا و مصیبت بر عالم اسلام باقی ماند، در دوران حکومت آنان دشمنان اهل سنت زیاد شدند، بر مردم تسلط یافتند و بر آنها مالیات‌های سنگینی وضع کردند و دیگران نیز به آنها اقتدا نمودند، عقاید صحرانشینان و مرزنشینانی که در مرزهای شام سکونت داشتند همچون «نصرانیه» و «درزیه» و «حشیشیه» را که افرادی جاهل و ساده‌لوح بودند فاسد کردند و آنها را به خود انداختند، فرنگیان نیز در این دوران توانستند که اکثر شهرهای شام و جزیره را اشغال کنند تا این که خداوند با ظهور خاندان اتابکی که سلطان صلاح الدین را به میدان فرستادند بر مسلمانان منت نهاد، آنها سرزمین‌های اسلامی را بازپس گرفتند و شر این دولت را از سر مردم کم کردند»[6].

طبیعی بود که اهل سنت و مؤمنان راستین از این انقلاب سیاسی که انقلابی دینی و اخلاقی در پی داشت، خوشحال شوند، علامه مقدسی که 29 سال قبل از این انقلاب به دنیا آمده و آثار و تبعات آن را مشاهده نموده است، خوشحالی و شادمانی خود را چنین بیان می‌کند:

«آن دولت منقرض شد و با انقراض آن ذلت اسلام نیز در مصر پایان یافت»[7].

(3)- الخطط و الآثار، 2 / 341.
(4)- الخطط و الآثار، 2 / 354.
(5)- الخطط و الآثار، 1 / 355.
(6)- الروضتین فی اخبار الدولتین 1 / 201.
(7)- الروضتین 1 / 201.

علامه حافظ ابن قیم / در کتاب خود «الصواعق المرسلة علی الجهمیة والمعطلة» انتشار و عواقب دعوت باطنیان و سپس از انقراض دولت با دست‌های توانمند نورالدین و صلاح الدین با نیرو و نشاط سخن می‌گوید:

«دعوت آنان در مشرق به خاموشی گرایید و به تدریج در مغرب ظهور کرد و باطنیان قدرت یافتند. و بر بسیاری از شهرها چیره شدند و کم کم به مصر رسیدند و آن را تصرف نموده و قاهره را بنا نهادند و حکام و قضات آنها آشکار به دعوت پرداختند و در زمان آنها رسایل اخوان الصفا، اشارات و شفا و دیگر کتاب‌های ابن سینا تصنیف شد. ابن سینا می‌گوید: پدرم نیز از اهل همین دعوت بود، در زمان آنها سنت و کتب آثار بی‌استفاده ماند و تنها در خفا و به پنهانی مورد استفاده قرار گرفت، شعار دعوت آنها تقدیم و ترجیح عقل بر وحی بود، بر مغرب زمین و مصر، شام، حجاز و عراق استیلا و تسلط حاصل نمودند، با اهل سنت همچون اهل ذمه و معاهدان معامله می‌کردند و حتی اهل ذمه از امنیت، عزت و مقام برتری برخوردار بودند، علمای بسیاری را گردن زدند و بسیاری دیگر از وارثان انبیاء در زندان‌ها جان باختند تا این که سرانجام خداوند در عهد نورالدین و صلاح الدین اسلام و مسلمانان را از شر آنان نجات داد،

نمای درونی ازمسجد صلاح الدین ایوبی

و اسلام از این بلا و عزایی که در انتظارش بود رهایی یافت، و پس از دوران طولانی سرافکندگی و افسردگی سربلند و بانشاط گردید و اهل آسمان و زمین مژده دادند و بدر اسلام که در محاق و تاریکی بود بار دیگر درخشیدن گرفت و نورافشانی کرد، و پس از آن حالت احتضار و جان کندن روحش دوباره به او باز گشت، و خداوند به وسیله بندهٔ خود بیت المقدس را از چنگال صلیب‌پرستان نجات داد و یاوران خدا و رسول به نصرت و یاری دین برخاستند»[8].

کتاب‌هایی که تاریخ آن دوران را ثبت کرده‌اند بیان می‌کنند که عالم اسلام و علی الاخص شام و عراق از این خبر خوش استقبال نموده و نزدیک بود که مسلمانان از خوشحالی و شادمانی بپرند.

کوتاه سخن این که سلطان صلاح الدین از طرفی با ایستادگی و مبارزه در برابر صلیبیان جهان اسلام را از بردگی سیاسی و بی‌بندوباری اخلاقی و فرهنگی و از چنگال‌های غربیان نجات داد و از طرفی دیگر با منحل کردن دولت عبیدیان (فاطمیان) دروازهای فساد راه که با انتشار باطنیت و اسماعیلیت نه تنها مصر بلکه جهان اسلام را تهدید می‌کرد بست و به نابسامانی فکری و عقب گرد اعتقادی و انحلال اخلاقی که در طول سه قرن گریبانگیر عالم اسلام بود پایان داد.

تاریخ اسلام هرگز این دو عمل ارزندهٔ سلطان صلاح الدین را فراموش نخواهد کرد و مسلمانان در هر زمان و مکانی که باشند ممنون این مجاهد دلیر و قهرمان نستوه کُرد هستند.

تاریخ اسلام سلطان صلاح الدین ایوبی را که یکی از نشانه‌های آشکار صلاحیت و جاودانگی است و با دو عمل ارزنده خود که یکی مبارزه با صلیبیان و نجات جهان اسلام از بردگی سیاسی و فرهنگی و بی‌بندوباری اخلاقی و دیگری انهدام دولت عبیدیان (فاطمیان) که جهان اسلام را با انتشار باطنیت و اسماعیلیت تهدید می‌کرد و سه قرن گریبانگیر اسلام بود، هرگز فراموش نخواهد کرد و مردم در هر زمان و مکانی که باشند ممنون این مجاهد دلیر و قهرمان نستوه کُرد هستند.

(8)- الصواعق المرسلة علی الجهمیة و المعطلة 1 / 333 – 334.

سي ای ای هم خپله بستره ترلي!

عبید تنویر

د«واشـــنگټن پوســـت» دراپورلـــه مخـــي دامریکاڅارګره شبکه (سی ای اې) هم په افغانستان کې پریکړه کړې چې خپلې ګڼې مخفي اډې به تړي اوخپل پراخ جال به راټولوي.

که څه هم توره شبکه داپه افغانستان کې دخپل پـوځي ماموریـت دترسره کیدوپـه مفهـوم تعبیـروي اووايي چې پراخ شتون ته یې ډیره اړتیانه لیدل کیږي ؛ خوحقایق برالااولکه لمرروښانه دي چې امریکایانوپه هرډګرکې په افغانسـتان کې ماته ولیدله ، نه یې له یولکوزیـاتومجهزو پوځیـانو اومغـروري تکنـالوجی افغاني اودیني غرورکمزوري اوایل کړ، نه یې شیطاني اواستخباراتي جالونواو وحشتونوکوم کندوورته ډک اوبشپړکړای شو اونه یې هم په ترلینوډالرود امریکا کوم دردچې دوی یې څنګه اټکل کړي وودواکړای شو؛ نوثابتـه شوه چې لـه افغانسـتان څخـه دسی ای اې پـه اصطلاح عقب نشیني دستري مـاتي اوشکست لوی دلیل په ګوته کوي.

دواشنګټن پوست په ویناد سی ای اې ، تګلاره داده ،چـې پـه یـوه هیـوادکې خپـل جـال خپوراوداموـنـه وغوړوي نوترهغوبې بیرته نه ټولوي چې یایې زیاتره موخي اواهداف نه وي ترلاسه شوي اویاهم له جدي ګواښونو اورسواییوسره نه وي لاس اوګریوان شوي ، ولې په افغانستان کې دسی ای اې په څرګندبري کوم دلیل نه ترسترګوکیږي ، ځکه طالبان له یوې ورځي نه بلې ته قوي شوي اودضعف په ځای دقوت اونفوذ خواتـه ګامونـه اخیسـتي اواوس خوداحقیقـت هـم دمنلووړوګرځیـدچې طالبانوپـه پـوځي بریاسـربیره سیاسي خوځښت اوپرمختګ هم پیل اوروان کړاوپه قطرکې یې سیاسي دفتر پرانیستل شو

نوبرینبي داچې توره شبکه په افغانستان کې له جدي ګواښونواوګنوستونزوسره مخ شوي ؛ نوځکه خپله بستره راټولوي اوښایي لدې کارڅخه یې هدف ځان له لوي تباهی څخه ژغورل وي .

دسی ای اې ، مشر«جان برنان» رسنیوسره دخبروپه

مهال له افغانستان څخه دنوموړي شبکې دمراکزوتړلوخبره په ځغرده کوي اووايي چې کيداى شي سي اى اې زياتره مهمې ښکاره اوپټې اډې وتړي اودکارساحه محدوده کړي ، هغه داهم ويلي چې دجاسوسي کارپه افغانستان کې ډيرستونزمن دی ، دده په خبره بايدله مخالفينوسره له مخامخ مبارزي څخه ګته پورته کړل شي.

په ربښتياهم چې دسي اى اې لپاره افغانستان له کړاوونوډک وو، دپخواني تلوالي اوله سياف ډوله اجيرانواوپه غرب کې دروزل شووبګيلانوپرته چې په ښکاره ډول يې دامريکايانو جاسوسي ته ملاوتړله اولادوام ورکوي ، ډيرکم داسې افغانان پيداشول چې دډالرويــــه مقابـــل کـــې دمجاهدينودښـــمني واخلـــي اوخارجيـــانواو امريکايـــانو دطالبانوځـــاى اودتـــګ اوراتګ لاري ګودري وروښيي .

